# ستاسو

# نوی

# ژوندون

# ستاسو

# نوی

# ژوندون

# د مضمونونو ترتیب


| باب | صفحه |
| --- | --- |
| پیژندګلو ستاسو نوی ژوندون | ۱ |
| اولنی قدم | ۲۲ |
| ستاسو د ټولو نه لویه مسئله – ګناه | ۴۷ |
| ستاسو روحانی ترقي | ۷۱ |
| ستاسو بدن | ۱۰۱ |
| ستاسو خاندان | ۱۲۰ |
| ستاسو وخت | ۱۵۴ |
| خپل نعمتونه | ۱۷۷ |

# پېژندګلو
# ستاسو نوی ژوندون

په دُنیا کې تقریباً په یو منټ کښې اووۀ ماشومان پېدا کیږي او د هر یو ماشوم د پېدایښت نه پس د مور او پلار دا پوخ یقین وي چې دا ماشوم به زلمی شي. دې ماشوم +سره د تلو د پاره پښې وي او د کار کولو د پاره لاس وي او د غور او د فکر د پاره ورسره دماغ وي او د خوراک د پاره ورسره خلۀ وي او د هضمیدو د پاره وسره معده وي د پاره د دې چې هغه لوی شي او مضبوط ځوان ترې نه جوړ شي. دا نوی ماشوم په حقیقت کښې یوه معجره وي.

خو یاد ساتئ چې تاسو هم د یوې معجزې نه کم نۀ یئ. اوس تاسو هغه شان نۀ یئ لکه څنګه چې د ایمان راؤلو نه اول تاسو وئ چې څنګه تاسو ایمان راؤړلو ستاسو ټول ژوندون نوی جوړ شو. مقدس کتاب دا ښودنه کوي او وائي.

**که څوک په مسیح کښې وي نو هغه نوی مخلُوق دی، زاړۀ څیزُونه تیر شول، وګورئ، هغه اوس نوی شول.**

(دویم خط د کورنتیانو په نوم ۵: ۱۷)

راځئ چې مونږ په دې خبره باندې ښۀ غور وکړو چې دې "نوی مخلوق" جوړېدلو څۀ مطلب دی؟ لکه څنګه چې خدای پاک يو نوي ماشوم ته د يو لوی بنيادم جوړېدلو د پاره هر يو څيز د ضرورت په مطابق ورکوي نو هم دغه شان هر کله چې تاسو هم د نوي ژوندون شروع کوئ نو خدای پاک په دغه نوي ژوندون کښې تاسو ته مختلف نوي څيزونه درکوي. دغه نوي څيزونه کوم کوم دي؟

# ۱- نوی پيدا ايښت

يو ځلې يو ډېر تعليم يافته سړی چې نامه يئ نيکوديموس ؤ مالک عيسیٰ مسيح له راغی. تاسو د نيکوديموس په حقله بيان په انجيل شريف يوحنا ۳: ۱- ۲۱ کښې لوستلی شئ. نيکوديموس ته عيسیٰ مسيح ووېل:

**رښتيا رښتيا درته وايم، تر څو چې سړی بيا پيدا نۀ شي هغه د خدای بادشاهي ليدلی نۀ شي.**

نيکوديموس د عيسیٰ مسيح په خبره پوه نۀ شو او هغۀ ته يې ووېل: " نو بيا دا څنګه مُمکنه ده چې يو سړے چې بُوډا وي نو هغه به بيا څنګه پيدا شی؟ آيا هغه په دويم ځل دَ مور ګيډې ته

ورننوتی شي څۀ،چه بیا پیدا شي؟" دا خبره یې ورته ډیر په حیرانتیا سره وکړه.

مالک عیسیٰ مسیح ورته جواب ورکړو:

**نو چه زۀ تاسو ته دا وایم چې تاسو له بیا پیدا کېدل په کار دي نو په دې حیرانیږئ مۀ. هوا دیخوا اخوا الوزي، تۀ د دې آواز خو آؤرې خو دا درته نۀ معلومیږي چې دا د کومې راځي اؤ چرته ځي. دغه حال د هر هغه چا دی څوک چې دَ رُوحُ القُدس نه پیدا شوی دی.**

مالک عیسیٰ مسیح دا ښودنه وکړه چې په حقیقت کښې پېدایښت په دوه قسمه دی او هغه داسې چې مونږ په جسماني طور سره د خپل مور او پلار نه پېدا کیږو خو په روحاني طور پېدایښت مونږ ته هغه وخت ملاویږي هر کله چې مونږ په مالک عیسیٰ مسیح ایمان راوړو او هغه خپل خلاصوونکی او مالک منو. د نوي پېدایښت نه اول مونږ په روحاني طور سره مړۀ یو څکه چې په مقدس کتاب کښې خدای پاک دا فرمائي:

**تاسو هم د خپلو قصورونو او د ګناهونو په سبب مړۀ وئ.**

(خط د افسیانو په نوم ۲ : ۱)

هر کله چې مونږ نوی ژوندون حاصل کړو نو بیا مونږ په روحاني طور سره ژوندي کیږو او لکه د یو نوي مخلوق په شان د ژوندون تیرولو جوګه کیږو.

# ۲- نوی او ابدي ژوندون

هر کله چې تاسو په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان لرئ او هغه خپل خلاصوونکی او مالک قبلوئ نو تاسو ته نوی ژوندون ملاویږئ او دغه نوی ژوندون جسماني ژوندون نهٔ دی بلکې دا روحاني ژوندون دی. دا روحاني ژوندون د خدای پاک لهٔ طرف نه یو نعمت دی.

هر کله چې مونږ پېدا شولو نو هم په هغه وخت زمونږ جسماني ژوندون شروع شو او په مرګ سره تر سره کیږي خو دا نوی ژوندون کوم چې مونږ ته ملاو شو دا هیڅ کله هم نهٔ ختمیږي. خدای پاک مونږ ته د تل ژوندون راکړی دی او د دې تل ژوندون مطلب څهٔ دی؟ په دا قسمه څیز زمونږ په وهم او خیال کښې هم نهٔ شي راتلی خو مقدس کتاب دا ښودنه کوي چې دا یو داسې ژوندون دی کوم به چې تل تر تله پورې قایم وي.

رښتیا رښتیا تاسو ته وایم، کوم سړی چې زما خبرو ته غوږ ږدی اؤ په هغه چا باور لري چې زهٔ یې را استولی یم هغه تل عمري ژوندون لري.

(یوحنا ۵: ۲٤)

خدای د دې دُنیا سره داسې مینه وکړله چې خپل (عیسی[١] مسیح) یې هم ورکړو چې هر هغه څوک چې په (مسیح) یې ایمان راؤړي هغه هلاک نهٔ شی خو د تل عُمر ژوندون یا مومي.

(یوحنا ۳: ۱٦)

# ۳- نوی کور

ما ته دا نهٔ ده معلومه چې تاسو کوم ځای اوسیږئ. کېدی شي چې ستاسو یوه ښکلې بنګله وي چې په کښې ښکلې ښکلې او کلاو کلاو کمرې وي یا تاسو په دومره کچه کور کښې اوسیږئ چې د هغې د کوټې چت څاڅي، خو په دې څهٔ؟ ځکه چې ستاسو ژوندون په دې زمکه باندې ډېر لږ دی. یوه ورځ به راشي چې خدای پاک به تاسو خپل نوي کور ته راوغواړي. خو هغه نوی کور چیرته

دی؟ هغه یو ډیر ښایسته ځای دی چې ورته جنت ویلی شي. مالک عیسیٰ مسیح وفرمایل:

**زما د پلار په کور کښې د اوسېدو ډیر ځایونه دی. که چرې داسې نهٔ وی نو بیا به ما تاسو ته ویلي وُو. ځکه زهٔ ځم چې ستاسو د پاره هلته ځای تیار کړم. اَؤ که هلته زهٔ لاړ شم اؤ تاسو ته ځای تیار کړم نو په خپله به بیا راشم اؤ تاسو به د ځان سره بوزم، ځکه چې چیرته چې زهٔ یم هلته به تاسو هم یئ.**

(یوحنا ۱٤: ۲- ۳)

مُقدس کتاب خو د جنت په حقله ډیره ښودنه نهٔ کوي او نهٔ زمونږ دا محدود ذهن د داسې قسمه ځای په حقله سوچ کولی شي خو بیا هم دومره ښودنه ضرور کوي چې په جنت کښې به نهٔ خو تیارهٔ وي او نهٔ ژړا، نهٔ درد او نهٔ مرګ. هلته به ډیره خوشحالي وي او مونږ به هلته تل تر تله پورې د خپل خلاصوونکي مسیح سره اوسیږُو. آیا تاسو داسې ښایسته ځای ته تلل نهٔ غواړئ؟

# ۴- نوی فطرت

یوه ورځ شیریني نومې ماشومې ته په ځنګل کښې د ګیدړ یو بچی پهٔ لاس ورغلو. هغې هغه د ګیدړ بچی کور ته راوستلو او د

خوراک د پاره به يې ورته پېځ او وريجې ورکولې. د ګيدړ دا بچې به ورځ په ورځ غټېدلو. يوه شپه د نيمې شپې نور ګيدړان د ځنګل نه راووتل او چغې يې شروع کړلې. چې د شيرينې دې ګيدړ د نورو ګيدړانو چغې واؤرېدلې نو په ټوپونو سر شو او پنجې راښکل ئې شروع کړل. کۀ چيرې په دغه موقع باندې د شيرينې پلار ورته ور کلاؤ کړی نۀ وی نو شيرينه به ګيدړ د ډيرې غصې نه زخمي کړې وه. خو چې ځنګه يې ورته ورکلاؤ کړلو نو دستي هغه وتښتيدلو او د نورو ګيدړانو سره ملاؤ شو.

مونږ ګيدړ يا سپي ته لکه د بُنيادم پۀ شان خوراک ځښاک ورکولی شُو خو د دې پۀ باوجود هم هغه ګيدړ وي ځکه چې د هغۀ فطرت به د ګيدړ وي. هر کله چې مونږ پۀ جسماني طور سره پېدا کيږو نو مونږ د ګناه ککړ فطرت سره پيدا کيږوُ.

**هيڅ څوک صادق نشته، يو هم نشته!**

(خط د روميانو په نوم ۳: ۱۰)

**ځکه چې ټولو ګناه کړې ده او د خدای د لوئي نه محروم دي.**

(خط د روميانو په نوم ۳: ۲۳)

مونږ اکثر دا کوشش کوو چې د ګناه دغه اصلي فطرت يعنې نفس کوم چې په مونږ کښې دی ښۀ جوړ کړو يا ئې د چا په مدد

سره پتهوو. خو کهٔ مونږ هر څهٔ هم وکړو زمونږ دا فطرتي حالت به هم هغه شان وي او چې موقع په لاس ورځي نو مونږ به په څهٔ نا څهٔ غم کښې اخته کوي.

خو هر کله چې مالک عیسیٰ مسیح د خپل خلاصوونکي او د مالک په طور سره قبلوو نو خدای پاک مونږ ته یو نوی طبیعت راکوي.

هغهٔ مونږ سره قیمتي او ډیرې لوئې وعدې وکړلې چې د هغو پهٔ وسیله تاسو د هغې نفساني خرابۍ نه چې په دُنیا کښې دي بچ شئ او د خدایٔ پهٔ شان صفتونه ولرئ.

(دویم خط د پطروس په نوم ۱: ٤)

تاسو زوړ انسانیت د هغو عملونو سره لرې کړی دی او نوی انسانیت مو اغوستی دی چې د معرفت د حاصلولو د پاره د خپل خالق په شکل نوی کیږي.

(خط د کولوسیانو په نوم ۳: ۹- ۱۰)

هر کله چې مونږ ته خلاصون ملاویږي نو هله خدای پاک زمونږ ګناهونه بخښي. خط د افسیانو په نوم ۱ : ۸ ولولئ:

**مونږ ته د مسیح د وینې په وسیله خلاصون یعنې د ګناهونو معافي د هغهٔ د هغه فضل د دولت په مطابق حاصله ده.**

**لکه څنګه چې د لمر خاتهٔ نه لمر پریواتهٔ لرې دی دغه شان هغهٔ زمونږ ګناهونه زمونږ نه لرې کړل.**

(زبور شریف ۱۰۳: ۱۲)

لهٔ دې نه زیاته غوره خبره دا ده چې خدای پاک مونږ باندې خپل پاک روح نازلوي او د خدای پاک روح مونږ ته یو نوی طبیعت راکوي او دغه نوی طبیعت د ګناه نه نفرت کوي لکه څنګه چې خدای پاک د دې نه نفرت کوي او ښهٔ والی او نیکي خوښوي لکه څنګه چې خدای پاک خوښوي. خدای پاک وفرمایل:

**زهٔ به په تاسو پاکې اوبهٔ واچوم چې تاسو ما ته پاک او قبلیدونکي شئ. زهٔ به تاسو د بُت پرستئ او د پلیتوالي نه پاکوم او یو داسې نوی زړهٔ به درکړم چې د تابعدارئ خواهش به کوي. زهٔ به خپل روح په تاسو کښې واچوم چې ستاسو خیالونه بلکل پاک شي او تر څو چې ستاسو رضا زما د حُکمونو پوره کول وي.**

(حزقیال ۳۶: ۲۵- ۲۷)

خو یاد ساتئ چې په عیسیٰ مسیح باندې د ایمان راؤړولو مطلب دا نۀ دی چې زړنې زمونږ زوړ فطرت په هغه ساعت ختم شي بلکې هغه په مونږ کښې اوس هم اوسیږي خو ورسره د خدای پاک نوی فطرت هم په مونږ کښې اوسیږي. خو هر کله چې مونږ د دې نوي فطرت په رهنمایئ کښې ژوندون تیروو نو په ګناه باندې به غالب راځو.

# ۵- نوی مالک

آیا تاسو په دې خبره باندې غور کړی دی چې مونږ بیا بیا دا خبره کوو چې تاسو مالک عیسیٰ مسیح خپل خلاصوونکی او مالک قبول کړی دی؟ د هغې وجه دا ده چې هغه اوس ستاسو نوی مالک دی د خلاصون موندلو نه اول شیطان ستاسو مالک ؤ او چې څۀ به درته شیطان ویل هم هغه به تاسو کول او ستاسو ژوندون د خپلې مرضئ په مطابق نۀ وو بلکې تاسو پۀ حقیقت کښې د شیطان غلام وئ. خو اوس د چا یئ؟ اوس تاسو په پوره طور سره د مالک عیسیٰ مسیح یئ. اوس به تاسو هم هغه څۀ کوئ کوم څۀ چې هغه تاسو ته وائي. ډیر نوي عیسایان ایمانداران وائي چې مونږ ته څۀ داسې اصول وښایئ چې مونږ ته ترې نه پته ولګي چې مونږ له څه کول پکار دي او څۀ نۀ. یاد ساتئ چې خدای پاک تاسو له چې کوم نوی ژوندون در کړی دی هغه د دې محتاجه نۀ دی چې

ږني داسې وکړه یا داسې، خو بنیادي خبره دا ده چې زما مالک څۀ غواړي چې زۀ ئې وکړم؟ هر کله چې هم سهاري د خوبه بېدار شئ نو د مالک نه دا پوښتنه وکړئ چې نن زۀ څۀ وکړم چې کله هم درباندې څۀ تکلیف راشي او خامخا به درباندې راځي. نو د نورو سره د مشورې کولو نه اول د مالک نه پوښتنه وکړئ چې اوس ما له څۀ کول پکار دي.

د خپل نوي ژوندون پۀ حقله یو خیال وکړئ چې ستاسو په زړۀ کښې یو تخت دی په کوم چې بادشاه کښېناستی شي. هلته صرف یو تخت دی او په یو وخت کښې پۀ هغې باندې صرف یو بادشاه کښېناستلی شي. او کۀ چیرې په هغه تخت باندې ګناه یا شیطان یا ستاسو خپل ذات ناست وي نو ډیر زر به تاسو په مصیبت کښې اخته شئ. خو کۀ چیرې تاسو مالک عیسیٰ مسیح د خپل ژوندون بادشاه جوړوئ نو تاسو څومره بختور یئ.

## ۲- نوی مدد ګار

اوس تاسو په خپل زړۀ کښې څۀ سوچ کوئ چې ما ته خو پته نۀ وه چې ږني عیسائیت دومره ګران مذهب دی؟ دا خو ما ته پته نۀ وه چې د زوړ او د نوي نفس به په خپلو کښې جنګ وي او زما په خیال خاطر کښې هم دا خبره نۀ راتلله چې زۀ به خپل خواهشونه او

سوچونه او خپلې ټولې منصوبې پرېږدمه او مالک عیسیٰ مسیح به د خپل ژوندون بادشاه جوړوم!

خدای پاک هیڅ کله هم دا لوظ نهٔ دی کړی چې ږنی د عیسائیت ژوندون به د ګلونو تخم وي. خدای پاک ته د دې پته وه چې دا لاره به تا ته ګرانه ښکاري نو ځکه هغهٔ یو خاص کار وکړو هغهٔ خپل روح د دې د پاره راولیږلو چې په تاسو کښې استوګنه وکړي.

**آیا تاسو نهٔ یئ خبر چې ستاسو بدن د روح القدس کور دی چې په تاسو کښې اوسي او تاسو ته د خدای د طرف نه درکړی شوی دی؟**

**(اول خط د کورنتیانو په نوم ۶: ۱۹)**

آیا تاسو د خدای پاک روح ښه پېژنئ کوم چې په تاسو کښې اوسیږي او هم د هغهٔ خپل روح کوم چې په تاسو کښې استوګنه کوي؟ هر کله چې د خدای پاک د کلام تلاوت کوئ نو دغه وخت کښې به د هغهٔ پاک روح تاسو په کلام پاک باندې پوه کوي. او چې کله څهٔ مصیبت یا تکلیف درباندې راشي نو هغه به تاسو له تسلي درکوي او ستاسو رهنمائي به کوي. هیڅ کله به هم تاسو یوازې نهٔ پرېږدي بلکې دغه پاک روح به ستاسو لکه د استاذ په شان وي.

هغه به تاسو ته قوت درکوي د پاره د دې چې تاسو په ګناه او په آزمېښت او پته تکلیف او په ویره باندې غالب راشئ.

**خو کله چې د حقیقت روح راشي**

**نو هغه به تاسو ته دا ټول حقیقت وښائي.**

**(یوحنا ۱۶: ۱۳)**

**خو مدد ګار یعنې روح القدس چې به پلار زما په نوم را استوي**

**هغه به تاسو ته هر څۀ ښايي.**

**(یوحنا ۱۴: ۲۶)**

## ۷- نوی حالت

مونږ اول ولوستل چې څنګه مونږ مالک عیسیٰ مسیح خپل خلاصوونکی او مالک قبلوو نو خدای پاک زمونږ ګناهونه معاف کوي. دا یوه ډیره ښۀ خبره ده. خو لۀ دې نه زیات یو بل غوره کار هم خدای پاک کوي. د خلاصون موندلو په وخت خدای پاک مونږ عیسیٰ مسیح په صداقت کښې شاملوي. د هغه وخت نه واخلئ تر اوسه پورې خدای پاک مونږ قبلوي لکه څنګه چې عیسیٰ مسیح ئې قبلوي. نو څنګه چې هغه عیسیٰ مسیح ته ګوري هغه مونږ ته هم ګوري. اوس مونږ د عیسیٰ مسیح سره بلکل تړلي یو. اوس

خدای پاک مونږ ته په عیسیٰ مسیح کښې ګوري او مونږ هغهٔ ته قبلیدونکي شولو.

**هغه چا چې ګناه نهٔ پیژنده خدای هم هغه زمونږ د پاره ګناه وګڼلو چې مونږ په هغهٔ کښې د خدای صداقت شو.**

**(دویم خط د کورنتیانو په نوم ۵: ۲۱)**

خدای پاک یو پاک ذات دی. هغه ګناه ته نهٔ شي کتلی. د هغهٔ شریعت وائي چې "د ګناه مزدوري مرګ ده" (حزقیال ۱۸: ۴) خدای پاک مونږ سره مینه کوي په دې وجه هغهٔ زمونږ په بدل کښې مالک عیسیٰ مسیح د مرګ د پاره راولیږلو. هغهٔ زمونږ د ګناهونو سزا په خپل ځان وزغمله او اوس چې مونږ په هغهٔ باندې ایمان راوړو نو مونږ د سزا نه بچ کیږو. مونږ د خپل ځان د بچ کیدو د پاره په خپله هیڅ هم نهٔ شو کولی او نهٔ څهٔ داسې یوه لاره شته چې مونږ په هغې باندې عمل وکړو او د هغې په سبب مونږ د خدای پاک په وړاندې ودریدلی شو بلکې هغهٔ زمونږ ګناهونه وبخښل او مونږ یې د عیسیٰ مسیح په صداقت کښې شامل کړلو.

**ما هر څهٔ پریښودل او هغه ګندګي ګڼم چې مسیح ومومم او په هغهٔ کښې وموندلی شم نهٔ چې د خپل صداقت سره چې د شریعت په وسیله ده بلکې د هغه صداقت په وسیله کوم چې په مسیح د ایمان**

**راؤړلو په وسیله دی، او دا صداقت د خدای د طرفه دی چې په ایمان حاصلیږي.**

**(خط د فیلیپیانو په نوم ۳: ۸- ۹)**

# ۸- نوی نوم

چې کله تاسو پېدا شوئ نو ستا مور او پلار په تا نوم کیښودلو. کیدی شي چې هغوئ درته د ډیری مینې نه تورا یا ببلو یا داسې څۀ بل نوم ویلو. خو بیا هم هغوئ په تاسو باندې یو خاص نوم کیښودلو کوم چې ستاسو د راتلونکي ژوندون د پاره ډیر ضروري وو. کېدې شي چې دغه نوم عبدالطیف یا فضل ودود یا نرګسه ۀ. خو تاسو یو ایماندار جوړ شوئ نو په تاسو خدای یو بل نوم کیښودو.

په مکاشفات ۲: ۱۷ کښې خدای پاک ایماندارو ته یو بل نوم ورکړی دی.

**هر هغه څوک چې بریالی شي نو زه به هغۀ له پټ شوي من او یو سپین کاڼې ورکړم او په هغه کاڼې به یو نوی نوم لیکلی وي چې بې له هغه چا نه چې ورکولی شي، بل هیچا ته به معلوم نۀ وي.**

**(مکاشفات ۲: ۱۷)**

خو هغه نوم څۀ دی؟ ما ته هم دا نۀ ده معلومه ځکه چې مقدس کتاب وائي چې د دغه نوم په هکله چا ته هم معلومات نشته دی خو بیا هم دا پوخ یقین وساتئ چې په آسمان کښې یو بل نوم ستاسو د پاره ساتلی شوی دی.

ځینې کسان چې کله ایمان راوړي یا بپتسمه اخلي نو دا فکر کوي چې اوس په مونږ باندې د زوړ نوم په ځای د مقدس کتاب نه بل نوم کیښودل پکار دي. خو یاد ساتئ چې دا ضروري نۀ ده. خدای پخپله زمونږ نوم بدلوي او هغه نوم به مونږ ته د قیامت په ورځ معلومیږي، اوس نه.

په دې دنیا کښې خپل نوم بدلول نۀ دي پکار، اصلي ایماندار جوړیدل په کار دي. تش نوم بدلول هیڅ فائده نۀ لري. یو ځلې ما په بازار کښې وراستۀ ممپلي واخیستل. ما فکر کولو چې دا ممپلي ډیر ښۀ دي ځکه چې په ظاهره باندې هغه ډیر غټ غټ او ښۀ ښکاریدل. خو چې ما څنګه هغه مات کړلو نو په کښې دننه نه سخا وو. زۀ ډیره خفه شوم ځکه چې دوکاندار هم راته د هغې ډیر صفت کړی ؤ خو بیا هم هغه ښۀ ممپلي نۀ وو. نو هم دغه شان ډیر خلق دا خیال کوي چې ږنې بپتسمه ئې اخیستلې ده یا په یو عیسائي خاندان کښې پیدا شوی دی نو په دې سبب هغه عیسائي دی. خو دا رښتیا نۀ ده. بلکې هغه خلق کوم چې د زړۀ د اخلاصه

مسیح خپل مالک او خپل خلاصوونکی قبلوي او د خدای پاک روح په هغوئ باندې نازلیږي هغوئ ته عیسایان ویل په ځای دي.

ډیرو کسانو د عیسائیت په وجه ډیر تکلیفونه وزغمل تر دې پورې چې په دې وجه مړهٔ هم شول. دا کسان زمونږ د پلار نیکهٔ د جماعت نه وو.

ډیره موده مخکښې یو بزرګ چې نامه یې پولیکارپ وه هغه حکومت په دې وجه ژوندی سوزولی ؤ چې هغه په عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړی ؤ. د سوزولو حکم جاري کوونکو ورته موقع ورکړله چې "د عیسیٰ مسیح نه انکار وکړه نو مونږ به دې نهٔ سوزوو." خو پولیکارپ ورته جواب ورکړلو چې "زهٔ د اتیا کالو راسې د مسیح خدمت کوم او په دې دومره عمر کښې هغهٔ ما سره هیڅ کله هم بې وفائي نهٔ ده کړې نو بیا څنګه زهٔ د هغهٔ نه مخ واړوم؟"

نهٔ یوازې د مغربي ملکونو عیسایانو خلقو د عیسیٰ مسیح د پاره خپل ځانونه قربان کړل بلکې د پاکستان او د هندوستان ډیرو عیسایانو ایماندارو هم د خپل ایمان د خاطره شهادتونه قبول کړل. لکه مثال په طور د فتح ګړه دهوکل پرشاد او د هغهٔ ښځې او څلور واړو ماشومانو ته چې کله وویلی شول چې تاسو د عیسیٰ مسیح نه انکار وکړئ. نو دهوکل پرشاد ورته جواب ورکړلو: "زما د ژوندون مطلب بیا څهٔ دی چې زهٔ د عیسیٰ مسیح نه

په کښې انکاري شم؟ او ما چې د کله نه هم په عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړی دی د هغې ورځې نه واخلئ تر نن ورځې پورې ما د هغهٔ نه انکار نهٔ دی کړی." او چې د وخت حاکمانو د هغهٔ دا خبره واوریدله نو سمدستي یې د هغوئ سرونه په تورې سره قلم کړل.

چې څوک درته عیسائي وائي یو په دې خبره باندې هیڅ کله هم مهٔ شرمیږئ. کهٔ چیرې تاسو یو ریښتونی عیسائي یئ نو بیا په دې مهٔ شرمیږئ چې څوک درته عیسائي وائي.

**بختور دي هغوئ چې د خدای د رضا د پاره ربړولي کیږي، د آسمان بادشاهي د هغوئ ده.**

(متی ۵: ۱۰)

# ۹- نوی خاندان

هر کله چې ستاسو ملاقات د چا نا آشنا سړي سره کیږي نو تاسو ترې نه څهٔ پوښتنه کوئ؟ تاسو ترې نه دا معلومات کوئ چې تاسو د کوم ځای یئ؟ ستاسو پلار څهٔ کار کوي؟ ستاسو څو وروڼه او څو خویندې دي؟ د هغې وجه دا وي چې خاندان د بنیادم د پاره ډیر ضروري وي او د خاندان خلق مونږ سره مینه کوي او چې کله هم په مونږ څهٔ تکلیف راشي نو بیا هغوئ زمونږ مدد کوي.

چې کله تاسو په عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړلو او هغه مو مالک قبول کړلو نو تاسو د یو لوی خاندان سره شریک شوئ. او اوس په هر یو ملک کښې ستاسو وروڼه او خویندې شته دي. په دوئ کښې خو ځینې پنجابي وائي چې د هغې نوم به تاسو چیرې نهٔ وي آوریدلی خو بیا هم هغوئ ستاسو دي او تاسو د هغوئ یئ. د هغو ایماندارو پلار څوک دی؟ مقدس کتاب په دې حقله وائي:

خو کومو خلقو چې قبول کړو هغوئ ته ئې دا حق ورکړو چې د خدای اولاد شي یعنې هغوئ چې د هغهٔ په نامه ایمان راوړي.

(یوحنا ۱: ۱۲)

هغهٔ خو خپل زوی هم پرې نهٔ ښودو او زمونږ ټولو د پاره یې قربان کړو نو د دې بخښنې سره به نور ټول څیزونه رانهٔ کړي څهٔ؟

(خط د رومیانو په نوم ۸: ۳۲)

زما خدای به ستاسو هر حاجت د خپل بې پایانه دولت په مطابق د عیسیٰ مسیح په وسیله پوره کړي.

(خط د فیلیپیانو په نوم ٤: ۱۹)

# ۱۰- نوی حفاظت

کله کله مونږ په اخبارونو کښې په دا قسمه بیان ګورو چې :

زۀ خپل زوی چې نامه يې طارق پرويز ده د نافرمانئ په سبب د خپل کور نه وباسم. زۀ د آينده د پاره د هغۀ د هيڅ قسمه کارونو او د عمل ذمه دار نۀ يم. خالد پرويز پلار د طارق پرويز.

دا څومره د افسوس خبره ده چې يو زوی د خپل عمل په وجه د خپل خاندان د پاره د بدنامي سبب جوړيږي تر دې پورې چې د خپل خاندان خلق ترې نه هم لرې تښتي او د خپل کور نه ئې وباسي او د کور دروازې ئې پرې بندې کوي.

چې کله هم مونږ د زړۀ د اخلاصه مالک عيسیٰ مسيح باندې ايمان راوړو او هغه مالک قبلوو نو مونږ د خدای پاک په خاندان کښې شمېرلی شو. په دې موقع خدای پاک زمونږ سره يو زبردست لوظ کوي. هغه فرمائي:

څوک چې ماله راځي هغه به زۀ هيڅ کله ونۀ شړم.

(يوحنا ٦: ٣٨)

آيا د دې نه مراد دا دی چې ږنې ښنګه مو چې زړۀ غواړي هغه شان ژوندون تيرولی شو؟ خبره خو دا ده چې مونږ د ګناه د غلامئ نه آزاد شولو. مونږ خو آزاد شولو چې د خدای رضا پوره کړو. خو مونږ به هغه څوک چا چې زمونږ له خاطره ژوندون ورکړلو

**نهٔ خفه کوو بلکې هم هغه کارونه به کوو چې د هغې په سبب د هغهٔ پاک نوم، عزت او لوئي ومومي.**

# اول باب

# اولنی قدم

زما خوږو ایماندارو، یاد ساتئ چې د مخکښې په نسبت اوس تاسو په یوې نوې لار باندې قدم پورته کړی دی. تر اوسه پورې به تاسو هغه څهٔ کول چې څهٔ به مو زړهٔ غوښتل او په حقیقت کښې چې څوک هم داسې کوي نو هغوئ د شیطان په لار باندې ځي او دغه لار دوزخ ته تلې ده. خو چې په کومه ورځ تاسو مالک عیسیٰ مسیح خپل خلاصوونکی او مالک قبول کړو نو تاسو خپله لاره بدله کړله . اوس تاسو په یوه نوې لار باندې روان شوئ او چې څوک هم په دې لاره ځي نو د هغوی بادشاه المسیح دی او دا جنت ته تلې ده.

دا یوه ډیره ضروري خبره ده چې د اوس نه عیسیٰ مسیح ستا بادشاه وي. مالک المسیح د خدای پاک ژوندی کلام دی او مقدس کلام د خدای پاک لیکلی کلام دی. نو دا یوه ضروري خبره ده چې دا دواړه ستاسو د ژوندون هر یو کار په خپل اختیار کښې واخلي. د سائیکل د پایې مثال واخلئ. د پایې هغه منځنئ حصه په کومې پورې چې د تیلو تهول تارونه جوړ شوي وي په حقیقت کښې دغه یو کار کوونکی څیز دی او هم دا هغه برخه ده په کومه چې د سائیکل پایه ګرزي. کهٔ چیرې دغه مقدس کتاب ستاسو د

ژوندون مرکز شي نو بیا به ستاسو ژوندون ډیر په ښه طریقې سره روان شي او ستاسو د ژوندون هر یو کار به لکه د تارونو په شان د هغه مرکز نه وزي. کۀ هغه خوشحالي وي او کۀ نور کارونه، ستاسو جسماني ژوندون وي او کۀ روحاني ژوندون، کۀ ستاسو جذبې وي او کۀ د کور یا د خاندان نور کارونه وي او یا کۀ څۀ فیصله کول وي یا څۀ ذهني سوچ وي، دا هر څۀ کۀ د مقدس کتاب په مطابق کیږي نو ستاسو د ژوندون په هر یو کار کښې به کامیابي وي.

پولوس رسول یو ډیر لوی او عظیم مبشر ؤ. هغه کۀ په هر خوا تللو نو دا تبلیغ به یې کولو چې کۀ څوک هم په عیسیٰ المسیح باندې ایمان راوړي نو د خپلو ګناهونو نه به خلاصون ومومي. نو څکه د بیلو بیلو قبیلو خلقو پرې ایمان راوړلو او هم دغه کسان وو کومو چې په اول ځل ایمان راوړلو او دغو کسانو ته مونږ د اولني جماعت خلق وایو. پولوس رسول چې کله د تسالونیکیانو په نوم خط دغو نوو ایماندارو ته ولیکلو نو هغۀ ورته وویل چې کله هغوي ایمان راوړلو نو هغوئ دوه کارونه وکړل:

۱- تاسو--- راواوړیدئ

۲- او خدای ته راوګرزیدئ

د دې د پاره چې د ژوندي او حقیقي خدای عبادت وکړئ.

(اول خط د تسالونیکیانو په نوم ۱: ۹- ۱۰)

مونږ اوس دا خبره زده کوو چې د دې دوه کارونو معنیٰ څۀ ده.

# ۱- د خلاصون اقرار

د نوي ایماندار په حیثیت ستاسو د ټولو نه اولنی قدم دا دی چې تاسو په اوچت آواز سره د خپل عیسائي کېدو اقرار وکړئ. په مقدس کلام کښې فرمائي:

کۀ ستا په خلۀ دا اقرار چې عیسیٰ مالک دی او په زړۀ کښې دې دا ایمان وي چې خدای هغه د مړو نه راپاڅولو نو تۀ به خلاصون بیا مومې.

(خط د رومیانو په نوم ۱۰: ۹)

د عیسیٰ مسیح او د مقدس کتاب د مرکز جوړولو مطلب دا دی چې د دې نه علاوه پاتې هر یو څیز تاسو پرېښودلو ځکه چې مقدس کتاب وائي:

یو غلام هم د دوو مالکانو خدمت نهٔ شي کولی. یا خو به هغه د یو نه کرکه کوي او د بل سره مینه او یا به د یو وفادار وي او د بل به هیڅ خیال نهٔ ساتي. تاسو د خدای او د دولت دواړو یو ځای خدمت نهٔ شئ کولی.

(متی ٦: ٢٤)

عیسایان صرف او صرف د خدای پاک عبادت کوي. د هغهٔ د عبادت د پاره مونږ له هیڅ قسمه ظاهري رسمونه نهٔ دي کول پکار ځکه چې خدای پاک چې کوم قسمه عبادت خوښوي د هغې تعلق د زړهٔ سره دی.

(یوحنا ٤: ٢٤)

په دې کتاب کښې به مونږ ستاسو د مدد کولو کوشش کوو چې لکه څنګه چې د تسالونیکیانو ایماندارانو د ژوندي او رښتوني خدای عبادت وکړلو نو هم هغه شان تاسو هم وکړئ.

## ٢- د خلاصون یقین

اوس به شیطان ځکه په تاسو باندې حمله کوي چې تاسو یو ایماندار یئ او کېدې شي هغهٔ هم د اول نه کوشش شروع کړی وي

چې تاسو د خدای پاک د لارې نه واړوي او ګمراه دې کړي. خو کۀ چیرې هغۀ لاتر اوسه پورې داسې نۀ وي کړي نو بیا بیدار اوسئ، لکه څنګه چې هغۀ بې بي حوا له دوکه ورکړې وه نو هم هغه شان به تاسو له هم د دوکې درکولو کوشش کوي او په څۀ آزمیښت کښې به دې ګیروي، او دا کوشش به کوي چې د ګناهونو نه د خلاصون په حقله ستاسو په زړۀ کښې شک پیدا کړي. کیدې شي چې هغه ستاسو په زړۀ کښې قسما قسم شکونه او سوالونه پیدا کړي یعنې:

* تا ته دا څنګه معلومه ده چې د ګناهونو نه خلاصون درته ملاؤ شو؟
* او دا خیال درته څنګه راځي چې دا خلاصون درته مفت ملاؤ شو؟
* چیرته په غلطه لاره خو نۀ یئ روان؟ آیا ته خپل ځان له دوکه خو نۀ ورکوې؟
* څنګه یو کس دا پوخ یقین کولی شي چې هغه د تل ژوندون لري؟

د دې سوال په حقله درې خبرې د دې شهادت ورکوي:

الف: د خدای پاک د کلام لوظ

ب: د نوو ایماندارو په ژوندون کښې چې کومه تبدیلي راځي

ج: د پاک روح باطني ګواهي

## الف: د خدای پاک د کلام لوظ

دا خط تاسو ته دا یقین درکوي چې تاسو د تل ژوندون لرئ.

(اول خط د یوحنا په نوم ۵: ۱۳)

**رښتیا رښتیا تاسو ته وایم، کوم سړی چې زما خبرو ته غوږ ږدي او په هغه چا باور لري چې زهٔ ئې راستولی یم هم د تل عمري ژوندون لري.**

(یوحنا ۵: ۲٤)

آیا تاسو د عیسیٰ مسیح کلام واورېدلو؟ تاسو په هغهٔ باندې ایمان راوړی دی؟ کهٔ چیرې د دې دواړو سوالونو جوابونه مو په "هو" کښې وي نو بیا دا یاد لرئ چې تاسو د تل ژوندون لرئ. دا ئې نهٔ دي ویلې چې تاسو ته به په راتلونکي وخت کښې ابدی ژوندون ملاؤ شي، او نهٔ دا چې ږنې له تاسو نه به یو ډیر ښهٔ او نیک بنیادم جوړ شي یا به ښهٔ ډیره دعا کوئ نو هله به تاسو د تل ژوندون حقداره شئ، بلکې دا چې تاسو ته د تل ژوندون ملاؤ شوی دی او اوس هم په دې وخت تاسو هغه لرئ او دا کار تر سره شوی دی. کهٔ چیرې تاسو دا پورتني دوه آیاتونه په یاده نهٔ وي یاد کړي نو هم

دستي ئې یاد کړئ او چې کله هم شیطان ستاسو په زړهٔ کښې د خلاصون په حقله څهٔ شک پېدا کوي نو د دغو آیاتونو تلاوت کوئ.

## ب: د نوو ایماندارانو په ژوندون کښې چې کومه تبدلي راځي

**کهٔ څوک په مسیح کښې وي نو هغه نوی مخلوق دی، زاړهٔ څیزونه تیر شول، وګورئ، هغه اوس نوي شول.**

(دویم خط د کورنتیانو په نوم ۵: ۱۷)

اوس تاسو یو نوی بنیادم یئ او چې کوم نوی ژوندون تاسو ته ملاؤ شوی دی هغه باطني او روحاني ژوندون دی. خو دا ژوندون ښکاره کول پکار دي د پاره د دې چې خلق ستاسو په ژوندون کښې دغه بدلون ووینې.

د خلاصون موندلو نه اول نهٔ خو چیرته ستاسو په زړهٔ کښې دا خیال راغلی ؤ او نهٔ درته پته وه چې د خدای پاک خدمت څنګه کول پکار دي یا مونږ د هغهٔ نه څنګه دعا وغواړو. اول خو تاسو خود غرضه وئ او صرف خپل ځان مو خوشحالول غوښتل خو اوس به تاسو هغه کار کوئ په کوم سره چې مالک خوشحالیږي.

د دې نه مخکښې به ستاسو ټولې خبرې د دنیا په باره کښې وې او صرف د دنیاوي څیزونو په باره کښې به مو سوچ کولو خو

اوس به تاسو د خپل مالک په باره کښې خبرې اترې کول غواړئ او د هغهٔ حمد و ثناه به کوئ. کهٔ چیرې دا ټولې خبرې ستاسو په زړهٔ کښې راځي نو تاسو ته یقین ساتل پکار دي چې تاسو ته خلاصون ملاو شوی دی.

کیدی شي چې ستاسو په زړهٔ کښې دا خیال راځي چې د خلاصون موندلو نه اول خو زهٔ دومره بد نهٔ وم او نهٔ مې چیرته لوی لوی ګناهونه کړي وو تر دې پورې چې خلقو سره مې ښهٔ اخلاق هم ساتل او د غریبانانو خیال به مې هم ساتلو. کیدی شي چې تاسو په خپل ځای رښتیا وایئ خو بیا کهٔ چیرې تاسو خپل ژوندون ته د خدای پاک په نظر سره وګورئ نو خدای پاک وائي چې هر کله چې څوک غیر ایماندار نیک عملونه کوي نو هغه د خدای پاک په نظر کښې لکه د سخا کپړو په شان وي. (یشعیاه ۲۴: ۲) په دې خبره باندې د یو بل مثال په ذریعې سره غور وکړئ.

فرض کړه چې تاسو ډیر سخت تږي شوي یئ. تاسو چا ته وویل چې لږې شان اوبه ما له راکړه نو هغهٔ درته د جګ نه اوبه په ګلاس کښې در واچولې. دغه اوبهٔ بلکل پاکې وې خو چې په کوم ګلاس کښې ئې واچولې هغه سخا ؤ، په کښې سخا خاوره پرته وه. آیا تاسو به په هغه سخا ګلاس کښې دغه اوبهٔ وڅښئ؟ نه، هیڅ کله هم نه! حالانکې اوبهٔ صفا دي خو ګلاس سخا دی. نو بې شکه چې لهٔ دې نه مخکښې چې تاسو کوم نیک عملونه کړي وو هغه په

داسې ژوندون کښې وشول کوم چې په ګناه کښې مړۀ وو چې د خدای پاک داسې نیک کارونه یا عملونه خوښ نۀ دي او نۀ ئې قبلوي. خو اوس چې به کوم نیک عملونه تاسو کوئ نو هغه به د خپل نوم د کولو د پاره نۀ کوئ بلکې هغه به د خدای پاک د لویئ د پاره کوئ.

## ج: د پاک روح باطني ګواهي

کوم وخت چې تاسو خلاصون ومونډلو نو پاک روح ستاسو په زړۀ کښې د اوسېدلو د پاره راغی. په مقدس کلام کښې دا خبره راځي:

**او کۀ څوک د مسیح روح نۀ لري نو هم هغه د هغۀ نۀ دی....**

**د خدای روح زمونږ د روح سره هم دا وائي**

**د دې ګواهي د پاره چې مونږ د خدای بچي یو.**

**(خط د رومیانو په نوم ۸: ۹، ۱۶)**

د پاک روح کار به دا وي چې هغه به تاسو ته دعا کول ښائي او تعلیم به درته درکوي او د ګناه په باره کښې به دې قائل کوي او ستاسو رهنمائي او مدد به کوي. او د دې په باره کښې به درته زه دومره ووایم چې دا نۀ ده چې ږنې تاسو به د پاک روح څۀ آواز واورئ یا به ئې په خوب کښې ووینې یا به ئې په رویا کښې ووینئ.

اکثر پاک روح د ایماندارانو په هغه وخت مدد کوي کله چې هغه د خدای پاک د کلام تلاوت کوي یا ئې هغې ته غوږ ایښودی وي. پاک روح به هیڅ کله تاسو ته څۀ داسې هدایت نۀ درکوي کوم چې د خدای پاک د کلام خلاف وي!

**څوک چې د خدای په حکمونو عمل کوی نو هغه په خدای کښې قایم وي او خدای په هغۀ کښې، او هم دغه شان مونږ پوهیږو چې هغه د روح القدس په وسیله په مونږ کښې اوسیږي چې په مونږ ئې نازل کړې دی.**

(اول خط د یوحنا په نوم ۳: ۲٤)

## ۳- د نقصان بدله

د انجیل شریف په یوه وړه سپاره کښې یوه ښکلې قیصه راځي. تاسو د فیلیمون په نوم د پولوس رسول په خط کښې د لسم نه تر اتلسم پورې د آیاتونو تلاوت وکړئ. خیال مې دی چې فیلیمون د کولوسئ د جماعت رهنما ؤ. د هغۀ یو نوکر ؤ چې نوم ئې انیموس ؤ. د انیموس د نوم مطلب "د کار سړی" دی. خو هغه یو کار کوونکی نوکر نۀ ؤ ځکه چې هغه د خپل مالک نه غلا کړې وه او بیا تښتیدلی ؤ. دا یقین لرم چې روم ته په رسېدو باندې هغه به

ځۀ بل ورانئ هم کړې وي ځکه چې هغه په جيل کښې د سزا په طور بنديوان ؤ. خو د خدای پاک د کارونو طريقې ډيرې حيرانېدونکې دي او په دغه وخت کښې عظيم تبليغ کوونکی يعنې پولوس رسول هم په جيل کښې بنديوان ؤ. خو پولوس رسول په دې سبب په جيل کښې نۀ ؤ چې ګنې هغۀ څۀ غلط کار کړی ؤ بلکې هغه په دې سبب په جيل کښې ؤ چې هغۀ په عيسیٰ مسيح باندې ايمان لرلو او د انجيل شريف تبليغ به ئې کولو. پولوس رسول انيموس ته د مالک عيسیٰ مسيح پۀ حقله تبليغ وکړلو. نو انيموس په عيسیٰ مسيح باندې ايمان راوړلو او هغه ئې خپل خلاصوونکی قبول کړلو. چې کله د انيموس د سزا وخت ختم شو نو د هغۀ د قيد نه د آزاديدو وخت راورسيدلو. نو پولوس رسول د هغۀ مالک ته يو خط وليکلو. هم دغه هغه خط دی کوم چې د انجيل شريف په سيپارو کښې شمار کړی شو او د فيلمون په نوم سره مشهور دی.

مونږ د دې سپارې نه يو اهم سبق زده کوو چې د يوې ګناه د معافئ مطلب دا هيڅ کله هم نۀ دی چې ګنې مونږ د هغې ګناه د انجام نه هم بچ کېدی شو. څۀ چې کرئ هغه به ريبئ. کله چې څوک يو کس په يوه ګناه يا په يوه غلطئ کښې را ونيسي نو هغه کس زر په پښو پريوزي او منت کوي چې ما پريږدئ او ما معاف کړئ. په حقيقت کښې هغه په دې خبره باندې نۀ شرميږي چې ګنې هغۀ غلطي يا ګناه کړې ده بلکې په دې خبره باندې چې هغه عين په

موقع باندې ونیولی شو. نو هغه به په څۀ نه څۀ طریقه باندې د خپل ځان د بچ کولو کوشش کوي.

پولوس رسول انیموس بیا هغه ځائ ته واپس ولیږلو کوم ځائ چې هغۀ جرم کړی ؤ. هغه بیا یو ځلې د هغه سړي سره ملاؤ شو کوم ته چې هغۀ نقصان ورکړی ؤ. هغه نقصان د قرض په صورت کښې ؤ او دغه قرضه خپل مالک ته واپس کول ډیره ضروري وه. دلته کښې پولوس رسول په خپله دغې سړي ته د قرضې د واپس کولو عرض وړاندې کوي. کله کله خدای پاک په داسې طریقې سره کار کوي خو کله کله مجرم به خپل فصل پخپله ریبي کومو ته چې په حقیقت کښې د خلاصون تجربه شوې ده. هغه به خامخا خپل قرض واپس کوي او کۀ چیرې هغه په څۀ خبره کښې زیاتی کړی وي نو د هغې نقصان بدله هم پوره کوي.

تاسو په انجیل شریف کښې یو بل مثال لوستلی شئ. تاسو ته به خو د زکائي قیصه یاده وي. تاسو د لوقا په سیپاره کښې په ۱۹: ۱- ۱۰ پورې په آیاتونو کښې دا قیصه لوستلی شئ. هغه یو لنډی سړی ؤ. نو د لنډ قد په سبب هغه ځکه یوې ونې ته وختلو چې د عیسیٰ مسیح دیدار وکړي. چې کله زکائي په عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړلو نو د هغۀ په زړۀ کښې یو حیرانیدونکی کار وشولو. کله چې هغۀ عیسیٰ مسیح ته مالک وویلو نو هغۀ محسوس کړله چې اوس به عیسیٰ مسیح د هغۀ د ژوندون مالک

وي. اوس به صرف او صرف هغه څۀ کوي څۀ به چې ورته مالک المسيح وائي. زکائي د خپلو خپلوانو او د دوستانو په وړاندې دا خبره ثابته کړله چې اوس هغه يو نوی بنيادم جوړ شوی دی. هغه مالک عيسیٰ مسيح ته وويل:

**مالکه هم په دې ځای زۀ خپل نيم مال خوارانو له ورکوم او کۀ ما له چا نه په دوکه کښې څۀ اخيستې وي نو هغۀ ته ئې هم يو په څلور ورکوم.**

**(لوقا ۱۹: ۸)**

راځئ چې په دې خبره باندې ځان ښۀ پوه کړو چې زکائ ته خلاصون په دې ملاؤ نۀ شو چې ړنې هغۀ خپل مال په خورانو وويشلو بلکې هغۀ ته خلاصون ځکه ملاؤ شو چې هغۀ په مالک عيسیٰ مسيح باندې ايمان راوړی ؤ او هغه ئې د خپل ژوندون د مالک په حيثيت قبول کړی ؤ. د دې نه پس هغۀ د خپل خلاصون ثبوت په دې شان سره ورکړلو چې هغۀ چې د چا نه هم څۀ په ناجايزه اخيستلي وو هغه ئې واپس کول غوښتل.

کله چې زکائي د مالک المسيح سره ملاؤ شو نو هغۀ محسوس کړله چې د هغۀ ژوندون څومره د ګناهونو نه ډک دی. نو هغۀ په حقيقت کښې د خپلو ګناهونو نه توبه وکړله. چې کله هم

ستاسو نه څۀ ګناه وشي نو تش افسوس نۀ دی پکار. او کله کله خو مونږ د چا خلاف څۀ نه څۀ غلطي کوو. پس د یوې رښتونې توبې د څرګندولو د پاره دا خبره ضروري ده چې تاسو هغې سړي له ورشئ او معافي ترې نه وغواړئ او کۀ چیرې د هغۀ مو څۀ نقصان کړی وي نو هغه ورته پوره کړئ. د خپل ژوندون په هکله سوچ وکړي! آیا تاسو د چا نه داسې څۀ څیز اخیستلی ؤ کوم چې ستاسو نۀ ؤ؟ اوس تاسو د هغې په حقله څۀ کولی شئ! آیا د چا خلاف تاسو څۀ دروغ ویلې ؤ؟ یا مو د چا غیبت کړی ؤ؟ دا یوه افسوس ناکه خبره ده.خو بیا هم دومره ضرور وکړئ چې هغه کس له ورشئ چا ته چې مو غیبت ویلی وو او ورته ووایئ چې "ما غیبت کړی وو. زه د هغې معافي غواړم." یاد لرئ چې څۀ آسان کار نۀ دی ځکه چې ستاسو زړۀ به نۀ کیږي چې هغه سړي له ورشئ. خو بیا هم چې تاسو یو وفادار عیسائي یئ او په وفادارئ سره د عیسائیت ژوندون تیروئ نو ستاسو د پاره دا کار ضروري دی. عیسیٰ المسیح به د دې ګران کار تر سره کولو د پاره تاسو ته طاقت درکړي.

# ۴- د شیطان اولنۍ حملې

"د عیسائیت ژوندون د ټولو نه ښۀ ژوندون دی."

"د عیسائیت ژوندون د ټولو نه ګران ژوندون دی."

دا دواړه خبرې رښتیا دي. خدای پاک تاسو ته نوې خوشحالي او نوې تسلي درکړې ده او دغه تسلي ستاسو په زړهٔ کښې ده او دا څوک هم ستاسو نه په زور نهٔ شي اخیستلی. خو کېدی شي چې په تاسو داسې مشکلات راشي کوم چې ستاسو په خیال کښې هم نهٔ راتلل. تر اوسه پورې تاسو د شیطان د کورنۍ وئ او په دې سبب به هغهٔ تهٔ نهٔ تنګولې. خو اوس تاسو د شیطان کورنۍ پرېښودله او د خدای پاک په خاندان کښې شامل شوئ. شیطان د هغو خلقو کوم چې د خدای پاک په کورنۍ کښې شامل دي دښمن دی او هغه په هره یوه داسې طریقه استمالوي چې تاسو د خدای پاک د رښتونې لارې نه لرې کړي. تاسو ته خو دا خبره معلومه ده چې ګناهونو نه خلاصون د فضل مفت (وړیا) بخښنه ده. چې کله المسیح عیسیٰ په سولۍ باندې مړ شو نو هغهٔ د ګناهونو نه د خلاصون ټول کار تر سره کړلو. خو چې هغهٔ تاسو ته ستاسو د ګناهونو نه خلاصون درکړلو او اوس تاسو د هغهٔ تابعداري کوئ نو د هغهٔ په تابعدارۍ کښې به کېدی شي چې دا لاندې مصیبتونه په تاسو باندې راشي.

الف: کېدی شي چې د خلقو د طرف نه په تاسو سخت پرېشر (دباؤ) راشي تر دې پورې چې ستاسو خپل خلق هم تاسو د کور نه وباسي او د خپلو خپلوانو سره دې تعلقات هم ختم شي. او

کیدی شي چې ستاسو خپلوان ستاسو نه ښځه او بچي هم ایسار کړي.

ب: یا کیدی شي چې ستاسو د عیسائیت په وجه تاسو ته نوکري ملاؤ نۀ شي، یا کۀ نوکر وې خو ترقي درته ملاؤ نۀ شي.

ج: دا هم کیدی شي چې ستاسو نه ستاسو زمکه او جایداد واخیستلی شي او د خپل کور نه هم لاس ووینځې.

د: کیدی شي چې ستاسو خپلوان تاسو د خپل خاندان د پاره د بدنامۍ او د شرم سبب وګڼي یا ستاسو مور او پلار بوډاوالي کښې ستاسو په وجه غم کوي او کیدی شي چې خلق دې په بچو پورې هم وخاندي.

د ګناهونو نه د خلاصون موندلو نه پس او د بپتسمې د اخیستلو نه سمدستي وروستو مختلف خلق په بیلو بیلو مشکلاتو کښې راګیرېږي. ځینې خلق خو په خپله یا د هغوئ په خاندان کښې څوک نه څوک ناجوړه شي. یا کۀ داسې نۀ وي نو بیا خلق هغه ایماندار ووهي تر دې پورې چې د ځینو خو جایداد هم تباه کولی شي یا ورته اور لګوي. دا ټولې د شیطان حملې دي.

ځینې خلق دا خیال کوي چې شیطان د هرې خبرې نه خبر وي او لکه د خدای پاک په شان قدرت او اختیار لري خو دا خبره رښتیا نۀ ده. شیطان په یو وخت کښې په هر ځای کښې موجود

کیدی نۀ شي بلکې د هغۀ سره بد روحونه دي کوم چې د هغۀ مدد کوي. د دې بد روحونو طاقت د بنیادم نه زیات دی خو د یو رښتوني ایماندار د پاره دا خبره د حیرانتیا نۀ ده. کۀ چیرې د بدو روحونو قوت زیات دی خو د خدای پاک قوت او اختیار د هغې نه هم ډیر زیات دی. مقدس کتاب فرمائي:

**ځکه چې هغه څوک چې په تاسو کښې دی هغه له هغه چا نه ډیر زورور دی چې په دنیا کښې دی.**

(اول خط د یوحنا په نوم ٤: ٤)

فالونه کتل، دایرې جوړول، د قسمت حال ښودل، د لاس کرښې کتل، تعویزونه کول، دا ټول شیطاني کارونه دي. د داسې کارونو نه ځان بلکل وساتئ او هیڅ قسمه برخه په کښې وانۀ خلئ. مقدس کتاب د دې په حقله مونږ ته دا خودنه کوي:

**د تیارې په بې فایدې کارونو کښې حصه مۀ اخلئ بلکې هغوئ ته بد وایئ.**

(خط د افسیانو په نوم ٥: ١١)

تاسو به څنګه د شیطان د حملو مقابله کوئ؟ لاندینو آیاتونو کښې هر یو آیت ښۀ په غور سره ولولئ او ځان پرې پوه کړئ.

اول خط د پطروس په نوم **۵**: ۷ ولولئ:

**تاسو ځان ساتي او بيدار اوسئ ځکه چې ستاسو مخالف ابليس د غړميدونکي زمری په شان په دې لټون کښې دی چې څوك ونغري.**

دا خبره هيڅ کله هم هيره نۀ کړئ چې شيطان په تاسو باندې هر وخت حمله کولی شي.

اول خط د پطروس په نوم **۵**: **۹** ولولئ:

**تاسو په ايمان کښې مضبوط شئ او د هغۀ مقابله وکړئ ځکه چې تاسو ته معلومه ده چې ستاسو وروڼه چې په دنيا کښې دي هم دغه شان مصيبونه زغمي.**

دا خبره ياده ساتئ چې يوازې تاسو نۀ يئ چې رېنې صرف هم په تاسو دا مصيبتونه راځي، اول خط د پطروس په نوم **۴**: ۱۲، **۱۳** ولولئ:

**زما خوږو ملګرو! کوم د مصيبت اور چې ستاسو د آزمېښت د پاره په تاسو کښې بل دی نو دا مۀ ګڼئ او په هغه حيرانيږئ مۀ چې په مونږ دا يوه عجيبه خبره راغلې ده. بلکې د مسيح په مصيبتونو**

**کښې چې هر څومره شریکیږئ خوشحالئ کوئ د پاره د دې چې د هغهٔ د جلال د ظاهریدو په وخت هم ډیر خوشحاله یئ.**

د المسیح عیسیٰ د پاره په ځان سختئ او زحمتونه تیرول خپله خوش قسمتي وګڼئ. خط د فیلیپیانو په نوم ۱ : ۲۹ ولولئ:

**ځکه چې د مسیح د خاطره په تاسو دا فضل وشو چې نهٔ یواځې په هغهٔ ایمان راؤړئ بلکې د هغهٔ د خاطره تکلیفونه هم وزغمئ.**

کهٔ دا درته معلومه هم ده چې شیطان زورور دی خو دا خبره هم یاد وساتئ چې مالک المسیح د شیطان نه ډئر زیات طاقتور دی اؤ هغه پهٔ تاسو کښې اوسیږي. هغه به ستاسو په دې کښې مدد کوي چې تاسو په شیطان باندې غالب راشئ. اول خط د یوحنا پهٔ نوم ۴ : ۴ ولولئ:

**هغه څوک چې په تاسو کښې دی هغه لهٔ هغه چا نه ډیر زورور دی چې په دُنیا کښې دی.**

هر کله چې شیطان په تاسو ډیرې زیاتې حملې کوي نو دا خبره یاده وساتئ چې بې د څهٔ ناغې نه دُعا کوئ او کهٔ کیدی شي نو یو بل ایماندار ورور سره پهٔ شریکه دُعا وکړئ.

اؤ د حملی په وخت کښې یاد ساتئ چې خدای پام تاسو سره ډیره مینه کوي. هغه به ستاسو حفاظت هم کوي. اول خط د پطروس **۵** : ۷ ولولئ.

**او خپل ټول فکر په هغۀ واچوئ ځکه چې هغه ستاسو خیال لري**

کۀ حالات هر څومره خراب ولې نۀ وی خو بیا به هم خدای پاک تاسو هیڅ کله نۀ پریږدي. اؤ نۀ به ستاسو نه بې پرواه کیږي. خط د عبرانیانو پۀ نوم ۱۳ : **۵** ، ۲ ولولئ.

**خدای پخپله فرمائیلي دي چې:**

"زۀ به هیڅ کله هم ستاسو نه بې پرواه کیږم نه،

اؤ تاسو به هیڅ کله پرې نۀ ږدم."

نو ځکه مونږ ډیر په زړۀ ورتیا سره دا وایُو چې:

"مالِک زما مددګار دی. زۀ به یره نۀ کوم.

اِنسان به مې څۀ وکړي؟"

د دې مشکلاتو پۀ حقله کوم چې اوس پۀ تاسو دي هیڅ غمونه مۀ کوئ بلکې د هغې خوشحالئ پۀ انتظار کښې اوسئ کومه به چې تاسو ته پۀ جنت کښې ملاویږي. متی **۵** : ۱۱ – ۱۲ ولولئ.

تاسو بختور يئ چې زما د پاره په ځان ملامتی، سختی زحمتی تيروئ اؤ د خلقو قسم قسم دروغژني بدې خبرې زغمئ. دا هر څۀ تاسو په خوشحالئ او روڼ تندي وزغمئ ځکه چې په آسمان کښې ستاسو د پاره لوئ آجر دی ځکه چې ستاسو نه وړاندې هم دغه رنګ دوئ نبيان ربړولي دي.

هيڅ کله هم تاسو پۀ خپل طاقت سره د شيطان مُقابله نۀ شئ کولی. کۀ چيرې داسې وکړئ نو کامياب په نۀ شئ. خو د داسې دباؤ دپاره تاسو ته پۀ خپل طاقت سره د مقابلې کولو ضرورت هم نشته ځکه چې خدای پاک يوه ډيره غوره وعده زمونږ سره کړې ده. د کورنتيانو په نوم په اول خط کښې پولوس رسول وفرمايل:

او تاسو په څۀ داسې آزميښت کښې نه يئ پريوتلي چې هغه د انسان د زغم نه بهر وي او خدای رښتونی دی او هغه به تاسو ستاسو د طاقت نه په زيات آزميښت کښې نۀ اچوي بلکې د آزميښت سره به د وتلو لار هم پيدا کړي چې تاسو ئې وزغملی شئ.

(اول خط د کورنتيانو په نوم ۱۰: ۱۳)

کۀ چیرې په تاسو باندې څۀ تکلیف راشي نو کېدی شي چې د مدد د پاره ستاسو په خیال کښې د جماعت مشر یا یو دولت مند دوست راشي. خو یاد ساتئ چې د ټولو نه اول د خپل خدای پاک په طرف ګورئ او تاسو هم خدای ته د خپلو مشکلاتو په حقله منت وکړئ او د هغۀ نه دا دعا وغواړئ:

"ای مالکه، زۀ په دې مشکلاتو کښې راګیر شوی یم. زۀ دا برداشت کولی نۀ شم ځکه چې زۀ دومره طاقتور نۀ یم. تۀ زما مدد وکړه"

ما ته دا نۀ ده معلومه چې خدای پاک ستاسو د مدد د پاره کومه وسیله استعمالوي. کېدی شي چې خدای پاک د جماعت مشر یا بل څوک ورور استعمال کړي یا څۀ بله وسیله استعمال کړي خو چې څۀ هم هغه کوي دا د هغۀ کار دی. ستاسو کار دا دی چې تاسو د هغۀ نه د مدد د پاره خواست وکړئ او دا پوخ ایمان وساتئ چې خدای پاک ستاسو مدد کوي.

# سوالونه

١- کوم او کوم ځیزونه ستاسو د نوي ژوندون مرکز ګڼل پکار دي؟

________________________________________

________________________________________

٢- په تسالونیکیانو کښې د خلاصون موندلو نه پس نوي ایماندارو به کوم کارونه کول؟ (اول خط د تسالونیکیانو په نوم ١ : ٩)

________________________________________

________________________________________

٣- تاسو د خلاصون موندلو نه پس د خپل زوړ ژوندون کومې خبرې پریښودلې؟

________________________________________

________________________________________

۴- تاسو ته خلاصون څنګه ملاؤ شو؟ (خط د افسیانو په نوم ٢ : ٨، ٩)

________________________________________

________________________________________

**۵**- هغه کومې درې طریقې دي چې د هغې په وجه تاسو ته معلومیږي چې تاسو ته خلاصون ملاؤ شوی دی؟

___________________________________________

___________________________________________

۶- چې د کله نه تاسو ته د ګناهونو نه خلاصون ملاؤ شو نو ستاسو په کارونو او په خبرو او په خیالاتو کښې څۀ تبدیلي راغلې ده؟ (دویم خط د کورنتیانو په نوم **۵**: **۱۷**)

___________________________________________

___________________________________________

۷- انیموس او زکائی د دې خبرې څۀ ثبوت ورکړو چې هغوئ ایماندار شول؟

___________________________________________

___________________________________________

۸- د ایمان راوړلو نه پس آیا اوس هم څۀ داسې خبرې شته کومې چې لاتر اوسه پورې صحیح شوي نۀ دي؟

___________________________________________

___________________________________________

۹- مونږ د شیطان د حملو په باوجود هم څنګه په خپل ایمان کښې مضبوط پاتې کیدی شو؟ د دې په حقله په مقدس کتاب کښې

لۀ تاسو سره کومه وعده شوې ده؟ (اول خط د کورنتیانو په نوم ۱۰ : **۱۳**) په یاده باندې تاسو دلته (لاندې) آیت ولیکئ.

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

# دويم باب
# ستاسو د ټولو نه لويه مسئله – ګناه

## الف: ګناه

بې شکه چې يوه مور خپل ماشوم ته وائي چې ځان مۀ سخا کوه خو ماشوم بيا په خاورو کښې لوبې شروع کړي او زر ځان سخا کړي. کۀ مونږ عيسايان هم يو خو بيا هم زمونږ نه ګير چاپيره خلق په ګناهونو کښې اخته دی نو کېدی شي چې زمونږ نه هم ګناه وشي. د هغې وجه دا ده چې په مونږ کښې لا تر اوسه پورې هم د ګناه فطرت شته دی. زمونږ نه ګناه کيږي او دغه شان زمونږ د خدای پاک سره په تعلقاتو کښې خنډ پېدا کيږي. خو ګناه څۀ ته ويلې شي؟ مقدس کتاب وائي:

ټول بد کارونه ګناه دي. (اول خط د يوحنا په نوم ٥: ١٧)

ګناه خو نافرماني کول ده. (اول خط د يوحنا په نوم ٣: ٤)

نو بيا چې څوک په ښو کولو پوهيږي او نۀ ئې کوي د هغۀ د پاره دا ګناه ده. (خط د يعقوب په نوم ٤: ١٧)

د ګناه په هکله په مقدس کتاب کښې ډير په واضيحه طور سره بيان راځي چې ګناه څۀ ته ويلی شي. په دې لاندې لسو حکمونو باندې غور وکړئ:

۱ - زما نه بغير د نورو خدايانو عبادت ونۀ کړئ.

۲ - د ځان د پاره بت جوړ نۀ کړئ.

۳ - د مالک د خپل خدای نوم بې فايدې وانۀ خلئ.

۴ - ياد لرئ چې تاسو د سبت ورځ پاکه منئ. په هغې کښې تاسو هيڅ کار ونۀ کړئ.

۵- تاسو د خپل پلار او د خپلې مور عزت کوئ.

۶ - قتل ونۀ کړئ.

۷- زنا ونۀ کړئ.

۸- غلا ونۀ کړئ.

۹ - تاسو د خپل ګاونډي خلاف په دروغو سره ګواهی مۀ ورکوئ.

۱۰- تاسو د خپل ګاونډي د هيڅ شي لالچ ونۀ کړئ! (خروج ۲۰ : ۱ - ۱۷)

په انجیل شریف کښې هم د دې خبرو بیان راځي او خدای پاک دا ګناه ګڼي لکه حرام کاري، ناپاکوالی، شهوت، بد خواهشات او حرص چې بت پرستي ده، غصه، بدخواهش، چغلي، او پوچې خبرې، او دروغ ویل.

(خط د کولوسیانو په نوم ۳: ۵- ۹ ولولي.)

ځینې خلق داسې شته چې کله هغوئ عیسائیت ته راواوړي نو وائي: "مونږ ته هغه اصول وښایئ کوم چې زمونږ د ژوندون د پاره ډیر ضروري دي. مونږ به کوشش کوو چې د هغې په مطابق خپل ژوندون تیر کړو." بې شکه چې خدای پاک زمونږ د کارونو په هکله فکر کوي خو بیا هم هغه زمونږ زړونو ته ګوري. د مالک عیسیٰ مسیح کلام ولولئ:

**د مالک خدای سره د زړهٔ په راستئ، په پوره روح او په پوره عقل سره مینه لرئ. دا د ټولو نه لوی او وړومبی حکم دی. او دویم حکم هم د دې په شان چې د خپل ګاونډي سره د ځان په شان مینه کوئ. د شریعت او د نبیانو د تعلیم ټول بنیاد په دې دواړو حکمونو دی.**

(متی ۲۲: ۳۷- ۴۰ )

ځینې خبرې داسې شته چې د هغې په مقدس کتاب کښې نیغ په نیغه څۀ بیان نۀ راځي نو بیا به تاسو ته دا څنګه پته لګي چې آیا دا خبرې صحیح دي یا نه؟ تاسو د دې په هکله د خپل ځان نه دا سوالونه کولی شئ:

۱- آیا دغه کار یا دغه څیز خو به ما په خپله غلامۍ کښې نۀ ګیروي؟ پولوس رسول فرمائي: "ټول څیزونه زما د پاره روا خو دي ولې زۀ به د یو څیز هم غلام نۀ یم."

(اول خط د کورنتیانو په نوم ۶: ۱۶)

۲- آیا د دې کار په سبب به خدای پاک ته لوئي ملاؤ شي؟ د دې خبرې په هکله په مقدس کتاب کښې فرمایلي دي: هر څۀ د خدای د جلال د پاره کوئ.

(اول خط د کورنتیانو په نوم ۱۰: ۳۱)

۳- آیا د دې کار په سبب به زما نوی ژوندون خراب شي یا به ښۀ شي؟ په مقدس کتاب کښې فرمایلي دي: هر څۀ روا دي، هو، خو هر څیز فایده مند نۀ دی.

(اول خط د کورنتیانو په نوم ۱۰: ۲۳)

۴- زۀ چې کوم کار کوم په دې کښې خو زما څۀ شک نشته؟ د دې خبرې په هکله په مقدس کتاب کښې فرمايلي دي:

**خو څوک چې په کوم څيز کښې شک لري کۀ چيرې هغه وخوري نو هغه پرې مجرم کيږي ځکه چې هغه دا عقيده نۀ لري چې هغۀ ته داسې کول پکار دي. او کۀ مونږ په يقين سره يو کار ته ښۀ نۀ شو ويلی نو د هغۀ کول ګناه ده.**

(خط د روميانو په نوم ۱۴: ۲۱)

**۵-** کۀ چيرې زۀ دا کار وکړم نو هغه کس خو به تيندک نۀ خوري د کوم چې ايمان کمزوری دی؟ **کۀ ستا په غوښې خوړلو او د شراب په څښلو او څۀ داسې بل کار نه ستا ورور تيندک خوري نو دا ښۀ ده چې تۀ د دې څيزونو نه ځان وساتې.**

(خط د روميانو په نوم ۱۴: ۲۱)

## ب: آزمیښت

د آزمیښت دوه مطلبه دي:

۱- یو داسې آزمیښت کوم چې د عیسائیت په ژوندون کښې د ترقۍ سبب جوړیږي،

۲- یو داسې آزمیښت کوم چې د ګناه طرف ته سړي له توجه ورکوي.

### ۱- هغه آزمیښت کوم چې د عیسائیت په ژوندون کښې د ترقۍ سبب جوړیږي

خدای پاک زمونږ ایمان آزمائي او هغه مضبوط جوړوي. زرګر سرۀ زر بیا بیا په اور کښې اچوي د پاره د دې چې هغه خالص شي. نو هم دغه شان خدای پاک خپل بچي هم آزمائي. کیدی شي چې خدای پاک پریږدي چې مونږ دې ناجوړه شو یا په مونږ څه تکلیف راپریږدي. کۀ چیرې مونږ دا آزمیښتونه داسې وګڼو چې دا د خدای پاک د طرف نه دي او په هغې صبر وکړو نو په داسې کولو به مونږ نور هم هغۀ ته رانژدې شو. په مقدس کلام کښې داسې مختلف قسمه مثالونه شته چې خدای پاک په هغه کسانو باندې تکلیفونه راپریښودل د کومو سره چې هغۀ مینه وکړله او تکلیفونو

په وجه دغو خلقو نور هم خدای پاک وپیژندلو او په هغهٔ باندې یقین وکړو. (دویم خط د کورنتیانو په نوم په ۱۲: ۷- ۱۰ کښې د پولوس رسول په دې تجربه باندې غور وکړئ.)

## ۲- هغه آزمیښت کوم چې د ګناه طرف ته سړي له توجه ورکوي

هغه آزمیښت کوم چې زمونږ د ایمان د ترقئ د پاره وي هغه د خدای پاک د طرف نه وي خو چې کوم زمونږ توجه د ګناه طرف ته ګرزوي نو هغه د شیطان د طرف نه وي. چې کله شیطان مونږ د ګناه د پاره لمسوي نو هغه زمونږ خاصې کمزورئ استعمالوي. کېدی شي چې هغه زمونږ دننه حسد، کینه یا روپو پیسو لالچ پېدا کړي یا هغه جسماني خواهش. لوئي، غرور یا څهٔ داسې نورې کمزورئ کومې چې مونږ کښې رابېدارې کړي او په مونږ باندې حمله وکړي.

هر کله چې څوک وآزمائیلی شي نو دا دې ونهٔ وائي چې په ما دا آزمېښت د خدای د طرفه ؤ ځکه چې نه خو خدای په بدئ آزمائېلی شي او نهٔ خدای څوک آزمائي. په حقیقت کښې هر سړی هغه وخت آزمائیلی شي کله چې د هغهٔ خپل بد خواهش په

دوکه ورکولو کښې هغه وښلوي. نو بیا د هغه بد خواهش امیدوار شي او ګناه ترې نه پیدا شي او چې ګنا زیاته شي نو مرګ پیدا کوي. (یعقوب ۱: ۱۳- ۱۵)

د آزمیښت په هکله یو څو اهمې او ضروری خبرې داسې دي د کومو معلومول چې زمونږ د پاره ډیر ضروري دي.

۱- آزمیښت کۀ هر څومره هیبت ناک یا ویروونکی ولې نۀ وي هغه آزمیښت په خپله څۀ ګناه نۀ ده بلکې په آزمیښت کښې پریوتل په حقیقت کښې ګناه ده. زمونږ مالک عیسیٰ هم شیطان وآزمائیلو. مقدس کتاب فرمائي:

هغه په ټولو خبرو کښې زمونږ په شان وآزمائیلی شو خو بیا هم بې ګناه پاتې شو.

(خط د عبرانیانو په نوم ٤: ۱۵)

کۀ چیرې په تاسو باندې دغه شان څۀ سخت آزمېښت راشي نو دا خیال هیڅ کله هم ونۀ کړئ چې ږنې تاسو یو ښۀ عیسائی نۀ یئ.

۲- مونږ له د آزمیښت مقابله د عیسیٰ مسیح په قوت کښې کول پکار دي. خدای پاک نۀ غواړی چې تاسو په خپله د شیطان مقابله وکړئ.

د یعقوب په خط کښې د خدای پاک وعده ولولئ:

نو بیا د خدای تابع جوړ شئ، او د ابلیس مقابله وکړئ نو هغه به در نه تښتي.

(یعقوب ٤: ۷)

کۀ چیرې په تاسو باندې څۀ آزمیښت راځي نو تاسو دا یقین وکړئ چې خدای پاک ستاسو په ژوندون کښې کار کوي. هر کله چې تاسو په آزمیښت باندې فتح مند شئ نو خدای پاک تاسو نور هم مضبوط کوي. په راتلونکي آزمیښت باندې هغه درته نور هم د بریالي کیدلو قابلیت درکوي. چې کله هم څۀ آزمیښت درباندې راشي نو تاسو ته د عیسیٰ مسیح د ژوندون مثال ته کتل پکار دي. هغۀ ته وګورئ او حوصله کوئ. متي ۴: ۱ -۱۱ پورې آیتونه ولولئ.

د بپتسمې اخیستلو نه پس مالک عیسیٰ مسیح بیابان ته لاړلو او هلته کښې ئې څلویښت شپې روژه ونیوله. په دغه دوران پرې د شیطان آزمیښتونه هم راغلل. نو چې کله په تاسو باندې هم

ځۀ تکليف راشي نو ياد ساتئ چې عيسیٰ مسيح له دې نه خبر دی چې په تاسو ځۀ تيريږي. هغۀ ته ستاسو د حالاتو پوره پوره پته ده. هغه غواړي چې ستاسو مدد وکړي:

**ځکه چې هغه پخپله وآزمائيلی شو نو هغه د هغوی مدد کولی شي څوک چې آزمائيلی کيږي.**

**( خط د عبرانيانو په نو ۲: ۱۸)**

## پ: ګناه او په شيطان باندې فتح

چې کله يو سپاهي د خپل دښمن سره د جنګ د پاره روانيږي نو هغه له دې نه نۀ وی خبر چې دښمن به د کوم اړخ نه حمله کوي. د انجيل شريف په عبرانيانو ۴ : ۱۲ کښې ليکلي شوي دي چې د خدای پاک کلام د دوه مخيزې تورې نه زيات تيره دی. شيطان په تاسو باندې کۀ د هر طرف نه حمله وکړي نو تاسو د خدای پاک د کلام توره د هغۀ سره د جنګ د پاره په کار راوستلی شئ.

چې کله هم شيطان به مسيح د ځۀ آزميښت د پاره ولمسولو نو هغۀ به ځۀ کول؟ (متی ۴ : ۱- ۱۱ پورې آياتونه ولولئ. ) هغۀ درې ځله د مقدس کتاب نه جواب ورکړو او د شيطان په حملو باندې بريالی شو. چې کله شيطان تاسو په ځۀ آزميښت کښې اچوي نو تاسو هم هغه ځۀ کوئ کوم چې عيسیٰ مسيح کړي وو. کۀ

ضرورت د دې خبرې وي نو ورته ووایئ: "ای شیطانه، لرې شه!" نو بیا د مقدس کتاب نه د آزمیښت په مطابق د آیت تلاوت وکړئ. لکه مثال په طور: یوه داسې موقع راځي چې شیطان درته ووائي چې "دروغ ووایه" یا درته دا ووائي چې "غلا وکړه" نو تاسو د دروغو او د غلا په هکله ورته آیت ووایئ. د شیطان د مقابلې د پاره دا خبره ډېره ضروري ده چې تاسو د مقدس کتاب نه ښۀ خبر یئ.

ستاسو څۀ خیال دی؟ آیا تاسو شیطان ته داسې ویلې شئ چې: "تۀ لږ صبر وکړه! زۀ ګورم چې مقدس کتاب د دې په هکله څۀ وائي. . ." او بیا د معلوملو د پاره د مقدس کتاب صفحې لټوئ؟ نه، داسې هیڅ کله هم نۀ دي پکار. تاسو له پکار دي چې د مقدس کتاب ښۀ تلاوت وکړئ او د هغې نه اهم آیاتونه په یاده یاد کړئ ځکه چې د شیطان سره د جنګ د پاره د مقدس کتاب آیاتونه یادول پکار دي. زۀ نۀ یم خبر چې په تاسو به کوم قسمه آزمیښتونه راځي یا ستاسو آزمیښتونه څۀ دي خو کیدی شي چې دا لاندې حوالې ستاسو د مدد د پاره غوره وي:

* د دروغو په هکله . . کولوسیان ۳: ۹
* د نفرت په هکله . . اول یوحنا ۳: ۱۵- ۱۸
* د سوګند په هکله د خدای نوم غلط استعمالول. .احبار ۱۹: ۱۲

* د خدای پاک د نافرمانئ په هکله . . يرمياه ۷: ۲۳
* د غصې په وخت . . زبور شريف ۳۷: ۸
* د غلا په وخت . . خروج ۲۰: ۱۵
* په کار کښې د تنګئ په وخت. . کولوسيان ۳: ۲۳
* د غلطو خلقو سره د ناستې په وخت. . زبور شريف ۱: ۱
* د انديښنو په هکله. . متي ۶: ۳۱- ۳۲
* د خدای پاک د کلام په تلاوت کښې لاپرواهي. . يشوع ۱: ۸
* په دعا کولو کښې سستي. . لوقا ۱۸: ۱- ۸
* هر وخت غوريدل او شکايتونه کول. . فيليپيانو ۲: ۱۴
* د يو ځيز سره د خدای پاک نه زياته مينه کول. . متي ۲۲: ۳۷
* د هر قسمه حرام کارئ په هکله. . اول تسالونيکيان ۴: ۳

## ت: ستا د ګناه په وجه څۀ کيږي؟

فرض کړه چې تاسو په يو داسې تالاؤ کښې لامبئ چې د هغې د ژورتيا په هکله درته څۀ معلومات نشته او ناڅاپي تاسو يو ډوب ځای ته راسيږئ او لامبو هم نۀ درځي. نو هلته به تاسو څۀ کوئ؟ نو آيا د ډوبيدو په وخت به تاسو داسې وايئ چې "زۀ هميشه ښۀ

کارونه کوم. ما همیشه په خپل مذهب باندې عمل کړی دی." تاسو به داسې هیڅکله هم نۀ وایئ بلکې تاسو به د مدد د پاره چغې وهئ چې تاسو څوک بچ کړي. په داسې سخت وخت کښې به تاسو صرف یوه خبره غواړئ چې څوک تاسو د ډوبیدلو نه بچ کړي!

نو هم دغه شان ستاسو د خلاصون مثال هم دی. مقدس کتاب فرمائي چې تاسو په ګناهونو کښې مړۀ یئ او ستاسو د ګناه انجام مرګ دی.

تاسو هم د خپلو قصورونو او ګناهونو په سبب مړۀ وئ.

(خط د افسیانو په نوم ۲: ۱)

ځکه چې د ګناه بدل مرګ دے

خو د خدای بخښنه

زمونږ په مالک عیسیٰ[1] مسیح کښې

د تل ژوندون دی.

(خط د رومیانو په نوم ٦: ۲۳)

خو چې کله تاسو مالک المسیح خپل مالک او خلاصوونکی قبلوئ نو هغه تاسو د مرګ د سزا نه بچ کوي!

اوس تاسو ته د مرګ نه د وېريدلو ضرورت نشته . مالک المسيح ستاسو د ګناهونو قيمت ورکړی دی. نو په دې سبب هر کله چې تاسو مړ شئ نو د هغهٔ سره به په جنت کښې يئ. چې کله مالک عيسیٰ مسيح تاسو ته خلاصون درکولو نو هم په هغه وخت هغهٔ ته د ځان سره جنت ته بوتللې شوئ خو هغه داسې نهٔ کوي. آخر ولی؟ هغه غواړي چې تاسو په دې دنيا کښې پاتې شئ او د هغهٔ ګواهي ورکړئ. هغه غواړي چې تاسو نور خلق هم د هغهٔ په طرف راواړوئ. خو تر کومې پورې چې تاسو په دې دنيا کښي يئ نو ضرورت د دې خبرې دی چې خپل ځان دې ګېر چاپيره ګناهونو نه بچ کړئ. مالک عيسیٰ مسيح په دې سبب مرګ وزغملو چې هغه تاسو د ګناهونو د زور نه بچ کړي. د خلاصون موندلو نه اول تاسو د ګناه غلام وئ او ستاسو نه به ګناهونه هم کېدل او نهٔ به دې خپل ځان په هيڅ حالت کښې هم د ګناهونو نه بچ ساتلی شو. چې د کومې ورځې نه پس تاسو ته خلاصون ملاؤ شو نو تاسو د ګناهونو غلام پاتې نهٔ شوئ. په روميانو ۶ : ۱۴ کښې ئې ليکلي دي:

**د دې د پاره چې ګناه نور په تاسو کښې حکم ونهٔ چلوي.**

د نن نه پس به ګناه ستاسو مالک نهٔ وي.

د عيسائيت ژوندون ته د منډې سره مثال ورکړی شوی دی چې کله منډه وهونکی منډه وهي نو هغه لويه خلته نهٔ اچوي بلکې

سپکې نرئ جامې اچوي. هغه هر هغه څیز کوم چې د خندا سبب وي لرې کوي. په عبرانیانو ۱۲: ۱ آیت کښې لیکلي دي:

**نو راځئ چې مونږ هم هر یو پیټی او هغه ګناه چې مونږ په آسانئ سره نښلوي د ځان نه لرې کړو او په هغه منډه کښې په صبر سره وزغلیږو چې مونږ ته وړاندې ده.**

ځینې خلق بهانې کوي. هغوئ وائي : " زۀ خو یو کمزوری انسان یم او ګناه رانه کیږي." ځینې وائي: "شیطان مو دوکه کړي او ګناه رانه وشي." بیشکه چې شیطان تاسو دوکه کوي چې ګناه وکړئ خو همیشه ستاسو نه ګناه ځکه کیږي چې تاسو ګناه کول غواړئ او په ګناه کولو مزه درځي. چې کله هم د ګناه خیال د چا پ i ذهن کښې راشي نو هغه کس ته پکار دي چې ووائي چې ای شیطانه لرې شه! خو د دې په ځای هغه وائي: "راشه! ما خو ستا انتظار کولو!"

مالک عیسیٰ مسیح نه غواړي چې ستاسو د لاسه ګناه وشي. هغه حکم درکوي چې "کامل شئ!" (متی **۵: ۴۸**) کېدی شي چې د دې خبرې په سبب ستاسو په زړۀ کښې پېدا شي او دا فکر کوئ چې زۀ کامل نۀ شم جوړیدی ځکه چې زما نه ګناه کیږي. د خدای پاک حمد و ثنا دې وي، هغه یو مینه ناک پلار دی. د هغۀ دا کلام واؤرئ:

**زما بچو، د دغو خبرو د لیکلو نه زما مطلب دا دی چې تاسو ګناه مهٔ کوئ. خو کهٔ چیرې څوک ګناه وکړي نو پلار سره زمونږ یو شفاعت کوونکی دی یعنې عیسیٰ[۱] مسیح چې صادق دی.**

(اول یوحنا ۲: ۱)

هر کله چې تاسو د خدای پاک د کلام مطالعه کوئ او په دعا کښې د هغهٔ سره خبرې کوئ نو پاک روح به تاسو ته ستاسو په ژوندون کښې د هغو څیزونو په هکله ښودنه کوي د کومو کول چې ګناه وي. کیدی شی چې کله تاسو د کلام پاک تلاوت کوئ نو هم دغه وخت د یو آیت په ذریعه درته ښودنه وکړي چې ستاسو په ژوندون کښې فلانکئ فلانکئ ګناه ده. دا د دې د پاره درته ښودنه وکړي چې تاسو توبه وباسئ او د هغې ګناه نه ځان مو وساتئ. دا هم کېدی شي چې ستاسو په زړهٔ کښې خفګان پیدا شي او هم دا به د پک روح یوه نښه وي چې تاسو د ګناه په باره کښې قایل کړي. د پاک روح آواز ته غوږ کېږدئ او خپل زړهٔ مهٔ سختوئ.

چې کله پاک روح تا د ګناه په هکله قایل کړي نو د هغې ګناه نه د بچ کېدو د پاره تاسو ته څهٔ کول پکار دي؟ د ټولو نه اول خو تاسو ته د دې خبرې ضرورت دی چې تاسو هم د هغې ګناه باقاعده نوم واخلې او ووایئ چې هم دا ګناه ده. دا ګپ نهٔ دی. او نه څهٔ غلطي ده، بلکې دا ګناه ده! تاسو له خپل نوم اخیستل پکار دي او

ورسره د خپلې ګناه هم نوم اخيستل پکار دي. کۀ چيرې ستاسو نه څۀ چغلي يا د څۀ بد اخلاقۍ يا نوره څۀ ګناه شوې وي نو تاسو له پکار دي چې د هغې ګناه نوم واخلئ او اقرار ئې وکړئ. کيدی شي ستاسو د پاره داسې دعا کول غوره وي:

"ای مالکه، زۀ د دې خبرې اقرار کوم چې ما دروغ وويل او د خپلې ژبې په ذريعه مې د خپل دوست د احساساتو پرواه ونۀ کړه. زۀ به کوشش کوم چې بيا دروغ ونۀ وايم."

دا خبره ياده ساتئ چې تاسو پخپله ګناه باندې هر څومره شرمنده ولې نۀ وئ خو بيا به دا د خدای پاک په وړاندې د اقرار ځای نۀ نيسي.

چې کله تاسو د خدای پاک په وړاندې اقرار کوئ نو بيا تاسو ته په ډير مضبوطتيا سره دا فيصله کول پکار دي چې بيا به تاسو داسې ګناه نۀ کوئ. تاسو دې هيڅ کله داسې خيال نۀ کوئ چې يو خوا د خپلې ګناه اقرار وکړئ او په بل طرف دا فکرونه شروع کړئ چې بيا به دا څنګه وکړم. . . پولوس رسول په ډير سختۍ سره مونږ خبرداره کوي:

نو بيا مونږ په دې کښې څۀ ووايو؟ آيا مونږ دې تل په ګناهونو کښې بوخت يو په دې چې فضل نور هم زيات شي؟ نه، هيڅ کله نه!

**چې مونږ مړهٔ شولو چې نوره ګناه ونهٔ کړو نو اوس څنګه په ګناه کښې ژوند تیرولی شو؟** (رومیان ٦: ١- ٢)

چې کله تاسو د ګناه اقرار کوئ نو بیا خدای پاک خپل کار تر سره کوي. د دې د پاره تاسو دا لاندې آیت یعنې اول خط د یوحنا ١ : ٩ په یاده یاد کړئ.

**کهٔ مونږ د خپلو ګناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار او صادق دی او هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړي او د هر قسمه بدو نه به مو پاک کړي.**

دا څومره عظیم لوظ دی. راځئ چې یو نظر ئې بیا وګورو.

* چې کله مونږ ګناه کوو نو پاک روح مونږ قایل کوي
* مونږ د هغې ګناه د خدای پاک په وړاندې اقرار کوو
* خدای پاک مونږه د هغې ګناه نه پاکوي
* او زمونږ د خدای پاک سره تعلقات بیا به حال کیږي

تابعدارئ لاره



اقرار کول

## د تل تحفظ

کله چې د خدای پاک د یو بچي نه ګناه وشي نو آیا د هغهٔ خلاصون ختمیږي؟ نه، هیڅ کله نه! د مقدس کتاب تعلیم دا دی چې کله هم څوک مالک عیسیٰ مسیح خپل خلاصوونکی او مالک قبلوي نو د هغهٔ خلاصون ختمیږي نه. په مقدس کتاب کښې د دې په هکله ډیرې حوالې شته د کومو نه چې دا خبره څرګندیږي چې مونږ به هیڅ کله د خدای پاک نه جدا نهٔ شو. د دې لاندې حوالو تلاوت وکړئ او خوشحالي وکړئ. یوحنا ۲: ۳۷، رومیان ۸: ۳۵- ۳۹، یهوداه آیت ۲۴، فیلیپیان ۱: ۲، د پطروس په نوم اول خط ۱: ۴- ۵.

د یو ایماندار خلاصون چې ختمیږي نه نو بیا خو د دې آیاتونو دا مطلب دی چې هغوئ دې د خپلو خواهشاتو په مطابق ګناهونه کوي؟ نو دا خو بله خبره ده. چې یو کس بیا په ګناه کولو کښې اخته شي نو هغه به خامخا د ګناه سزا ومومي. خدای د هیڅ چا طرفداري نهٔ کوي. (خط د رومیانو په نوم ۲: ۲- ۱۱)

یو دنیاوي پلار خپل ماشوم څکه وهي یا زورنه ورکوي چې د هغهٔ نه یو ښهٔ او ایمانداره انسان جوړ شي. نو هم دغه شان زمونږ آسماني پلار هم د خپلو ماشومانو وخت په وخت تربیت کوي او

زرونه هم ورکوي. خدای پاک د ډیری مینې په سبب داسې کوي ځکه چې هغه غواړي چې د هغهٔ بچي د هغهٔ سره تعلقات وساتي او د هغهٔ سره په نژدې والي کښې خپل ژوندون تیر کړي. د عبرانیانو په نوم خط ۱۲: ۵- ۱۱ پورې آیاتونه ولولئ.

کهٔ چیرې د یو ایماندار د لاسه ګناهونه وشي او د ګناهونو د کولو په باوجود هم نه خو هغه پریږدی او نه ئې اقرار کوي نو د یو داسې ایماندار د پاره خپل ځان د خدای پاک زورنې ته تیار ساتل پکار دي! کېدی شي چې په هغهٔ څهٔ داسې رنځ راشي یا د هغوي فصل تباه برباد شي. خدای دا هر څهٔ کوي چې مونږ پاک او بې عیبه جوړ شو. بې شکه چې خدای پاک د ګناهونو نه یوه پاکه لاره مونږ ته ښودلې ده.

د ټولو نه غوره خبره دا ده چې بلکل ګناه دې ونهٔ کړی شي. چې کله سحر وختي پاڅئ نو د خدای پاک نه دعا وغواړئ چې هغه دې تاسو د ګناهونو نه محفوظ وساتي. لکه څنګه چې به حضرت داؤد نبي دعا کوله تاسو هم هغه شان دعا کوئ. هغه دا ده:

ای خدای پاکه تهٔ زما زړهٔ وپیژنه

او زما په خیالونو باندې ښهٔ خبر شه،

وګوره چې په ما کښې څهٔ بد کردار خو نشته

او زما رهنمائي د تل ژوندون په لوري وکړه.

(زبور شريف ۱۳۹ : ۲۳- ۲٤)

# سوالونه

۱ - ګناه څۀ ته ویلی شي؟

________________________________________________

________________________________________________

۲ - د آزمیښت یا د لمسون دوه مطلبه وښایه ؟

________________________________________________

________________________________________________

۳ - شیطان په مونږ باندې آزمیښت کوي؟

________________________________________________

________________________________________________

۴ - کۀ په مونږ آزمیښت راشي نو مونږ په هغې باندې څنګه غالب راتلی شو؟

________________________________________________

________________________________________________

۵ - شیطان په تا باندې کوم قسمه آزمیښت راولي؟

________________________________________________

________________________________________________

۶- هغه وخت به شیطان ته د ماتی ورکولو د پاره تاسو د مقدس کتاب کوم قسمه آیاتونه استعمالوئ ؟

________________________________________________

________________________________________________

۷- په مقدس کتاب کښې د ځینو خبرو نیغه په نیغه بیان نۀ ملاویږي نو تا ته په د دې خبرې څنګه پته لګي چې آیا دا کار صحیح دی یا نه ؟

________________________________________________

________________________________________________

۸- پاک روح هغه خبرې د کومو کول چې ګناه وي څنګه څرګندوي ؟

________________________________________________

________________________________________________

۹- تاسو په خپل ژوند کښې د ګناهونو نه څنګه خلاصون موندلی شئ؟ اول یوحنا ۱ : ۹ په یاده ولیکئ.

________________________________________________

________________________________________________

۱۰- کۀ چیرې د یو ایماندار د لاسه ګناه وشي نو آیا د هغۀ خلاصون ختم شي؟ د مقدس کتاب کوم یو آیت د دې خبرې وضاحت کوي؟

__________________________________________________

__________________________________________________

۱۱- کله کله خدای پاک خپلو ماشومانو ته ولې سزا ورکوي؟

__________________________________________________

__________________________________________________

# دریم باب

# ستاسو روحانی ترقي

## الف : د مقدس کتاب تلاوت

چې کله تاسو ته خلاصون ملاؤ شي نو تاسو د خدای پاک خاندان کښې پېدا کېږئ خو په هغه وخت کښې ستاسو مثال لکه د يو نوي يېدا شوي ماشوم په شان وي. يو وړوکی ماشوم هم څومره عجيبه وي ځکه چې په ماشوم والي کښې هغه هيڅ هم نۀ شي کولی. خو يوه ورځ راشي چې هغه په کښيناستو شي او بيا ورو ورو قدم واخلي او بيا وړې وړې خبرې کول شروع کړي. دغه شان هغه نورو ماشومانو ته ګوري او خبرې زده کوی او په لوبو لوبو کښې لوی شي او خوشحاله وي.

خو په دې دنيا کښې کله کله ډيرې افسوس ناکې واقعې هم پېښېږي. هغه داسې چې يو ماشوم بلکل وده نۀ کوي تر دې پورې چې ديرشو کالو هم شي خو بيا هم لکه د وړو ماشومانو په شان حرکتونه کوي او دغه شان په دې باندې ټوله کورنئ پريشانه وي. آيا تاسو ته د دې خبرې علم شته چې ځينې عيسايان هم لکه د دې معذوره ماشومانو په شان وي؟ بې شکه چې هغوي په مالک عيسی مسيح باندې ايمان هم ساتي، ورسره د هغۀ په کورنئ

کبنې هم شامل شوی وي خو د دې هر څۀ په باوجود هم هغه روحاني وده نۀ کوي.

یو ماشوم څنګه غټېږي؟ ضروري ده چې هغه خوراک وکړي. په شروع شروع کبنې خو یو ماشوم پۍ څبني بیا ورپسې د وریجو خوراک چې ماشوم شروع کړي او بیا په مزه مزه د ترکاریانو او د میوو خوراک هم شروع کړي. چې ماشوم خوراک کوي نو غټېږي. هم دغه حال د روحاني ترقۍ هم دی، یو ایماندار ته د روحاني ترقي د پاره د خوراک ضرورت وي. ځکه چې انجیل شریف حکم ورکوي چې:

زمونږ د مالک او خلاصونکي عیسیٰ مسیح

په فضل او په علم کښې وړاندې شئ.

(دوم خط د پطروس په نوم ۳: ۱۸)

د روحاني ژوندون د پاره کوم خوراک شته؟ د دې سوال جواب دا دی چې مقدس کتاب یعنې د خدای پاک کلام. کیدی شي ستاسو به خامخا خپل مقدس کتاب وي. آیا تاسو د مقدس کتاب د تلاوت چل زده کړی دی؟ یاد ساتئ چې د مقدس کتاب دوه لوئې برخې دي یعنې تورات شریف او زبور شریف او د نبیانو صحیفو ته زړه لوظ نامه ویلی شي او انجیل شریف ته نوې لوظ نامه ویلی شي. یاد ساتئ چې په دې دواړو کبنې ټول شپږ شپیتۀ

سیپارې دي یعنې په زړه لوظ نامه کښې یو کم څلویښت او په نوې لوظ نامه کښې اوویشت. دغه شان د دې دوارو سیپارو رکوع ګانې په بابونو کښې ویشلی دي او بیا هر یو باب ئې په آیاتونو کښې ویشلی دي لکه د مثال په طور د یوحنا ۳: ۱۲. مطلب دا دی چې د مقدس کتاب د یوې سیپارې نوم یوحنا دی. هر کله چې تاسو د یوحنا سیپاره راوباسئ نو په هغې کښې به بیا دریم باب راوباسئ. نو بیا په هغې کښې تاسو ته ۱۲ آیت هم ملاؤ شي. د مقدس کتاب په شروع کښې ئې د سیپارو د نومونو ټول ترتیب لیکلی دی چې د هغې په مدد سره به تاسو یوه سیپاره ډیره په آسانتیا سره راوباسئ. خو د ټولو غوره خبره دا ده چې د مقدس کتاب د سیپارو نومونه ټول په یاده یاد کړئ نو بیا تاسو یوه حواله ډیره زر راوباسئ.

لکه څنګه چې یو ماشوم زر زر سینه غواړي او پیئ څښي نو دغه شان یو ایماندار هم خپل روح ته خوراک رسولی شي. د هرې ورځې د خوراک نه بغیر یو ایماندار هم په ایمان کښې ترقي نۀ شي کولی. په انجیل شریف کښې فرمائي:

**د نوو پیدا شوو بچو په شان د خالص روحاني پیو خواهشمند اوسئ چې د هغو په وسیله د خلاصون موندلو د پاره لوئیږئ.**

(اول خط د پطروس ۲: ۲)

د خدای پاک د کلام نه د خوراک حاصولو څلور طریقې دي:

۱- د کلام پاک تلاوت آورېدل – د دې په هکله انجیل شریف فرمائي:

او ایمان د زیري په آوریدلو پیدا کیږي

او آورېدل د مسیح په باب کښې د زیري ورکولو نه.

(خط د رومیانو په نوم ۱۰: ۱۷)

چې کله هم خدای پاک درته د وعظ آوریدلو او د کلام پاک د زده کولو موقع په لاس درکړي نو خامخا ترې نه فایده پورته کړئ.

۲- تلاوت کول – د تلاوت په هلکه د انجیل شریف حکم دی :

خپل ځان د خدای په وړاندې مقبول او د یو داسې کارکن په شان د پیش کولو کوشش وکړه چې د خپل کار نۀ شرمیږي او څوک چې د حق کلام تعلیم صحیح ورکوي. (دویم خط د تیموتیوس ۲: ۱۵)

صرف د خدای پاک د کلام وعظ اوریدل کافي نه دي. په ایمان کښې د مضبوط جوړېدلو او د قایم پاتې کیدلو د پاره دا خبره ضروري ده چې تاسو پخپله د هغې تلاوت وکړئ. کیدی شي چې نوي ایماندارانو کښې څۀ داسې کسان وي چې هغوئ تر اوسه پورې دا خبره نه وي زده کړې چې د خدای پاک د کلام یعنې د

مقدس کتاب تلاوت څنګه پکار دی. د هغوئ د پاره په دې وخت کښې يوه ډېره ښۀ موقع ده چې زده کړي.

۳- غور او فکر کول – د غور اؤ د فکر په هکله مقدس کلام دا خودنه کوي او فرمائي:

بختور دي هغه کسان چې
د وران کارو په صلاح باندې قدم نۀ ږدي
او د ګناه ګارو په لار کښې نه ودرېږي
او د ټوقمارانو په مجلس کښې نۀ کښېني،
خو د مالک په شريعت کښې د هغۀ خوشحالي وي
او د هغۀ په شريعت باندې شپه ورځ هغه غور کوي.

(زبور شريف ۱: ۱- ۲)

دا نۀ چې ږنې يو څو آياتونه زر زر ولولئ او کلام بند کړئ بلکې ضرورت د دې خبرې دی چې څومره تلاوت چې تاسو وکړلو په هغې باندې بيا بيا غور او فکر وکړئ.

۴- د کلام پاک آياتونه په يادول – د دې په هکله په زبور شريف کښې راځي:

ما ستا کلام په زړهٔ کښې ساتلی دی

د پاره د دې چې زهٔ ګناه ونهٔ کړم.

(زبور شریف ۱۱۹: ۱۱)

ډیرو ایماندارو ته د هغو آیاتونو په سبب کوم چې هغوئ په یاده یاد کړي وي د کمزورتیا په وخت ئې ورله قوت ورکړی دی، د المسیح د شهادت د پاره ئې ورله همت ورکړی دی، د شیطان د حملو او د آزمیښتونو په وخت ئې ورله فتح ورکړې ده او چې کله هم ورته په ژوندون کښې د یو آیت ضرورت پیښ شوی دی نو هغوئ ته دستي یاد شوی دی.

د مقدس کتاب په آیاتونو باندې غور کول د ټولو نه اهم کار دی. دلته کښې مونږ د یو څو خبرو بیان کوو د پاره د دې چې کله هم تاسو د مقدس کتاب تلاوت کوئ نو دا به ستاسو پکار راځي:

## الف : په خپل زړهٔ کښې د خدای پاک د کلام د پاره یو ژور خواهش پیدا کړئ.

ځکه چې حضرت داؤد نبي به هم په زبور کښې (زبور ۴۲: ۱- ۲) وفرمائیل:

**لکه څنګه چې هوسئ د اوبو د ولو د پاره ترسیږي**

**هم دغه شان، ای ربه، زما روح ستا د پاره ترسیږي.**

**زما روح د تا، د ژوندي خدای تږی دی.**

کیدی شي چې ستاسو په زړۀ کښې دا خیال راځي چې هر کله چې زۀ د مقدس کتاب مطالعه کوم یا زۀ دعا کوم نو په دغه دوران زۀ په سوچونو کښې لاړ شم، یا دا هم کیدی شي چې د کور څۀ تکلیف دې راياد شي لکه داسې چې نن به څۀ خورو یا څۀ به اغوندو، یا درته چیرته تلل راياد شي. یاد ساتئ چې دا ټول چالونه د شیطان دي. هغه غواړي چې تاسو په څۀ چل د خدای پاک نه لرې وساتي. تاسو د خدای پاک نه خواست وکړئ چې هغه درله قوت در کړي چې کله هم چې تاسو د خدای پاک د کلام تلاوت کوئ یا څۀ دعا کوئ چې هم صرف د هغۀ په هکله سوچ کوئ. کله کله خو مونږ له پکار دي چې په اوچت آواز سره تلاوت وکړو د پاره د دې چې مونږ په بل څۀ سوچ کښې لاړ نۀ شو.

**ب: د خدای پاک د کلام د تلاوت د پاره خاص وخت مقرر کړئ او هره ورځ د هغۀ د کلام تلاوت وکړئ.**

د مقدس کتاب تلاوت هره ورځ کول تاسو ته یو عادت جوړول پکار دي لکه څنګه چې په خپل وخت باندې خپل کار له یا سکول ته ځئ یا په خپله وخت باندې خوراک کوئ. نو هم دغه شان د مقدس کتاب د تلاوت د پاره هم یو وخت مقرر کړئ او هم د وخت په پابندئ سره د مقدس کتاب تلاوت وکړئ. یوه ورځ هم ناغه مۀ کوئ. دا مۀ وایئ چې ږنی صبا به تلاوت وکړم.

کیدی شي چې ستاسو په زړۀ کښې دا خیال هم راشي چې ما سره دومره وخت نشته چې زۀ په کښې د مقدس کتاب تلاوت وکړم ځکه چې زۀ کار کوم یا سکول ته ځم یا د کور ذمه واریٔ تر سره کوم او د دې نه علاوه چې کوم وخت راته ملاؤ شي نو په هغې کښې زۀ د خپلو دوستانو سره ملاویږم.

زۀ دا منم چې دا خبرې په خپل ځای صحیح دی او دا ټولې خبرې زمونږ د ژوندون په یوه ضروري برخه ده، خو زۀ به درته دومره خودنه وکړم چې د سحر نه واخلئ تر شپې تر ملاستې پورې، په دې ټول وخت باندې غور وکړئ، نو زۀ دا یقین سره درته وایم چې دومره وخت به خامخا پیدا شي چې په هغې کښې به تاسو د مقدس کتاب تلاوت او دعا وکړی شئ.

د ډیرو خلقو د پاره د کار د شروع کولو نه اول د سحر وخت ډیر غوره وي. تۀ هم د سحر په وخت کوشش وکړه، کیدی شي چې دا وخت ستا د پاره هم غوره وي. خیر کۀ وخت هر یو وي خو بیا هم

د مقدس کتاب تلاوت ډېر ضروري دی. لکه څنګه چې د ډېر مصروفیت په باوجود هم ډوډۍ خورې او درنه هیرېږي نه نو هم دغه شان تهٔ خپل ځان دومره د دنیا په کارونو کښې مهٔ بوخت کوه چې په کښې د مقدس کتاب تلاوت هم نهٔ شې کولی او نهٔ د دعا کولو موقع په لاس درشي.

## ج: د ټولو نه د مقدس کتاب آسانې برخې ولولئ.

په مقدس کتاب کښې ډېر ګڼ شمیر سره سیپارې دي. کهٔ چیرې تاسو د هغې مطالعه د سر نه شروع کړئ نو کېدی شي چې همت وبائېلئ. د یو مضبوط بنیاد د جوړولو د پاره به دا غوره وي چې تاسو اول د انجیل شریف د اولنو څلورو سیپارو تلاوت شروع کړئ او پس د هغې نه اعمال د رسولانو د دې نه پس کیدی شي چې ستاسو زړهٔ د تورات شریف نه هم تلاوت کول غواړي نو د دې د پاره تاسو اول د پیدایښت سیپاره ولولئ او بیا د خروج په سیپاره کښې. د اول باب نه تر شلم بابه پورې تلاوت وکړئ. پس د هغې نه د استثنا د سیپارې د اولني باب نه تر پنځمه بابه پورې او بیا څلور دیرشم باب. دغه شان بیا د یشوع په سیپاره کښې د اول باب نه تر لسم بابه پورې او بیا د سیموئیل دویمه سیپاره. دغه شان د دې سیپارو بیا بیا تلاوت وکړئ او وریسې دا نورې سیپارې هم ولولئ یعنې د جماعت په نوم د پولوس خطونه لکه د فیلیپانو په

نوم خط. یاد ساتئ چې د زبور شریف د تلاوت په سبب په درته ښۀ تسلي ملاؤ شي او د متلونو د کتاب نه به درته یو غوره نصیحت. حقیقت خو دا دی چې کله هم تاسو د مقدس کتاب تلاوت کوئ نو پاک روح به درته د هغې معنې ښائي او ورسره به درته د هغې وضاحت هم کوي. د دې په سبب به ستاسو زړۀ غواړي چې ډیر زیات تلاوت وکړئ.

## د: کله چې تۀ تلاوت کوې د هغې په معنیٰ باندې ځان پوه کړئ.

د تلاوت په وخت په دې خبره باندې ښه غور کوئ چې د دې مطلب څۀ دی؟ کله کله خو په مقدس کتاب کښې یو مثال یا څۀ بیان دومره ژور وي چې ستاسو ئې معنو ته بلکل خیال نۀ وي. نو هم په داسې وخت کښې د خپل ځان نه په داسې قسمه سوالونه کوئ:

* په دې بیان کښې د کومو خلقو بیان دی؟
* هغوئ څۀ وکړل؟
* آیا هغه خلقو څۀ داسې ګناه خو نۀ ده کړې کومه چې ما له کول نۀ دي پکار؟

* آیا هغه خلقو څۀ داسې ښۀ کار هم وکړلو کوم چې ما له هم کول پکار دي؟
* دا آیت مبارک ما ته د خدای پاک او د عیسیٰ مسیح او د پاک روح په هکله څۀ خودنه کوي؟

کېدی شي چې تاسو خپل جوابونه د ځان سره په یو نوټ بک کښې لیکل غواړئ. دا خو به ډېره ښۀ وي ځکه چې په داسې کولو سره به درنه هیرېږي نه. په یو وخت کښې دا کوشش مۀ کوئ چې ډیر تلاوت وکړئ. بس صرف یوه واقعه لولئ او په هغې باندې غور کوئ.

## ه: د څۀ په هکله هم چې تاسو د خدای پاک د کلام نه تلاوت وکړو د هغې تابعداري کوئ.

هو! تاسو یو ایماندار یئ او مالک ستاسو د ژوندون بادشاه دی. حکم ورکول د هغۀ حق دی. چې څۀ هم درته هغه وائي نو هغه به ستاسو د فایدې د پاره وي.

ځینې خلق وائي چې کۀ چیرې خدای پاک خپل ځان په ما باندې په خوب کښې څرګند کړي یا راته په رویا کښې کلام وکړي نو هله به ئې زۀ قبلوم. یاد ساتئ چې کله هم تاسو د مقدس کتاب تلاوت کوئ نو هغه تاسو سره خبرې کوي. دا هم کیدی شي چې

هغه درته نۀ په خوب کښې ښکاره شي يا درته په رويا کښې هم ښکاره نۀ شي خو بيا هم دا خبره ياده ساتئ چې هغه لۀ تاسو سره خبرې کوي. خدای پاک غواړي چې د هغۀ خبره واورئ او څۀ چې درته هم هغه وائي په هغې باندې عمل وکړئ. دا د مقدس کتاب د ټولو نه اهمه برخه ده. که چيرې تاسو دستي د هغۀ د کلام تابعداري وکړئ نو بيا به درته خدای پاک دا خودنه وکړي چې تاسو له څۀ کول پکار دي. که چيرې تاسو دې ته نۀ يئ تيار چې د هغۀ تابعداري وکړئ نو بيا به درته هغه خودنه څۀ له کوي؟

ځينې خلق وائي چې د مقدس کتاب مثال د بند ور په شان دی، هغوئ د دې په سبب دننه کيدی نۀ شي او نۀ معلومولی شي چې دا څۀ وائي. ياد ساتئ چې د دې بندې دروازې د کلاوولو چابي تابعداري ده. که چيرې تاسو په هغې باندې عمل کوئ نو چې د څۀ نه تاسو اول خبر وئ نو خدای پاک به درته د هغې نه هم زياته خودنه وکړي.

**د چا چې دا مرضي وي چې د خدای رضا پوره کړي هغه به په دې پوه شي چې دا تعليم چې زۀ ئې ورکوم دا د هغۀ له طرفه دی.**

(يوحنا ۷: ۱۷)

د پطروس رسول د اول خط دويم باب دويم آيت په حقيقت کښې د يو حکم حيثيت ساتي. هلته کښې فرمايلي دي:

**د نوو پيداشوو په شان د خالص روحاني پيو خواهشمند اوسئ چې د هغو په وسيله د خلاصون موندلو د پاره لوئيږئ.**

خو کۀ چيرې تاسو د دې خواهشمند نۀ يئ نو څۀ انجام به وي؟ کۀ چيرې د مقدس کتاب تلاوت نۀ کوئ نو څۀ به وشي؟ چې کله يو ماشوم د سکول نه کور ته راشي او ډوډۍ نه خوري نو مور ئې پوه شي چې دۀ په لار کښې يا خو چولې خوړلې دي يا څۀ سموسې چې د هغې په سبب اوس د هغۀ زړۀ ډوډۍ ته نۀ کيږي. هم دغه حال زمونږ هم دی. کۀ چيرې مونږ دا دنياوي خوراک لکه فلمونه يا فلمي سندرې يا داسې نور څيزونه وګورو نو د هغې په وجه زمونږ دماغ ډک شي او زمونږ روحاني لوږه د دې په سبب مړه شي. په دې وجه زمونږ زړۀ د خدای پاک روحاني خوراک يعنې کلام پاک ته نۀ کيږي. د خدای پاک کلام پاک دی. مونږ له پکار دي چې د هغې عزت وکړو. خو د دې دا مطلب هيڅ کله نۀ دی چې مونږ دې مقدس کتاب په يو ښکلې کپړه کښې ونغاړو او اوچت د ور د پاسه ئې کيږدو. نه! داسې هيڅ کله هم نۀ ده پکار. کۀ چيرې تاسو غواړئ چې مقدس کتاب ستاسو په ژوندون باندې اثر وکړي نو تاسو له د هغې تلاوت پکار دی. کيدی شي تاسو غواړئ چې د هغې په غوره طريقې سره تلاوت وکړئ او د ياداشت د پاره ئې د خپل ځان سره هم وليکئ. تاسو داسې هم کولی شئ چې د خپلې

خوښې د آیت نه لاندې کرښه راکاږئ د پاره د دې چې بیا درته په آسانه ملاؤ شي. کۀ ستاسو دا نیت وي چې دغه آیت درته په آسانه ملاؤ شي نو دا څۀ بده خبره نۀ ده.

مونږ چې د کومو خلقو سره مینه کوو نو چې کله هم د هغوئ سره خبرې کوو نو مزه راځي او زر زر هغوئ سره د ملاوېدلو کوشش کوو. نو بې شکه چې هم دغه شان مونږ له پکار دي چې د مقدس کتاب د تلاوت خواهشمند یو او هم دغه شان د خدای پاک سره د خبرو کولو د پاره خواهشمند اوسو. مونږ له پکار دي چې هره ورځ د مقدس کتاب نه دا خبره معلومه کړو چې د نن د پاره خدای پاک مونږ ته خودنه کول غواړي.

## ب : دعا

چې څنګه هم ماشوم پېدا شي نو هغه خپلې مور ته د خپل ضرورت د څرګندولو قابل وي. چې کله هغه وړی شي نو د خپلې لوږې څرګندونه په ژړا سره کوي او په ډېره لږه موده کښې خبرې زده کوي. یو پلار د دې خبرې ډېر خواهشمند وي چې د هغۀ بچی د هغه سره خبرې وکړي. دغه شان زمونږ آسماني پلار هم غواړي چې د هغۀ بچي د هغۀ سره خبرې وکړي. دا یو څومره لویه د حق خبره ده چې مونږ د پاک خدای سره په دعا کښې نیغ په نیغه خبرې کولی شو. د مقدس کتاب نه د دعا په هلکه یو څو لوظونه ولولئ:

ما ته آواز وکړه نو زهٔ به جواب درکړم او لوئې لوئې ژورې خبرې کومې چې تاسو نهٔ پېژنئ په تاسو به څرګندې کړم.

(یرمیاه ۳۳: ۳)

وغواړئ نو دربه کړی شي

ولټوئ نو وبه مومئ

وټکوئ نو ور به درته بیرته شي.

څوک ئې چې غواړي هغه ئې اخلي

او څوک ئې چې لټون کوي هغه ئې مومي

او څوک ئې چې ټکوي هغهٔ ته ور بیرته کیږي.

(متي ۷: ۷- ۸)

ځکه چې د مالک سترګې د صادقانو طرف ته دي او د هغهٔ غوږونه د هغوئ د دعا د پاره څک دي.

(اول خط د پطروس ۳: ۱۲)

## ۱- مونږ له دعا کله کول پکار دي؟

**بې د څۀ ناغې نه دعا کوئ.**

(اول خط د تسالونيکيانو ۵: ۱۷)

**تل دعا غواړئ او زړۀ دې نۀ بائيلي.**

(لوقا ۱۸: ۱)

خدای پاک غواړي چې زمونږ سوچونه هر وخت دې په دعا کښې د هغۀ طرف ته وي. ياد ساتی چې کۀ مونږ په کور کښې يو يا په پټې کښې کار کوو يا په سفر يو يا د شپې ملاست يو نو کۀ مونږ هر وخت او کۀ هر ځای هم يو خو مونږ د خدای پاک نه دعا غوښتلی شو. د وخت مقرر کولو هيڅ ضرورت نشته. حضرت داؤد نبي به په ورځ کښې درې ځله دعا کوله. (زبور شريف **۵۵**: ۱۷) او د انجيل شريف نه خو دا خبره ښکاره ده چې مالک عيسیٰ مسيح به سحر وختي دعا کوله.

(مرقوس ۱: **۳۵**)

۲- مونږ له کوم ځای دعا کول پکار دي؟

**يا دا چې تاسو کله دعا کوئ نو د رياکارانو په شان مۀ جوړيږئ!**

**هغوئ دا ډيره خوښوي چې په عبادت خانو او چوکونو کښې د دعا**

د پاره ودرېږي چې هر څوک ئې ووینې. زهٔ تاسو ته دا وايم چې هغوئ خپل اجر پوره وموندلو. کله چې تاسو دعا کوئ نو خپلې کوټې نه ننوزئ، ور پورې کړئ، او خپل پلار ته په زارو شئ څوک چې د پردې په دغه ځای کښې موجود دی. او ستاسو آسماني پلار څوک چې پټ رازونه ویني هغه به بدل در کوي.

(متي ٦: ٥- ٦)

په دې آیاتونو کښې المسیح مونږ ته دا خودنه کوي چې مونږ کله هم دعا کوو نو پکار دي چې مونږ ځان له په یو خاموش ځای کښې دعا وکړو. کهٔ په کور کښې یو نو پکار دي چې مونږ د خپلې کوټې ور بند کړو. مطلب دا دی چې مونږ له په یو داسې ځای کښې دعا کول پکار دي کوم ځای چې څوک نه وي. کیدی شي چې ستاسو کور ډیر ګڼ وي او کهٔ تاسو په سکول کښې یئ نو په سکول کښې هم هر خوا ګڼ وي یعنې ستاسو د پاره به دا ګرانه وي چې تاسو ځان له شئ. خو بیا هم یاد ساتئ چې کوشش کوئ چې تاسو ځان له هم دعا وکړئ.

کله کله خو ځینې خلق دومره په غور او توجه سره دعا کوي چې د هغوئ نه کهٔ ګیر چاپېره هر څومره شور وي خو بیا هم په هغوئ څهٔ اثر نهٔ پریوزي هغوئ په دعا کښې دومره ور ډوب وي. کهٔ

چیرې په ګڼ ځای کښې دعا ضروري وي نو پکار دي چې تاسو هم داسې عمل وکړئ.

کۀ چیرې تاسو غواړئ چې دعا نه زیاته فایده پورته کړئ نو تاسو له پکار دي چې د دعا کولو په وخت د هر طرف نه د خپل ذهن تاخونه بند کړئ او د یو داسې ځای د لټولو کوشش کوئ چې کوم ځای ځان له وي. مونږ له پکار دي چې نورو خلقو ته د خودنې د پاره دعا ونۀ کړو او مونږ له ځکه هم د خلقو په مخکښې دعا نه ده پکار چې ږنې خلق مونږ ښۀ عیسایان وګڼي.

## ۳- مونږ له څنګه دعا کول پکار دي؟

چې کله مونږ دعا کوو نو مونږ له پکار دي چې هم یوه خبره بیا بیا نۀ کوو ځکه چې خدای پاک د ښۀ ښۀ لفظونو او اوږده دعا چې په کښې ښکلې ښکلې جملې استعمال شوې وي نه خوښوي. خدای پاک صرف د زړۀ دعا قبلوي!

د عیسیٰ مسیح مریدانو هغۀ ته خواست وکړو چې:

**ای مالکه، مونږ ته دعا کول وښایه.**

نو عیسیٰ مسیح ورته دا لاندې بیان شوې دعا وښودله او دې دعا ته دعای رباني ویلی شي ځکه چې په حقیقت کښې هم دا هغه دعا ده کومه چې هغۀ خپلو مریدانو ته ښودلې وه.

ای په آسمان کښې زمونږ پلاره!

ستا نوم دې پاک وي،

ستا بادشاهي دې راشي،

ستا مرضي دې په زمکه پوره شي

څنګه چې په آسمان کښې پوره کيږي.

مونږ ته نن خپل نښۍ رزق راکړه.

زمونږ قصورونه معاف کړه

لکه څنګه چې مونږ خپل قصوروار معاف کړي دي.

او مونږ په آزميښت کښې مۀ اچوه

خو مونږ له د بدي نه امان راکړه

ولې چې بادشاهي او قدرت

او لوئي تر هميشه پورې ستا دي. آمين.

(متي ٦: ٩- ١٣)

د دعا د مثال نه کومه چې مونږ ته مالک عیسیٰ مسیح وښودله دا خبره معلومولی شو چې مونږ له په خپله دعا کښې کومې کومې خبرې شاملول پکار دي.

## ۴- په دعا کښې حمد و ثنا کول

یاد ساتئ چې کله هم مونږ خدای پاک ته متوجه کیږو نو مونږ له هغۀ ته پلار ویل پکار دي. ورسره په داسې زړۀ ورتیا هغۀ له راشو لکه څنګه چې مونږ خپل پلار له ورځو. مونږ له یاد ساتل پکار دي چې خدای پاک یوه پاکه هستي ده. نو مونږ له پکار دي چې ډیر په ادب او احترام سره هغۀ له راشو ځکه چې مونږ له خدای پاک ته هم هغه عزت ورکول پکار دي کوم چې د هغۀ حق دی.

## ۵- په دعا کښې شکر کول

مونږ له د خدای پاک د ټولو برکتونو د پاره شکر کول پکار دي په خاص طور باندې د ګناه د خلاصون د پاره. د خپل ضرورتونو د پاره کوم چې زمونږ په ژوندون کښې ضروري دي د هغې په هکله ئې په اول تسالونیکیانو ۵: ۱۸ کښې لیکلي دي:

په هر حال کښې شکر کوئ

ځکه چې په عیسیٰ مسیح کښې ستاسو په هکله

د خدای دغه رضا ده.

## ۶- په دعا کښې د ګناهونو اقرار کول

خدای پاک غواړي چې مونږ بلکل په ډاګه د خپلو ګناهونو اقرار وکړو او بیا د هغې ترېنه بخښنه وغواړو. خو دعا د دې نه هم مخ په وړاندې ځي. مونږ له پکار دي چې د ګناهونو نه د بچ کېدو د پاره او په هر یو آزمیښت باندې د غالب راتلو د پاره د طاقت دعا وغواړو.

## ۷- په دعا کښې خواست کول

مونږ له د خپلو ضرورتونو د پاره دعا کول پکار دي لکه د خوراک او د جامو د پاره یا د عقل او د قوت د پاره. او چې څنګه مالک غواړي هم هغه شان ژوندون تیر کړو.

## ۷- په دعا کښې د نورو د پاره بخښنه غوښتل

مونږ له پکار دي چې په دعا کښې د خپلو ضرورتونو نه علاوه د نورو د پاره هم دعا وکړو لکه د خپل حکومت او د حاکمانو د پاره. (اول خط د تیموتیوس ۲: ۲ ولولئ.) او د هغه خلقو د پاره کوم چې د کلام پاک تبلیغ کوي. (کولوسیان ۴: ۳ ولولئ.) او د خپلوانو او د دوستانو د پاره هم دعا وکړو او په خاص

طور باندې د هغو د پاره کومو چې په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان نۀ دی راوړی. او ورسره مونږ له د خپلو دښمنانو د پاره هم دعا کول پکار دي. (متي **۵: ۴۴** ولولئ.)

## ۹- مونږ ته به دا څنګه پته لګي چې خدای پاک زمونږ دعا قبوله کړله؟

کۀ مونږ غواړو چې خدای پاک زمونږ دعا قبوله کړي او جواب ئې راکړي نو مونږ له پکار دي چې د دعا هغه ټول شرطونه پوره کړو کوم چې خدای پاک مقرر کړي دي.

الف: خدای پاک به د اصلي توبه ګار دعا همیشه آوري. لکه مثال په طور په لوقا ۱۸ : ۱۳ کښې: "ای خدایه، په ما ګناه ګار باندې رحم وکړه." نو هله خدای پاک د هغوئ دا توبه واوري.

ب: زمونږ په ژوندون کښې څۀ داسې ګناه نۀ ده پکار چې د هغې مونږ ته پته هم وي خو بیا هم دې خبرې ته تیار نۀ یو چې مونږ د هغې نه توبه وباسو او اقرار ئې وکړو. په زبور شریف کښې ئې لیکلي دي:

کۀ چیرې زۀ بدي په خپل زړۀ کښې ساتم

نو رب په زما نۀ آوري.

(زبور شریف ٦٦: ١٨)

پ: دا هم ضروري ده چې مونږ د خدای پاک د مرضۍ په مطابق دعا وکړو ځکه چې خدای پاک پوهیږي چې زمونږ د پاره څۀ غوره دي. خدای پاک زمونږ هر یو خواست یا هر یوه دعا نۀ قبلوي. ځکه چې کله کله مونږ د خپلې ناپوهۍ په سبب داسې دعا غواړو کومه چې زمونږ د پاره د نقصان سبب ګرزي. په انجیل شریف کښې راځي:

**مونږ په دې زړۀ ورتیا سره خدای ته ودرېدی شو چې کۀ مونږ د هغۀ د مرضۍ په مطابق سوال ترې نه کوو نو هغه زمونږ آوري. او مونږ په دې پوه یو چې خدای زمونږ خبرې آوري او مونږ په دې هم پوهیږو چې مونږ چې څۀ غواړو هغه یې راکوي.**

(اول خط د یوحنا په نوم ٥: ١٤- ١٥)

ت: مونږ له دا ایمان ساتل پکار دي چې خدای پاک زمونږ دعا قبلوي او مونږ ته زمونږ د دعاګانو جواب په مختلفو وسیلو سره راکوي. کله کله خدای پاک هو کوي او زمونږ دعا قبلوي خو کله کله انکار کوي. کیدی شي چې مونږ ته دا پته نۀ لګي چې خدای پاک انکار ولې کوي خو بیا هم مونږ له د خدای پاک جواب په هو کښې منل پکار دي ځکه چې دا خبره یاده ساتۀ

چې خدای پاک زمونږ مستقبل ته ګوري کوم چې مونږ ته نۀ ښکاري خو هغه پوهیږي چې زمونږ د پاره څۀ غوره دي. کله کله خدای پاک مونږ ته دا خودنه کوي چې مونږ دې د جواب د پاره انتظار وکړو. کیدی شي چې دا خبره منل ستاسو د پاره ګرانه وي ځکه چې حالاتو نه خو داسې ښکاریږي چې خدای پاک بلکل زمونږ دعا نه قبلوي. خو په داسې حالاتو کښې مونږ له پکار دي چې دعا وکړو او ایمان مضبوط وساتو نو هغه به خامخا جواب راکوي.

ج : بله دا خبره ده چې مونږ له پکار دي چې مونږ کله هم دعا کوو نو د عیسی مسیح په نوم کښې غوښتل پکار دي ځکه چې په مونږ کښې خپل څۀ داسې قابلیت یا خوبي نشته چې د هغې په سبب مونږ خدای پاک ته نژدې شو. خو هر وخت چې عیسی مسیح په سولئ باندې خپل ځان قربان کړو نو هغۀ خدای پاک ته د رسېدلو لاره کلاؤ کړله. او مونږ د عیسی مسیح په وسیله د خدای پاک سره خبرې کولی شو ځکه چې هغه په انجیل شریف کښې فرمائي:

"کۀ چیرې تاسو زما په نوم د پلار نه چې څۀ وغواړئ

نو هغه به ئې درکوي"

(یوحنا ۱۶: ۲۳)

مونږ د بادشاه يعنې د آسمان شهنشاه بچي يو او هغه په هر يو ځيز باندې قدرت لرونکی دی. هغه هر څهٔ کولی شي. هغه غواړي چې مونږ د دعا په انداز کښې هغهٔ له ورشو. هغه فرمائي:

**تر اوسه پورې تاسو زما په نوم هيڅ نهٔ دي غوښتې. وغواړئ او دربه کړی شي په دې چې ستاسو خوشحالي مکمله کړې شي.**

**(يوحنا ١٦: ٢٤)**

په دعا کولو کښې مهٔ شرميږئ او مهٔ ويريږئ. په دې انتظار کښې اوسئ چې خدای پاک به له تاسو نه يو مضبوط عيسائي جوړ کړي. او دا خبره ياده ساتئ چې د خدای پاک مقدس روح ستاسو په زړهٔ کښې استوګنه کوي. هغه به درته د دعا کولو ټول انداز وښائي او ورسره به ستاسو مدد هم کوي. په انجيل شريف کښې د دې په هکله دا خبره راځي:

**روح القدس هم په دې شان زمونږ په کمزورتياؤ کښې مدد کوي. مونږ ته دا هم نهٔ ده معلومه چې دعا څنګه کول پکار دي خو روح القدس په اسويلو زمونږ شفاعت کوي چې په لفظونو کښې نهٔ شي بيان کيدلی.**

**(خط د روميانو په نوم ٨: ٢٦)**

## ج : تعلقات

د مقدس کتاب د تلاوت او د دعا غوښتلو نه علاوه یو بل ځیز هم شته کوم چې ستاسو د روحاني ترقئ د پاره ډیر ضروري دی. هغه بل ځیز دی د نورو ریښتینو ایماندارو سره تعلقات ساتل.

ستاسو د عیسائیت ژوندون په مثال د اور د لرګو دی چې څنګه لرګی په اور کښې د نورو لرګو سره ورګذار کړې نو سمدستي لمبه شي او اور نور هم تیز شي. خو کۀ چیرې تاسو ترې نه خپل لرګی لرې کړئ نو په مزه مزه به هغه اور مړ شي.

دغه شان ځینې خلق وائي: زۀ ځان له هم یو ښه عیسائي جوړیدی شم، ما ته جماعت ته د تلو ضرورت نشته او نۀ د وعظ د آوریدلو ضرورت ما ته شته.

خو یاد ساتئ چې دا قسمه سوچ کول بلکل غلط دی ځکه چې مقدس کتاب په واضیحه طور سره مونږ ته دا تعلیم راکوي :

**او د یو بل سره د عبادت د پاره جمع کېدو نه منع نۀ شو لکه څنګه چې د ځینو خلقو دستور دی بلکې یو بل ته نصیحت وکړو.**

(عبرانیانو په نوم خط ۱۰ : ۲۵)

د دې آيت نه مونږ دا خبره زده کوو چې کۀ مونږ جماعت ته ځو نو د يو بل حوصله افزائي به کوو. جماعت هغه دی کوم چې خدای پاک په دې اوسنۍ زمانه کښې د خپل کار د پاره غوره کړی دی. تاسو ته ضرورت د دې خبرې دی چې مونږ د نورو عيسايانو سره تعلقات وساتو د پاره د دې چې هغوئ ستاسو په روحاني طور په ترقۍ کولو کښې مدد وکړي او تاسو ته خودنه وکړي او ستاسو رهنمائي وکړي. چې کله په غلطه سر يئ نو تاسو ته به سمه لار خودنه کوي او تاسو ته د مينې او د دوستي لاس درکړي. او ورسره جماعت ته ستاسو ضرورت دی ځکه چې تاسو به د نورو مدد کوئ. مونږ به د جماعت په هکله نور وضاحت بيا وکړو.

## سوالونه

١- د ايماندارانو د روحاني ژوندون د پاره خوراک څه دی؟

____________________________________________

____________________________________________

٢- د خدای پاک د کلام پاک نه د خوراک حاصلولو څلور مختلفې طريقې کومې دي؟

____________________________________________

____________________________________________

۳- لوقا ۹: ۱۲- ۱۷ پورې آیاتونه ولولي او بیا د دې سوالونو جوابونه ورکړئ.

______________________________________________

______________________________________________

* په دې کښې د کومو خلقو بیان راځي؟

______________________________________________

* هغوئ څۀ وکړل؟

______________________________________________

* آیا هغوئ څۀ داسې ګناه وکړله کومه چې تاسو ته نۀ دي کول پکار؟

______________________________________________

* آیا هغوي څۀ داسې نیک کار یا ښۀ کار وکړلو کوم چې تا له هم کول پکار دي؟

______________________________________________

* دا آیت د المسیح عیسی په هکله څۀ خودنه کوي؟

______________________________________________

۴- د خدای پاک د کلام د تلاوت نه پس تا له د هغې په هکله څۀ کول پکار دي؟

________________________________________________

________________________________________________

**۵**- آیا خدای پاک دا غواړي چې د هغهٔ خلق دعا وکړي؟ د دې په هکله د مقدس کتاب کوم یو آیت څهٔ خودنه کوي؟

________________________________________________

________________________________________________

۶- مونږ له څو ځله دعا غوښتل پکار دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۷- خدای پاک همیشه مونږ له هغه څهٔ نهٔ راکوي کوم چې مونږ د هغهٔ نه په دعا کښې غواړو ولې؟

________________________________________________

________________________________________________

۸- د دعا د جواب د پاره خدای پاک کوم شرطونه مقرر کړي دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۹- مالک عیسی مسیح چې کومه دعا خپلو مریدانو ته وښودله د هغې په یاده یادول به ستا د پاره غوره وي. دا دعا چې تهٔ د

نمونې په طور خپلې مخې ته کيږدې نو تا له په دعا کښې کومې خبرې شاملول پکار دي؟

_________________________________________________

_________________________________________________

۱۰- تاسو ته د نورو ايماندارانو د تعلقاتو ولې ضرورت شته؟

_________________________________________________

_________________________________________________

# څلورم باب
# ستاسو بدن

## الف : د خوراک په هکله ضروري حکمونه

په تورات شریف او زبور شریف کښې او د نبیانو په صحیفو کښې د بني اسرائیلو یو تاریخ بیان شوی دی. خدای پاک هغوئ د یو خاص کار د پاره د یو غوره امت په طور غوره کړي وو. خدای پاک غوښتل چې بني اسرائیل یو داسې بې داغه ژوندون تیر کړي کوم ته چې نور خلق وګوري. نو دا خبره محسوس کیږي چې خدای پاک به د هغوئ سره مینه کوله او هغوئ به د بتانو په ځای د هغه ریښتوني خدای عبادت کولو. خدای پاک غوښتل چې هغوئ د هغۀ خاص خلق وي. نو څنګه چې خدای قدوس دی نو پکار وو چې د خدای د خلقو چال چلن هم پاک وي. په دې سبب خدای پاک هغوئ ته خاص حکمونه ورکړل. نو خدای پاک هغوئ ته د کروندې په هکله ان تر دې پورې چې خوراک څښاک هدایات ئې هم ورکړل. مونږ دغه هدایات په تورات شریف کښې د احبار په سیپاره کښې په ۱۱ : ۱- ۲۳ پورې آیاتونو کښې لوستلی شو. هغۀ د هغه ځاروو په هکله چې د کومو پنجې ځیرلې وي او ورسره شخوند هم ماتوي او د پوستک نیونکي کبانو او د نورو ځینو مارغانو د خوراک

اجازت ورکړو او هغوئ ئې د خنزیر، د اوښ او د متهې کبانو او د ګونګیانو او د ملاجرجک د خوراک نه منع کړل او د دې په شان نور څیزونه هم د هغوئ د پاره ناپاکه (حرام) وو.

د یهودیانو په نزد نه یوازې د خوراک ځینې حرام وو بلکې د هغوئ دا خیال ؤ چې هغوئ د غیرو یهودیانو سره خوراک څښاک هم نۀ شي کولی او نۀ هغوئ د غیرو یهودیانو سره څۀ غم غرض لرلو. د هغوئ دا ایمان ؤ چې خدای پاک صرف او صرف د یهودیانو سره مینه کوي او پاتې نور خلق د ګناهونو نه خلاصون نۀ شي موندلی.

کله چې مالک عیسیٰ مسیح آسمان ته ختلو نو د هغې نه لږه شیبه وړاندې هغۀ خپلو مریدانو ته دا حکم ورکړو:

**تاسو په زمکه خوارۀ شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ.**

مریدانو خو تش دا خیال کولو چې زیری تش د یهودیانو د پاره دی. هغوئ په دې خبره نۀ پوهیدل چې ربنې عیسی مسیح د ټولې دنیا د خلقو د پاره په سولئ قربان شو. خو خدای پاک غوښتل چې هغوئ په دې اهم حقیقت باندې پوه شي.

ټولو مریدانو خو پطروس رسول ته د مشر په حیثیت سره کتل. د دې وجې نه په دې هکله خدای پاک د ټولو نه اول هم هغۀ ته تعلیم ورکړلو. یوه ورځ پطروس رسول د غرمې ډوډئ ته

کښېناستلو نو هغه پاس په چت ناست ؤ او دعا ئې کوله چې ناڅاپي ئې يوه رويا وليدله. هغهٔ يو لوی څادر د آسمان نه په راکوزيدو وليدلو. په هغه څادر کښې هر قسمه څاروي، څوليدونکي ځناور او مارغان وو. او بيا پطروس يو آواز واوريدلو چې

**پاڅه پطروسه! حلال ئې کړه او وئې خوره!**

خو پطروس په ډيرې وېرې سره جواب ورکړو چې

**نهٔ، مالکه ! زما خولې ته لا تر اوسه حرام او ناپاک څيز نهٔ دی ننوتی!** نو د آسمان نه په دوباره آواز راغلو چې:

**کوم څيزونه چې خدای پاک کړي دي هغو ته حرام ويل ستا کار نهٔ دی.**

**(اعمال د رسولانو ۱۱: ۹)**

د دې واقعې نه بنيادي تعليم دا حاصليږي چې د گناهونو نه خلاصون د هر قوم او د هر نسل د خلقو د پاره دی. خو مونږ د دې نه دا خبره هم معلوموو چې خدای پاک د خوراک ټول څيزونه حلال کړل. نو په دې سبب د عيسايانو ايماندارانو د پاره د خوراک په هکله هيڅ قسمه پابندي نشته.

په مرقوس ۷: ۱- ۲۳ کښې يو زبردست مثال شته. د يهوديانو مشرانو وليدل چې د مالک عيسی مريدان په سخا ناوينځلو لاسونو ډوډۍ خوري. مشرانو مالک ته د دوئ شکايت وکړو چې "ستا مريدان د مشرانو د رواياتو پابندي ولې نۀ کوي چې په ناوينځلو لاسونو ډوډې خوري؟" ډيرې خبرې وشولې خو په اخر کښې مالک عيسی دا خبره وويله:

تاسو هم د نورو غوندې ناپوهه يئ؟ تاسو دا نۀ وينئ چې د بهر نه چې هر څۀ په انسان کښې ننوزي په دې هغه نۀ پليتيږي. . . څۀ چې د انسان نه وزي هم هغه سړی پليتوي ځکه چې د انسان د زړۀ نه بد خيالونه راوزي، حرام کارئ، غلاګانی، خونونه، زنا کاری، حرص، بدی، ټګی، بې شرمی، بد نظر، کفر، معرورتيا او بې وقوفي. دا ټول بد کارونه دننه نه راوزي او دا سړی پليتوي.

عيسايان د هر خوراک د پاره آزاد دي.

ځکه چې د خدای هر پيدا کړی څيز ښۀ دی او هيڅ څيز د انکار لايق نۀ دی خو په دې شرط چې د شکرګزارئ سره وخوړی شي.

(اول خط د تيموتيوس په نوم ٤: ٤)

دا خبره هم د ځان سره یاده ساتئ چې ستاسو نه ګیر چاپیره د نورو مذهبونو خلق هم اوسیږي چې تاسو ته معلومه ده چې د یو څیز د خوراک په سبب ستاسو ګاونډی تیندک خوري. نو تاسو د هغهٔ په مخکښې هیڅ یو داسې څیز مهٔ خورئ د کوم په سبب چې هغه تیندک خوري.. د غوښې په یو دوؤ پوټو باندې خپل ګاونډی ولې تباه کوئ؟ په انجیل شریف کښې ئې دا هم لیکلي دي:

د خوراک د پاره د خدای کار مهٔ ورانوئ.

(د رومیانو په نوم خط ١٤: ٢٠)

## ب: هغه څیزونه کوم چې د خوراک د پاره نقصاني دي

ځینې خلق د خپل بدن ډیر خیال ساتي او مناسب خوراک کوي او هره ورځ لامبي او صفا ستره اوسیږي خو ورسره زهر هم اخلي.

د دې څهٔ مطلب دی؟ چې د کومو زهرو مونږ بیان کوو هغه په اَصل کښې نکوټین دی کوم چې په سیګرټو او تماکو کښې موندلی شي. د دې نه علاوه ځینې خلق نسوار کوي یا افیم خوري. بې شکه چې مقدس کتاب مونږ ته دا ښودنه نهٔ کوي چې تاسو سیګرټ مهٔ څښئ او یا دا قسمه نور څیزونه مهٔ استعمالوئ. خو د دې په ځای ډیر په صفایئ سره مقدس کتاب دا تعلیم ورکوي:

**آیا تاسو نهٔ يئ خبر چې ستاسو بدن د روح القدس کور دی چې په تاسو کښې اوسي او تاسو ته د خدای د طرف نه در کړی شوی دی؟ او تاسو د خپل ځان نهٔ يئ ځکه چې خدای تاسو په بيعه اخيستي يئ! نو بيا د خپل بدن نه د خدای جلال ښکاره کړئ.**

(اول خط د کورنتيانو ٦: ١٩- ٢٠)

چې خلق مقبرې ته ځي يا د چا زيارت له ورځي نو هغوئ د خپلو پښو نه پيزار وباسي او داسې ځکه کوي چې هغوئ د هغه ځای احترام کوي. د مقدس کتاب تعليم دا دی چې کله هم مونږ عيسی مسيح خپل خلاصوونکی او مالک قبلوو نو پاک روح زمونږ په زړونو کښې استوګنه کوي او زمونږ بدن د هغهٔ کور جوړيږي. پس مونږ له پکار دي چې مونږ خپل بدن د هر قسمه لوږو او د بدبويئ او د سيګرټو نه ساتو.

## ١- سيګرټ

زهٔ به درته د دې په هکله يو بله طريقه بيان کړم. تاسو ئې ښهٔ په غور سره واورئ. خدای پاک مونږ ته دا بدن د خپل جلال د پاره راکړی دی. علاج کوونکو ماهيرينو دا خبره ثابته کړې ده چې د سيګرټ د څښلو په سبب په شونډو او په پيپړو کښې د کينسر مرض راپيدا کيږي. چې کله مونږ د چا په هکله دا آورو چې

فلانکي خودکشي وکړه نو په مونږ ویره راشي. خو یاد ساتئ چې ډیر په کروړونو خلق داسې دي کوم چې سیګرټ څښښي او په مزه مزه ځان د هلاکت طرف ته د خپله لاسه بوزي. نو په خود کشئ او په دې کښې څۀ فرق دی؟ یو ایماندار له دا نۀ دي پکار چې هغه د خدای دا لویه تحفه کومه چې د بدن په شکل کښې ده ورته څۀ نقصان ورسوي.

## ۲ - شراب

یوه بله طریقه ده چې د هغو په وسیله خلق خپلو بدنو ته نقصان رسوي. هغوئ شراب څښښي. مقدس کتاب د نشه کیدلو په هکله سخت منعیت کوي چې د هغې د بیان کولو هم ضرورت نشته. کۀ چیرې تاسو یو ایماندار یئ نو تاسو ته پکار دي چې د خدای پاک د کلام پاک تابعداري وکړئ.

مې ټوقه کوي او شراب جنګ کوي.

څوک چې په دې دوکه شوي وي کم عقل خو دي.

(متلونه ۲۰: ۱)

او په شرابو مست کیږئ مۀ.

(د افسیانو په نوم خط ۵: ۱۸)

څوک دی چې همیشه په تکلیف کښې دی؟
څوک دی چې شکایتي او جنګ مار دی؟
څوک دی چې ژوبل او زخمي شوی دی؟
څوک دی چې سترګې ئې سرې دي؟
هغه چې تر ناوخته پورې ویښ دی چې نورې مې وڅښي.
مې ته مۀ ګوره چې سوروالی ئې په جام پریوزي!
ځکه چې هغه لکه د مار په شان چیچل کوي،
او لکه د ښامار په شان ټک لګوي.

(متلونه ۲۳: ۲۹- ۳۲)

## پ : صفا سترا اوسیدل

چې کومه تبدیلي ستاسو په ژوندون کښې راغلې ده پکار ده چې هغه نورو خلقو ته هم ښکاره شي. په دویم خط د کورنتیانو ۷: ۱ کښې ئې لیکلي دي:

راځئ چې مونږ خپل ځانونه

**د هر قسمه جسماني او روحاني ناپاکونه پاک کړو.**

راځئ چې اول د بدن په هکله خبرې وکړو. مونږ درته اول دا ښودنه وکړله چې زمونږ بدن د روح القدس مقدس ځای دی:

**آیا تاسو خبر نهٔ يئ چې تاسو د خدای کور يئ**

**او د خدای روح په تاسو کښې اوسي.**

**(اول خط د کورنتيانو ۳: ۱۶)**

فرض کړه چې ستاسو کور ته صدر راتلل غواړي. نو په داسې وخت کښې به تاسو څهٔ کوئ؟ تاسو به خپل کور ښه صفا ساتئ د پاره د دې چې کله هغه عزت مند او ګران ميلمه ستاسو کور ته راشي چې کور ورته بې داغه ښکاره شي. نو هم دغه شان پاک روح هم نهٔ يوازې ميلمه دی بلکې هغه ستاسو په زړهٔ کښې په يو مخ استوګنه کوي. نو چې هغه په سخا کور کښې اوسيږي نو دا څومره د شرم خبره ده. کيدی شي چې تاسو دولت مند نهٔ يئ تر دې پورې چې خپلې جامې هم په دوبي نهٔ شئ وينځلې خو بيا هم چې څومره دې وس رسي نو د خپل ځان او د جامو د پاکو ساتلو کوشش کوئ.

اوس د يو ايماندار په حيثيت تاسو له پکار دي چې نور خلق هم د عيسی مسيح قدمونو ته راولئ. مخکښې د دې نه چې تاسو د هغوئ سره د مالک المسيح په هکله خبرې وکړئ چې اول هغوئ

ستاسو ظاهري جامو ته وګوري. کۀ چیرې ستاسو جامې ټولې سخا وي او ویښتۀ دې ټول د خاورو نه ډک وي او د خلې نه دې سخا بوي ځي نو آیا هغوئ به ستاسو کلام ته غوږ کیږدي؟ نه، .هیڅ کله نه!

خپل بدن او جامې صفا سترا ساتل د ټولو نه لویه او اهم خبره ده خو خپل باطن پاک ساتل د دې نه هم اهم دي. دویم خط د کورنتیانو ۷: ۱ کښې دا خودنه شوې ده چې مونږ دې خپل ځان د هر قسمه ناپاکو نه پاک کړو. دا یوه ګرانه خبره ده. د افسیانو ۴: ۱۷- ۳۲ کښې مونږ ته د داسې ګناهونو په هکله خودنه شوې ده چې کۀ چیرې مونږ په عیسی مسیح باندې د ایمان راوړلو نه پس ځان د دې نه بچ وساتو نو بیا به په خپل ځان کښې هغه تبدیلي وګورو کومه چې خدای پاک په مونږ کښې لیدل غواړي. راځئ چې د افسیانو په نوم د خط نه مونږ په دې لاندې خبرو باندې غور وکړو.

# د تبدیل شوي ژوند نقشه

| زړې خبرې | افسیانو | نوې خبرې |
|---|---|---|
| ۱- دروغ وائیل | ۴: ۲۵ | نو بس دروغ ویل پریږدئ او هر څوک دې د خپل ګاونډي سره رښتیا وائي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۲- غلا کول | ۴: ۲۸ | غل دې بیا غلا ونهٔ کړي بلکې څهٔ ښهٔ کسب دې شروع کړي او په خپلو لاسونو دې محنت او ګټه کوي د دې د پاره چې حاجتمندو ته د ور کولو د پاره د هغهٔ سره هم څهٔ وی. |
| ۳- خرابې خبرې | ۴: ۲۹ | ستاسو د خلې نه دې هم یوه خرابه خبره ونهٔ شي بلکې هغه ښهٔ خبره چې د ضرورت په مطابق د ترقئ د پاره غوره وي. |
| ۴- تریخوالی قهر ،عضب | ۴: ۳۱ | هر یو په بل مهربانه اوسئ او یو تر بله نرمي کوئ. |
| ۵- بد خویونه | ۴: ۳۱، ۳۲ | هر یو په بل مهربانه اوسئ او یو تر بل نرمي کوئ. |

۱- دروغ ویل (د تبدیل شوي ژوند نقشې ته ګورئ.)

نن صبا خلق څهٔ کوي؟ داسې ښکاري چې هر سړی دروغ وائي. آیا د دې مطلب دا دی چې یو ریښتوني ایماندار له هم دروغ ویل پکار دي؟ نه، هیڅ کله هم نه. یو ایماندار له پکار دي چې همیشه رښتیا ووائي او په خلقو باندې دا خبره ظاهر کړي چې هغه د مالک عیسی مسیح منونکی دی.

نو بس دروغ ویل پریږدئ
او هر څوك دې د خپل ګاونډي سره رښتیا ووائي.

## ۲- غلا کول

ځینې خلق لوفري کوي. کار نۀ کوي. څوک چې کار نۀ کوي پیسې د کوم ځان نه پیدا شي؟ هغوئ نه چې کار کوي! خدای پاک غواړي چې هر څوک دې خپل خپل کارونه په ایماندرائ سره وکړي او د خپل ضرورت په مطابق د څۀ د ځان سره پریږدي او پاتې دې په خوارانو وویشي.

غل دې بیا غلا ونۀ کړي بلکې څۀ ښۀ کسب دې شروع کړي او په خپلو لاسونو دې محنت او ګټه کوي د دې د پاره چې حاجتمندو ته د ور کولو د پاره د هغۀ سره هم څۀ وي.

## ۳- خرابې خبرې

د بنیادم د خبرو نه دا څرګندیږي چې هغه کوم قسمه بنیادم دی. یو ایماندار له هم د خلې نه خرابې خبرې ویستل نۀ دي پکار او نۀ ورله قسم خوړل پکار دي.

ستاسو د خلې نه دې هم يوه خرابه خبره ونۀ شي بلکې هغه ښۀ خبره چې د ضرورت په مطابق د ترقئ د پاره غوره وي.

## ۴- تريخوالی، قهر، غضب

ځينې کسان داسې هم شته چې هغوئ د نورو په هکله چغلی کوي او د يو بل په هکله ډنډورې خوروي. يو ايماندار له په دا قسمه خبرې کول نۀ دي پکار. هغوي له هيڅ کله هم په داسې قسمه خبره هم نۀ ده کول پکار چې د هغې په وجه د چا بل چا زړۀ خفه شي.

هر يو په بل مهربانه اوسئ او يو بل له نرمي کوئ.

## ۵- بد خويونه

چې کله هم د چا سره بد کيږي نو هغه وائي چې زۀ به ترينه د دې بدل اخلم. خو ياد ساتئ چې يو عيسائي ايماندار له هيڅ کله هم داسې کول نه دي پکار بلکې هغۀ له پکار دي چې خپل دښمنان وبخښي.

هر يو په بل مهربانه اوسئ او يو تر بله نرمي کوئ.

## ت: پاکوالی

د بدن او ذهن د پاکولو د پاره یوه بله خبره هم کول ضروري ده. مقدس کتاب د دې په هکله ډیر په صفایۍ سره بیان کوي او فرمائي:

**د حرام کارۍ نه تښتئ. سړی چې څومره نور ګناهونه کوي هغه د بدن نه بهر دي.**

(اول خط د کورنتیانو ٦: ١٨)

نو راځئ چې مونږ په دې خبره باندې خپل ځان پوه کړو ځکه چې خدای پاک دا نۀ وائي ږنې د ښځې او د خاوند ملاسته ګناه ده. ځکه چې خدای سړی او ښځه د دې د پاره په یوه رشته کښې وتړل چې د یو بل سره یو ځای پاتې شي او مزه پورته کړي. مقدس کتاب د دې په هکله فرمائي:

**وادۀ په تاسو ټولو کښې د عزت خبره وګڼلی شي.**

**او ښځه او خاوند دې د یو بل وفادار پاتې شي.**

(د عبرانیانو په نوم خط ١٣: ٤)

د کورنتیانو په نوم اول خط په ٧: ١- ٥ کښې ښځو او خاوندانو ته تعلیم ورکړی شوی دی چې هغوئ دې د یو بل د بدن نه مزه پورته کړي او د خدای پاک رحمت به د دوئ په ژوندون

باندې وي. خو د ښځې او د خاوند د جسماني تعلق نه علاوه بل چا سره جسماني تعلق ساتل ګناه ده. په دې آخره زمانه کښې خلق د يو بل سره ډير بد تعلقات ساتي چې دلته کښې د هغې د بيانولو هيڅ ضرورت نشته. خو مقدس کتاب بيان کوي چې د داسې خبرو بيان کول هم د شرم خبره ده. بس دومره وينا کافي ده چې يو ايماندار له د هر قسمه حرامکارئ نه لرې اوسېدل پکار دي. دا لاندې آياتونه ولولئ او په هغې باندې عمل وکړئ.

خروج ۲۰ : ۱۴ ، متي ۵ : ۲۷ - ۲۸ ، د کورنتيانو په نوم اول خط ۲ : ۹ - ۱۰ د افسيانو په نوم خط ۵ : ۳ - ۵ ، د تسالونيکيانو په نوم اول خط ۴ : ۳ - ۸ ، د عبرانيانو په نوم خط ۱۳ : ۴ ، متلونه ۲ : ۲۳ - ۳۲ ، متلونه ۷ : ۲ - ۲۸ .

مونږ د بدن په هکله ډيرې خبرې کړې دي او درته مو ډير ځله دا خودنه وکړه چې فلانکی فلانکی کار يا خبره ونۀ کړئ. کيدی شي چې تاسو دا سوچ کوئ چې د دې خبرو پريښودل زما د پاره ګران دي ځکه چې دا زما عادت جوړ شوی دی. دا خبره هميشه ياده وساتئ چې مونږ هيڅ کله هم په داسې عادتونو باندې په خپل قوت سره دا نۀ شو پريښودلی. خو پاک روح به تاسو له طاقت درکوي! پس هغه کارونه يا هغه خبرې کومې چې ستاسو د وس نه بهر دي د هغې نه خپل سوچ دې لاندې دوۀ اصولو طرف ته راوګرځوئ او دا په يو کاغذ باندې وليکئ او په خپله کوټه يا کمره

کښېٔ ئې آویزاند کړئ د پاره د دې چې ستاسو نظر په دې باندې هره ورځ پرېوزي.

نو یا چې تاسو څه خورئ یا څښئ یا کوئ
هر څۀ د خدای د جلال د پاره کوئ.

(اول خط د کورنتیانو په نوم ۱۰: ۳۱)

مسیح چې ما ته قوت راکوي
په هغۀ کښې زۀ هر څۀ کولی شم.

(خط د فیلیپیانو په نوم ٤: ۱۳)

نو اوس ای ورورو څومره خبرې چې رښتیا دي او څومره خبرې چې د شرافت دي څومره خبرې چې واجبې دي او څومره خبرې چې پاکې دي او څومره خبرې چې مینه ناکې دي او څومره خبرې چې ښائیسته دي غرض دا چې کومې د نیکئ او ستائینې خبرې دي په هغو غور کوئ.

(د فیلیپیانو په نوم خط ٤: ۸)

د هغهٔ الهي قدرت هغه ټول څیزونه کوم چې د ژوندون او دینداریٔ سره لازم دي مونږ ته د هغهٔ په پیژندګلو راکړل چې مونږ ئې د خپل خاص جلال او نیکئ په وسیله راوبللو، چې د هغې په وسیله هغهٔ مونږ سره قیمتي او ډیرې لوئې وعدې وکړلې چې د هغو په وسیله تاسو د هغې نفساني خرابئ نه چې په دنیا کښې دي بچ شئ او د خدای په شان صفتونه ولرئ.

(دویم خط د پطروس په نوم ۱: ۳- ٤)

## سوالونه

۱- آیا عیسایان د هر یو څیز د خوراک د پاره آزاد دي؟ آیا یوه داسې موقع هم شته چې کله دوئ یو څیز هم نهٔ شي خوړلی؟ ولې؟

________________________________________________

________________________________________________

۲- په دې وخت کښې ستاسو په زړهٔ کښې څوک استوګنه کوي؟ او دا خبره د مقدس کتاب کوم یو آیت بیان کوي؟

________________________________________________

________________________________________________

۳- یو ایماندار له ولې سیګرټ یا شراب څښل نۀ دي پکار؟

________________________________________________

________________________________________________

۴- کۀ چیرې یو ایماندار سیګرټ یا شراب څښي نو هغه به خلاصون مومي؟

________________________________________________

________________________________________________

۵- یو ایماندار له ولې خپل بدن صفا سترا ساتل پکار دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۶- هغه کومې زړې رویۍ دي کومې چې تاسو ته د خپل ژوندون نه ویستل پکار دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۷- هغه کومې نوې رویۍ دي کومې چې تاسو ته په خپل ژوندون کښې خپلول پکار دي ؟

________________________________________________

________________________________________________

۸- مونږ له د هر قسمه حرامکارئ نه ولې ځان ساتل پکار دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۹- د خپلو عادتونو د پرېښودلو د پاره تاسو کوم قسمه قوت موندلی شئ؟

________________________________________________

________________________________________________

۱۰- آیا تاسو دې خبرې ته تیار یئ چې د مقدس کتاب په رڼا کښې خپل عملي ژوندون جوړ کړئ؟

________________________________________________

________________________________________________

# پنځم باب
# ستاسو خاندان

یو نوي ایماندار عیسائي له پکار دي چې هغه د ټولو نه د خپل خاندان د روحاني حالت په هکله فکر وکړي او دا کوشش وکړي چې په کور کښې لکه د یو عیسائي په شان ژوندون تیر کړي. چې کله هم خدای پاک ورته لاړ سمه کړله نو خپله ګواهي دې د هغوئ په وړاندې واوروي د پاره د دې چې هغوئ هم په عیسی مسیح باندې ایمان راوړي. زۀ دا یقین لرم چې ستاسو به هم دا کوشش وي چې هغوئ هم په عیسی مسیح باندې ایمان راوړي.

## الف: خاوند دې خپلې ښځې سره څنګه سلوک وساتي؟

ډیرې کورنۍ د خپلې ښځې سره روب کوي چې خپله ښځه تابعداره جوړه شي. زۀ خو به دومره ووایم چې مونږ له خپله رویه لږه شان بدلول پکار دي او دا به غوره هم وي. خدای پاک ته خواست وکړئ چې هغه تاسو ته دا خودنه وکړي چې تاسو ته کوم قسمه رویه پکار ده. مونږ ستاسو د رهنمائې د پاره یو څو اهمې خبرې لیکو.

## ۱ - خاوند دې د خپلې ښځې سره پاتې شي.

کله کله خو په خاندان کښې صرف يو کس (کۀ هغه ښځه وي يا سړی) په مالک عيسی مسيح باندې ايمان راوړي او د دې په وجه ډير سخت تکليف پيدا کيږي. هر کله چې پولوس رسول د جماعتونو په جوړولو لاس پورې کړې ؤ نو ځينو کسانو د هغۀ نه پوښتنه وکړه چې کۀ چيرې زما ښځه يا خاوند په مالک عيسی مسيح باندې ايمان نۀ راوړي نو زۀ څۀ وکړم؟ آيا هغه پريږدم او د عيسائيت د قايم ساتلو د پاره دويم وادۀ وکړم؟

پولوس رسول چې په دې هکله د کورنتيانو په نوم جماعت ته څۀ وليکل هغه ولولئ:

**نورو ته هم زۀ وايم، نۀ چې مالِک، چې کۀ د چا ورور ښځه ايمانداره نۀ وي او د هغۀ سره په استوګنه راضي وي نو هغه دې هغه طلاقه نۀ کړي. او کۀ د کومې ښځې چې خاوند ايماندار نۀ وي او د هغې سره په استوګنه راضي وي نو هغه دې خاوند طلاق نۀ کړي.** (اول خط د کورنتيانو په نوم ۷: ۱۲- ۱۳)

يوه بله خبره هم په دې ماحول کښې کيږي. کله کله خاوند چيرته د کار په سلسله کښې لرې لاړ شي او خپل ماشومان او ښځه خاندانو سره پريږدي. چې خاندان ايمانداران دي او تاسو رشتيا

مجبور يئ نو خدای به ستاسو خدمت کوي. خو چې خاندان ايمانداران نۀ دي نو خپلې کورنۍ خاندان سره پريښودل بلکل ښۀ نۀ دی. ياد ساتئ چې د خاندان قيمت د روپو پېسو نه ډير زيات دی!

کۀ چيرې ستاسو زړۀ وي چې ستاسو ښځه ايمانداره شي نو تاسو له پکار دي چې تاسو د هغې سره يو ځای پاتې شئ. کۀ چيرې تاسو ترې نه لرې لاړ شې نو تاسو به ورته څنګه د عيسی مسيح د مينې په هکله خودنه وکړئ.

## ۲ - خاوند دې خپله ښځه په روب ونۀ ساتي.

په انجيل شريف کښې فرمائي:

**ای خاوندانو، د خپلو ښځو سره مينه کوئ لکه څنګه چې مسيح د جماعت سره مينه کړې ده او خپل ځان يئ د هغۀ د پاره مرګ ته سپارلی دی.**

**(د افسيانو په نوم خط ۵: ۲۵)**

**په تاسو کښې دې هم هر يو د خپلې ښځې سره د خپل ځان په شان مينه کوي.**

**(د افسيانو په نوم خط ۵: ۳۳)**

ډیر خاوندان د خپلې ښځې سره روب کوي. خیال خو دا دی چې ښځې د پوښتنې نه جوړې شوې دي. مطلب خو دا دی چې ښځې کږې دي. نو د دې په وجه روب یو ضروري څیز دی چې تابعداره جوړه شي.

خو د مقدس کتاب په مطابق د پوښتۍ نه د جوړیدلو مطلب دا نۀ دی چې نتیجه ئې کوږوالی دی. خدای پاک ښځه د دې د پاره پیدا کړې وه چې د سړي له پاره یوه ښه ملګرې جوړه شي. مقدس کتاب دا خبره فرمایلې ده:

او رب خدای ووئیل: "د آدم یواځې اوسیدل ښۀ نۀ دي، زۀ به د هغۀ د پاره یو ملګری د هغۀ په شان جوړ کړم.

(پیدایښت ۲: ۱۸)

مونږ لولو چې سړی یواځې ؤ او د دې په وجه د خدای پاک زړۀ وسوزیدو چې د دې حال ټیک شي.

نو رب خدای په آدم باندې دروند خوب راوستلو او هغه اودۀ شو او د هغۀ د پوښتو نه ئې یوه پوښتۍ راوویستله او هغه ځای ئې په غوښه ډک کړو. نو رب خدای د هغه پوښتۍ نه کومه چې ئې د آدم

**نه ویستلې وه یوه ښځه ئې ترې نه جوړه کړه او هغه ئې د آدم خوا ته راوستله.**

**(پیدایښت ۲: ۲۱- ۲۲)**

**مونږ د دې آیاتونو نه درې خبرې زده کوو. اول: د خدای نیت د ښځې په جوړیدلو کښې دا ؤ چې د سړي له پاره یوه ملګرې د سړي په شان جوړ شي. دویم: ښځه د پوښتئ نه جوړه شوه، نه د پښو نه چې د سړي نه ټیټه شي، نۀ د سر نه چې د سړي نه اوچته شي، او نۀ د لاس نه چې د سړي نوکره شي. هغه د پوښتئ نه جوړه شوه چې د سړي سره برابره شي. او دا مطلب هم په دې کښې شته چې پوښتئ زړۀ ته نژدې ده چې ښځه سړي ته ګرانه شي. دریم: چې خدای پوښتئ د سړي نه وویستله نو د هډوکي په ځای ئې غوښه واچوله. د دې نه مونږ دا زده کوو چې د ښځې اثر په سړي دا دی چې سړی لږ نرم شي.**

**مقدس کتاب خو دا ښائي چې حضرت آدم خوشحاله ؤ چې بي بي حوا ئې ولیده. هغه هم دا ووې:**

**اوس زما په شان څوک شته!**

**زما په جسم کښې شریکه ده، زما په هډوکي او غوښې کښې!**

**ښځه به دې ته وویلې شي**

**ځکه چې د سړي نه جوړه شوه.**

(پیدایښت ۲: ۲۳)

حضرت آدم به بلکل خوشحاله وو چې بي بي حوا ئې ولیدله. د خدای نیت د ښځې په پیدا کولو کښې پوره شو.

نو د دې په وجه مقدس کتاب سړو ته دا فرمائي:

**ای خاوندانو! دغه شان تاسو هم د خپلو ښځو سره په عقلمندئ سلوک ساتئ او ښځې نازک لوښی وګڼي، عزت ئې کوئ او داسې ګڼئ چې مونږ دواړه د ژوند د نعمت وارثان یو، د پاره د دې چې ستاسو دعا ګانې ایسارې نۀ شي.**

(اول خط د پطروس ۳: ۷)

چې سړی خپلې ښځې سره روب کوي هغه خپله ښځه لکه یوه نازکه لوښی په شان ګڼي؟ نه! نو د روب نقصان خو ډیر دي خو یو خاص نقصان دا دی چې خدای به د سخت خاوند دعا نۀ آوري!

نو دا آیت ولولئ:

**ای خاوندانو! د خپلو ښځو سره مینه لرئ**

**او د هغوئ سره ترخیږئ مۀ.**

(خط د کولوسیانو په نوم ۳: ۱۹)

کۀ چیرې په ښځه او خاوند کښې یو ایماندار نۀ وي نو هم په هغوئ دواړو باندې د وادۀ په هکله د خدای قانون یو برابر دی. هر یو خاوند له پکار وي چې په خپل کور کښې خپل طور طریقه صحیح وساتي او ورسره د مقدس کتاب دا فرمان هم یاد وساتي چې د خپلو ښځو سره د خپل بدن په شان مینه کوئ او په هغوئ باندې څۀ زور زیاتی مۀ کوئ. د دې په هکله تاسو ولولئ: خط د افسیانو په نوم **۵**: **۲۸ - ۲۹**.

یاد ساتي چې مونږ خپله ښځه په نسبت د نورو طریقو نه د مینې په ذریعه زر د عیسی مسیح د پاره ګټلې شو. د دې په هکله دا یوه رښتونې قیصه واورئ.

په چین کښې یو سړی ؤ کوم چې ډیر سخت جوارګر، ډاکو او شرابي هم ؤ. خو هر کله چې هغۀ په عیسی مسیح باندې ایمان راوړلو او هغه ئې قبول کړلو نو دستي د هغۀ ژوندون بدل شو. کوم بد کارونه به چې هغۀ کول هغه ئې دستي پریښودل او نۀ ئې غوښتل چې دوباره داسې کارونو ته لاس واچوي. هغۀ به هره ورځ خپله ښځه وهله او ټکوله او ډیر ظلم او زیاتی به ئې پرې کولو.

کیدی شي چې تاسو دا سوچ کوئ چې د هغۀ د ښۀ اخلاقو په سبب به د هغۀ ښځه ډیره خوشحاله شوې وي خو داسې نۀ وه. هغه د هغۀ په دې عمل باندې نوره زیاته خفه شوله چې دی ولې عیسائي شو؟ او په کور کښې به ئې هر وخت غوبل جوړ کړی ؤ تر دې پورې چې د خوراک او د کور د کار نه ئې هم لاس واخیستلو.

لنډه دا چې یوه ورځ هغه سړی یو مشر ایماندار له راغی او ورته ئې خپله ټوله قیصه واوروله او ورته ئې وویل چې زۀ به د ډیرې مجبورئ د لاسه عیسائیت پریږدم ځکه چې د دې نه بغیر بل څۀ علاج نۀ شته.

مشر ایماندار ورته وویل چې داسې قدم هیڅ کله هم پورته نۀ کړې. البته د دې نه علاوه یو بل قدم پورته کولی شې او هغه دا چې تۀ د خپلې ښځې سره ډیره مینه شروع کړه د پاره د دې چې د خدای پاک مینه هغه راونیسي او یوه ایمانداره ښځه جوړه شي.

دغه سړي د داسې عمل کول پخه اراده وکړله. چې کور ته تلو نو د تلو نه مخکښې ئې لږه شان غوښه واخیستله حالانکې ډیر غریب ؤ. چې کور ته لاړو نو د کور په کار کولو ئې هم لاس پورې کړو. کله چې ښځې به ده ته څۀ بد رد ویل شروع کړل نو دی به بلکل خاموشه شو او هیڅ جواب ئې نه ورکولو. لنډه دا چې د هغۀ ښځه شرمنده شوله او هغۀ ته ئې وویل چې د نن نه پس به د خپل

مقدس کتاب تلاوت کوي. دا زما کار دی، زهٔ به کوم. ما خو تا ته ونهٔ ویل چې تهٔ د کور کار کوه؟

په راتلونکې اتوار چې هغه د عبادت د پاره جماعت ته تلو نو د هغهٔ ښځه هم ورسره لاړله او ډیر زر ئې په عیسی مسیح باندې ایمان راوړلو.

## ۳- خاوند دې په ښو کارونو کښې د ښځې ستائینه وکړي.

کهٔ چیرې هغه ښهٔ خوراک پخوي یا یوه ښهٔ مور ده یا د کور کار ډیر په ښهٔ طریقې سره تر سره کوي نو بیا د هغې صفت کوئ. کهٔ چیرې هغه ایمانداره نهٔ ده نو بیا هم د خپلې مینې اظهار ورسره کوي. هغه مینه کومه چې تاسو د عیسی مسیح سره کوئ هم دغه مینه به ستاسو ښځه هم د عیسی مسیح خوا ته راولي.

## ۴- خاوند دې خپلې ښځې ته د خلاصون لار وښائي.

ځینې خاوندان داسې دي کوم چې خپلې ښځې په زوړ مذهب باندې دعمل کولو نه زر منع کوي خو ولې هغوئ ته د نوي ژوندون د لارې په هکله زر خودنه نهٔ کوي. یاد ساتئ چې د دې د پاره تاسو لږ شان وخت وباسئ او په ډیر صبر او په ډیر احتیاط ورته هر څهٔ وښایئ او صبر ور سره وکړئ چې بغیر د څهٔ منع کولو نه هم پخپله زاړهٔ عادتونه پریږدي.

## ۵- خاوند دې د خپل خاندان سره په شريکه د مقدس کتاب تلاوت او دعا وکړي.

د يو خاوند په حيثيت سره تاسو د کور مشر يئ. په تاسو دا فرض دي چې په دې هکله د هغې رهنمائي وکړئ. په ورځ کښې يو وخت مقرر کړئ او چې کله دې ښځه وزګاره وي نو په شريکه خانداني عبادت وکړئ په ښۀ اخلاقو. خو په مينې سره په کور کښې هر کس ته ووايه چې په عبادت کښې شريک شي ځکه چې دا ډير ضروري دی. لکه څنګه چې د ډير مصروفيت په باوجود هم ته خوراک د پاره وخت وباسې دغه شان د خانداني عبادت د پاره هم وباسه. کۀ چيرې تاسو غواړئ چې دا حقيقت ستاسو د پاره د حکمت سبب وګرزي نو په اردو ژبه کښې د دې کتابونو هره ورځ مطالعه وکړئ. نومونه ئې دا دي: "راه کی روشني" يا "روز مره کی روټي" يا د مقدس کتاب نه هره ورځ يو قيصه لولئ او په خپل خاندان کښې د هر يو کس د پاره دعا کوئ او د هر يو کس نوم ځان ځان له په دعا کښې يادوئ. او کۀ د چا د پاره خاص دعا کول غواړئ لکه د امتحان يا څۀ رنځورتيا وي نو تاسو خاص دعا کوئ. دا هم کيدی شي چې ستاسو ښځه په شروع شروع کښې انکار وکړي خو بيا هم دا ډيره ضروري ده چې هغه شامله شي

ځکه چې پکار دي چې هغه هم د خدای پاک نه د خپل خاندان د پاره دعا وغواړي.

## ۲- خاوند دې د خپلو ماشومانو د پاره فکر وکړي.

ډیرې کورنۍ داسې دي چې د خپلو ماشومانو ذمه واري د ښځې په اوږو باندې ور اچوي خو داسې کار صحیح نۀ دی. کۀ چیرې ماشوم ناجوړه وی یا په نور څۀ تکلیف کښې وی یا څۀ د جنګ جګړې مسئله وي نو د داسې مسئلې د حل کولو د پاره دواړه ښځه او خاوند په شریکه کار کوئ. د ماشومانو د پالنې ګران کار صرف د مور ذمه واري ونۀ ګڼئ. پلار هم د خپلو ماشومانو ساتنه کولی شي او د هغوئ سره لوبې کولی شي د پاره د دې چې مور ته لږ آرام ملاؤ شي. دا هم د پلار ذمه واري ده چې هغه ماشومان د عبادت د پاره بوزي.

## ب: ښځه دې خپل خاوند سره څنګه سلوک ساتي؟

د ښځې د پاره د مقدس کتاب حکم دا دی چې هغه دې د خپل خاوند سره یو ځای اوسیږي. په دې هکله چې څۀ هم پولوس رسول کورنتیانو ته ولیکل مونږ د هغې په هکله تاسو ته اول خودنه کړې ده. هغه وایي کۀ چیرې ممکنه وي نو ښځه او خاوند دې یو ځای اوسیږي. ولولئ تاسو د کورنتیانو په نوم اول خط ۷: ۱۰ – ۱۳. کۀ چیرې یو غیر ایماندار خاوند په خپله ښځه باندې

ظلم کول شروع کړي نو اکثر پرې داسې آزمېښت راځي چې طلاقه به شي. خو بیا هم یاد لرئ چې کۀ د مرګ خطره په کښې نۀ وي نو ښځې له پکار دي چې د خپل خاوند سره یو ځای پاتې شي. او کۀ چیرې خاوند ورته طلاق ورکړی نو د هغې راتلونکی ژوندون به څنګه وي او چیرته به اوسیږي؟ آیا هغه به خپل ماشومان د ځان سره وساتي؟ او بله دا چې هغه به د خپلو ماشومانو د خوراک او د جامو او دغه شان د ودونو خرچې د کومه پوره کوي؟ کله کله خو په حقیقت کښې یو خاوند خپله ښځه د کور نه شړي، خو هغه بیله خبره ده. په داسې صورت کښې به خدای پاک په خپلو خاصو طریقو سره د هغې پالنه کوي. خو د خدای پاک د شریعت برخلاف خپل خاوند پرېښودل یوه بله خبره ده.

تش دا نۀ چې ږنې ښځه د خپل خاوند کور دې نۀ پرېږدي بلکې ورسره دې د خپلې کورنۍ ذمه وارۍ هم هغه شان پوره کوي لکه څنګه چې د عیسائي کیدو نه ئې اول پوره کولې او په دې هکله دې په خپله رویه کښې هیڅ قسمه بدلون نۀ راولي. ښځې له پکار دي چې د خپل خاوند تابعداره اوسیږي او د هغۀ سره مینه کوي. کیدی شي چې هم په دې طریقې سره هغه خپل خاوند د عیسی مسیح قدمونو ته راولي.

مونږ د یو څو خبرو په هکله درته نوره هم خودنه کوو. تاسو له پکار دي چې دا خبرې همیشه په ذهن کښې یادې وساتئ.

## ۱ - ښځه دې د خپل خاوند تابعداري وکړي.

د ښځې په هکله د مقدس کتاب واضیحه تعلیم دا دی چې هغوئ دې د خپل خاوند تابعداري کوي. په انجیل شریف کښې خدای پاک مونږ ته دا فرمایي:

**نو لکه څرنګه چې جماعت د مسیح تابع دی دغه شان دې ښځې هم په هره خبره کښې د خپلو خاوندانو تابع وي.**

(د افسیانو په نوم خط ۵: ۲٤)

**ای ښځو، هم دغه شان تاسو هم د خپلو خپلو خاوندانو تابعدارې اوسئ څکه چې کۀ په هغو کښې څینې د خدای کلام نۀ مني چې بیا هم ستاسو پاک چال چلند ته وګوري او خدای ته راواوړي.**

(اول خط د پطروس ۳: ۱)

کیدی شي چې یوې ایمانداري ښځې ته دا خبره ګرانه ښکاري چې هغه د یو بې ایمانه خاوند تابعداره پاتې شي او دا هم کیدی شي چې خاوند په هغې باندې دا زورنه واچوي چې تۀ به د دې نه پس عبادت له جماعت ته نۀ څې او نۀ به د عیسایانو خلقو سره کښیني پاڅې. خو دا خبره یاده ساتئ چې کۀ خاوند هغه په ظاهره عبادتونو نه منع کړي خو ولې د هغې د زړۀ نه هغه د خدای

مینه او عبادت نۀ شي ویستلی تر دې پورې چې کۀ خاوند ورته په سپک نظر هم ګوري او ور باندې زور زیاتی هم شروع کړي. خو د دې هر څۀ په باوجود هم په هغې باندې دا فرض دي چې د خپل خاوند تابعداره پاتې شي او دا هم کیدی شي چې خاوند په هغې باندې دا زورنه واچوي چې تۀ به د دې نه پس عبادت له جماعت ته نۀ ځې او نۀ به د عیسایانو خلقو سره کښینې پاڅې. خو دا خبره یاده ساتئ چې کۀ خاوند هغه په ظاهره عبادتونو نه منع کړي خو ولې د هغې د زړۀ نه هغه د خدای مینه او عبادت نۀ شي ویستلی تر دې پورې چې کۀ خاوند ورته په سپک نظر هم ګوري او ور باندې زور زیاتی هم شروع کړي. خو د دې هر څۀ په باوجود هم په هغې باندې دا فرض دي چې د خپل خاوند تابعداره پاتې شي.

## ۲ - ښځه دې خپل خاوند سره مینه وکړي.

کۀ ستاسو خاوند عیسائي هم نۀ وي خو بیا هم ورته دا خبره څرګنده کړئ چې تاسو ورسره مینه لرئ. د دې نه علاوه خپل کور ښۀ صفا ساتئ او د خاوند چې څۀ خوښ وي نو هم هغه ورله د خوراک د پاره پاخه کړئ. د ماشومانو ښۀ پالنه کوئ. لنډه دا چې په هر لحاظ سره د خپل خاوند د پاره د یوې ښې ښځې جوړیدلو کوشش کوئ او چې موقع په لاس درځي نو د خپل خاوند صفت کوئ. او کۀ هغه ستاسو د ماشومانو هر یو ضرورت پوره کوي نو د هغۀ شکریه ادا کوئ.

**۳- ښځه دې خپله رويه هم په قابو کښې وساتي.**

هر وخت غوريدونکې ښځه د ځانه مۀ جوړوئ کۀ باوجود د دې چې ستاسو خاوند غصه ناک وي يا د خوي نه هم تريخ وي. خو بيا هم تاسو هغه برداشت کوئ او کوشش کوئ چې ورسره ښۀ مينه وکړئ. ډيرې داسې ښځې شته چې هغوئ د ډير ظلم او د زياتي په باوجود هم خپل خاوندان د مالک عيسی مسيح د پاره ګټلي دي. د خدای نه دعا وغواړئ چې هم هغه په خپل قوت سره ستاسو د ژوندون نه غصه او غوريدل وباسي.

**۴- ښځه دې د خپل خاوند سره د مذهب په هکله بحثونه ونۀ کړي.**

کۀ چيرې خاوند درسره بحث کوي نو ورته ووايئ چې خفه نۀ شې! زۀ نۀ غواړم چې تا سره جګړه وکړم. او خبره په لنډو کښې ختمه کړئ. د دې نه پس به څۀ وشي؟ هيڅ قسمه بحث به نۀ وي ځکه چې يو کس ځان له يواځې بحث نۀ شي کولی. د جنګ د پاره د دوو کسانو ضرورت وي.

او ډير په خاموشئ سره دا کوشش کوئ چې خپل خاوند د انجيل شريف د زيري نه خبر کړئ او د خپل ژوندون نه ورته د خلاصون ميوې وښايئ. کۀ چيرې ستاسو ژوندون په نسبت د

مخکینې ژوندون نه حلیم او نیک او غوره وي نو دا خبره به د هغۀ په ژوندون نه حلیم او نیک او غوره وي نو دا خبره به د هغۀ په ژوندون باندې ډیر زیات اثر غورزوي. پطروس رسول دا وفرمایل :

**اې ښځو! هم دغه شان تاسو هم د خپلو خپلو خاوندانو تابعدارې اوسئ ځکه چې که په هغو کښې څنې د خدای کلام نۀ مني چې بیا هم ستاسو پاک چال چلند ته وګوري او خدای ته راواوړي یعنې چې ستاسو پاکیزه ګئ او احترام ته وګوري نو د څۀ وئیلو نه بغیر د خپلو خپلو ښځو د چال چالند په وجه.**

(اول خط د پطروس ۳: ۱- ۲)

## ۵- ښځه دې خپل خاوند ته د انجیل شریف د آورولو د پاره مختلفې طریقې ولټوي.

کۀ چیرې خاوند دې د مطالعې کولو شوق لري نو د هغۀ د پاره داسې کتابچې د عیسائیت په هکله ولټوئ کومې چې غوره وي او کیدی شي چې هغه د یو عیسایي معلم سره د عیسائیت په هکله خبره کول خوښوي. د پاک روح نه د رهنمایئ د پاره خواست وکړئ د پاره د دې چې د خپل خاوند د ایماندار کولو د پاره ستاسو نه څۀ داسې حرکت ونۀ شي چې هغه پرې خفه شي. او دا

کوشش کوئ چې خپل خاوند ته انجیل شریف په ښۀ انداز کښې وړاندې کړئ.

د خپل خاوند د پاره ښۀ ډیره دعا وکړئ او د خدای پاک نه د مدد د پاره خواست وکړئ د پاره د دې چې تاسو د خپل کار او د خدای پاک نه د مدد د پاره خواست وکړئ د پاره د دې چې تاسو د خپل کار او د کلام په وسیلې سره هغه وګټئ. د خپل ژوندون او وارۀ د مسئلو په هکله د خدای پاک نه د مدد او د حکمت د پاره خواست وکړئ او دا لوظ یاد وساتئ کوم چې انجیل شریف ئې له تاسو سره کوي:

خو که په تاسو کښې په چا کښې د حکمت کمی وي نو هغه دې د خدای نه غواړي چې بغیر د ملامتولو نه ئې هر چا ته پوره په فیاضئ ورکوي.

(یعقوب ۱: ۵)

## پ: ښځه او خاوند دې خپل ماشومان د عیسی مسیح د پاره وګټي.

تاسو بختور یئ چې ماشومان مو شته ځکه چې کومه خوشحالي تاسو ته د خپلو بچو نه په دې وینا سره حاصلیږی چې

کله هغوئ درته پلاره یا خانجي ووائي نو د دې نه زیاته خوشحالي په نور څهٔ کښې نشته دی. په زبور شریف ۱۲۷: ۳ کښې خدای پاک فرمائي:

**ګورئ! اولاد د رب د طرف نه میراث دي.**

خدای پاک چې تاسو له کوم بچې درکړې دي هغه ستاسو د پاره د ټولو نه لویه قیمتي تحفه ده. خو ورسره ستاسو د ټولو نه لویه ذمه واري هم ده او په تاسو دا فرض دي چې تاسو د هغوئ د خوراک، د جامو، د تعلیم او تربیت او د پالنې او د ناجوړتیا یعنې په هر لحاظ سره د هغوئ ښهٔ خیال وساتئ. ورسره په هغه مور پلار باندې کوم چې عیسایان دي دا هم فرض دي چې هغوئ د خپلو ماشومانو رهنمائي په مالک عیسی مسیح کښې وکړي. یوحنا رسول د دې په هکله لیکي:

**د دې نه زیاته خوشحالي ما ته په بل هیڅ څیز نه حاصلیږي چې زهٔ د دې نه خبر شم چې زما بچي په حقه لار روان دي.**

(د یوحنا رسول دریم خط څلورم آیت)

تاسو یو دولتمند او یو نامور سړی جوړیدی شئ تر دې پورې چې تاسو سره د هیڅ څیز کمی نهٔ وي. خو کهٔ چیرې ستاسو بچې

لوفران وي نو دا به ستاسو د پاره د شرم خبره وي نو د دې دنياوي او د دې مادي څيزونو به ستاسو د پاره هيڅ فايده نۀ وي.

ځينې خلق خيال کوي چې مونږ خو په دې سبب عيسايان يو ځکه چې د عيسايانو په کور کښې پيدا شوي يو. خو ياد لرئ چې هيڅوک هم تر هغه وخته پورې عيسائي نۀ شي کيدی تر څو پورې چې هغۀ په خپله د خپلو ګناهونو اقرار نۀ وي کړی او نۀ ئې توبه ويستلې وي په مالک عيسیٰ مسيح باندې ئې ايمان نۀ وي راوړی. کۀ د هغۀ مور او پلار کۀ نيا نيکونه پيړئ په پيړئ عيسايان ولې نۀ وي خو بيا هم کۀ هغۀ په ذاتي طور مسيح قبول کړی نۀ وي نو هغه رښتونی عيسائي نۀ دی.

هغه ورځ به په تاسو څومره د خوشحالئ وي کله چې ستاسو ماشوم تاسو ته ووائي چې "پلاره، اوس زۀ په مالک عيسی مسيح باندې ايمان راوړم! " دا خو به کيږي نه کۀ چيرې دوئ د مالک عيسی مسيح په باره کښې هيڅ نۀ دي زده کړي.

## ۱ – ښځه او خاوند دې خپلو بچو ته د عیسائیت د اصولو په هکله خودنه وکړي.

**تاسو د خدای حکمونه ضوط کوئ او تاسو ئې په خپل اولاد باندې یاد کوئ. د هغو په باره کښې هر وخت خبرې کوئ. هر چیرې تاسو په کور کښې یئ یا په لاره روان یئ یا ویدهٔ کیږئ یا پاڅیږئ، هر وخت د هغو په هکله خبرې کوئ.**

(استثنا ٦: ٦-٧)

د خپلو ماشومانو د پاره یو ښهٔ بنیاد قایم کړئ. په کور کښې هره ورځ د مقدس کتاب تلاوت کوئ، دعا کوئ او د حمد و ثنا سندرې وایئ. دا ټولې خبرې داسې دي چې د دې په ذریعه به ماشومان د عیسی مسیح د قبلولو د پاره تیار شي. بې شکه چې هغوئ ماشومان دي نو په دې وجه په ټولو خبرو باندې پوهیږي نه. خو بیا هم چې کله کله هغوئ د خدای په هکله آوري نو پخپله به ټولې خبرې د خدای پاک د طرف نه ګڼي. واړهٔ ماشومان سندرې ډیرې خوښوي تر دې پورې چې کهٔ واړهٔ ماشومان هم وي خو بیا هم د سندرو لفظونه ورته ټول په یاده ورځي. نو تاسو خپلو ماشومانو ته د سندرو په ذریعه ښهٔ تعلیم ورکولی شئ او د مقدس کتاب آیاتونه پرې په سندرو کښې ضوط کړئ.

د مقدس کتاب د هره ورځ د تلاوت نه علاوه په خپل کور کښې د مقدس کتاب په هکله د قیصو کتابچې او نورې داسې ښې ښې کتابچې کیږدئ د پاره د دې چې ماشومان خپله د هغې مطالعه وکړي.

۲- ښځه او خاوند دې د خپلو ماشومانو تربیت د خدای پاک د کلام په مطابق وکړي.

په دې په هکله مقدس کتاب واضیحه بیان ورکوي او فرمائي :

**خپل ماشومان د ښهٔ او بد په هکله پوه کړه نو هر کله چې دوئ لوی شي نو د ښهٔ نه به ئې مخ نهٔ اړوي.**

(متلونه ۲۲: ٦)

د ماشومانو تربیت یو ډیر ګران کار دی ځکه چې هر ماشوم چې پیدا کیږي نو د ګناه د فطرت سره پیدا کیږي او هم د پیدایښت د ورځې نه غواړي چې هم خپله مرضي وکړي او خود غرضه وي. خو هغه مور او پلار کوم چې عیسایان دي هغوئ له پکار دي چې د خپلو ماشومانو تربیت په داسې انداز کښې وکړي چې هغوئ په دې خبرو باندې غالب راشي او دا کار چې څومره زر کیدی شي نو ئې غوره دي. د ماشومانو هره یوه خبره مهٔ منئ. کهٔ

ماشوم ناجوړه وی یا زخمي یا په څۀ تکلیف کښې نۀ وي نو هسې بې څه چغو سورو ته ئې مۀ پرېږدئ. او هسې بې څه دې درته ستاسو د مصروفیت په وخت ابو یا پلاره ونۀ وائي خو د انتظار کولو چل ورته وښایئ او د مینې سره ماشومانو ته هر قسم ښۀ عادتونه ورته وښایئ. ماشومان هیڅ کله هم دې ته مۀ پرېږدئ چې په تاسو باندې حکم وکړي ځکه چې تاسو مشر یئ او د هغوئ ذمه واري ستاسو په غاړه ده.

د خپل کور د پاره یو قانون جوړ کړئ او په دې اصولو باندې پوره پابندئ سره عمل کوئ او ماشومانو ته دا خودنه وکړئ چې هغوئ له څۀ کول پکار دي او څۀ نه.

او ای پلارانو! تاسو خپلو بچو له غصه مۀ ورولئ بلکې د مالِک په طریقو هغوئ ته تربیت او نصیحت کوئ او پرورش ئې کوئ.

(خط د افسیانو په نوم ٦: ٤)

د خپلو ماشومانو تانیبه کوه تر څو پورې چې ناممکنه نۀ ده. که چیرې دوئ ته سزا نه ور کوې نو تۀ ئې بربادوې.

(متلونه ١٩: ١٨)

چې کله هم تاسو خپل ماشوم ته سزا ورکوئ نو د هغې نه دا خبره هیڅ کله هم نهٔ څرګندیږي چې تاسو د هغوئ سره مینه کوئ او د هغوئ فایده لټوئ.

خو چې کله هم ماشوم وهئ نو لکه د ظالمانو په شان طریقه مهٔ استعمالوئ. ځینې مور او پلار دومره غصه کیږي او د ماشومانو سره ئې ډیره ظالمانه او خطرناک سلوک کوي. یاد ساتئ چې د سزا اصول مطلب دا دی چې ماشومان د مور او پلار تابعداره او نیک جوړ شي. د دې اصول مقصد دا هیڅ کله هم نهٔ دی چې ږنې مونږ دې په ماشومانو باندې خپله غصه وباسو. بس دومره ډیره ده چې ماشوم له یو څو څپیړې ورکړو یا یې په چپل ووهو. په سر ئې یا په مخ باندې هیڅ کله مهٔ وهئ او مهٔ ئې په څهٔ تیرهٔ څیز یا په پړي یا د دې په شان په څهٔ بل څیز وهئ. ماشوم د ویرولو د پاره په کوټه کښې یا په تورتم کښې چې په کښې چینجي مینجي وي هیڅ کله مهٔ بندوئ ځکه چې د سزا دا طریقه د خدای پاک د طرف نه نهٔ ده! دا د سخت مزاجه مور او پلار طریقې دي.

چې کله هم ماشومانو ته سزا ورکړئ نو د سزا نه پس ورسره مینه وکړئ ځکه چې ماشومان د دې خبرې نه همیشه ویریږي چې هسې نه چې د هغوئ مور او پلار هغوئ ځان له پرې نهٔ ږدي او ترې نه لاړ شي. په دا قسمه ویره د هغوئ د دماغو نه دستی لرې کړئ. کهٔ ماشوم وړوکی وي نو هغه په غیږه کښې اوچت کړئ او ورسره

مینه وکړئ کۀ لوی وي نو په دې خبره ئې پوه کړئ چې تۀ د هغۀ د بدو عادتونه کرکه کوئ خو د هغۀ سره مینه کوئ او خدای پاک هم د هغۀ سره مینه کوي.

او ماشومانو ته دا یقین ورکړئ چې کۀ چیرې هغۀ حکم مات کړو نو تاسو به خامخا سزا ورکوئ او یو ځلې د سزا نه بغیر ئې مۀ پرېږدئ. کیدی شي چې تاسو ستړی یئ یا اوزګار نۀ یئ خو بیا هم چې کله ماشوم څۀ غلط کار وکړي نو دستي سزا ورکړئ. داسې ورته هیڅ کله هم مۀ وایئ کۀ چیرې بیا دې ورانی وکړو نو زۀ به دې ووهم او دغه شان بیا سزا ورنۀ کړئ. کله کله خو ماشوم څۀ داسې ورانې یا څۀ داسې خبره وکړي چې بلکل لکه د ګپ په شان ښکاري او ټول ورپورې وخاندې. یاد ساتئ چې داسې هیڅ کله هم ونۀ کړئ. که چیرې یوه ورځ په ماشوم پورې خاندئ او په بله ورځ ورته سزا ورکوئ نو ماشوم ښۀ او بد نه شي پیژندلی. څۀ کار چې غلط وي نو خامخا د دې د پاره سزه ورکوئ. دغه شان ماشوم ته د خپلو غلطو احساس وشي.

سزا ورکول هیڅ کله هم د بل لاس ته مۀ پرېږدئ. تۀ پخپله ورته سزا ورکړه. خو چې ماشوم د څلور پنځو کالو نه زیات شي نو د مور په نسبت د پلار نه ډیر ویریږي او خپل غلطي هم په کنبې ساتلې شي. نو بیا سزا ورکول د پلار په راتلو پورې پرېښودلې شئ.

پلار دې د مور عزت وکړي او ماشوم ته دې هغه شان سزا ورکړي ځنګه چې مور ماشوم ته ویلې ده.

## ۳- ښځه او خاوند دې هم د شروع نه د دوئ د مستقبل د پاره منصوبې جوړې کړي.

هر کله چې ماشوم د سکول د تعلیم نه فارغ شي نو د مور او پلار ذمه واري ئې نۀ ختمیږي بلکې د مور او پلار په ذمه وارو کښې دا خبره هم شامل ده چې هغوئ د خپلو بچو د وادۀ بندوبست هم وکړي. مقدس کتاب خو په دې هکله بلکل په واضیحه طور سره بیان کوي. یو ایماندار له صرف د یو ایماندار سره وادۀ کول پکار دي ځکه چې په انجیل شریف کښې فرمائي:

**څوک چې په مسیح ایمان نۀ لري د هغوئ سره په جغ کښې مۀ ځئ. د صداقت او د نا صداقت په خپلو کښې څۀ تعلق؟ یا د رڼا او د تیارې د یو بل سره څۀ کار؟**

**(دویم خط د کورنتیانو په نوم ٦: ١٤)**

کۀ چیرې تاسو هم د مخکښې نه د خپل زوی یا د لور د وادۀ بندوبست د تش په نومې ایماندار سره یا د یوې داسې کورنۍ سره کړی وي کوم چې رښتوني او ایماندار نۀ وي نو داسې رشته دستې ختمول پکار دي. ستاسو ایماندار بچې دې خامخا د یو ایماندار

سره وادۀ وکړي. کیدی شي چې ستاسو د پاره وړاندینۍ رشته ختمول ګران وي خو بیا هم ختمول ئې پکار دي. کیدی شي چې ستاسو په کور کښې څوک مشر یا مشر ورور یا څوک بل څوک کوم چې تاسو مشر ګڼئ او هغه ستاسو د وادۀ ټول کار په خپلو لاسو کښې اخیستلی وي نو تاسو له پکار دي چې هغوئ ته ووایئ چې زمونږ به بس هغه کس خوښ وي کوم چې ایماندار وي.

دا ځینې خبرې خو بلکل واضیحه دي لکه مثال په طور کۀ خپل ځان زخمي کړئ نو وینې به شئ او کۀ لاس اور له یوړئ نو به سوزي. نو هم دغه شان کۀ یو ایماندار کس د یو غیر ایماندار سره وادۀ وکړي نو د هغوئ ژوندون به ډیر ګران وي. د جنګ جګړو او د تکلیف نه علاوه به نور څۀ نۀ وي. تاسو د خدای پاک د دې اصولو خلاف قدم نۀ شئ پورته کولی. کیدی شي چې تاسو د خپل بچې یو وادۀ د ښکلي بنیادم سره یا د یو داسې کس سره د کوم ځای نه چې ډیر جهیز د ملاویدو امید وي ونۀ کړی شئ. خو د دې خبرې څۀ مطلب نشته ځکه چې اصل خبره د خدای پاک تابعداري ده. یو ایماندار عیسائي له پکار دي چې د یوې ایماندارې عیسائېې سره وادۀ وکړي او هغه هم په مالک کښې. تاسو اول خط د کورنتیانو په نوم ۷: ۳۹ آیت خامخا ولولئ.

## ت: ماشومان دې خپل مور او پلار سره څنګه سلوک وساتی؟

اوس تاسو د خپلې زړې عقیدې په رواجونو کښې برخه نۀ شئ اخیستلې په مقدس کلام کښې پولوس رسول وفرمائیل:

**اې بچو! د مور پلار حکم په هره خبره کښې منئ**

**ځکه چې په دې خدای خوشحالیږي.**

(خط د کولوسیانو په نوم ۳: ۲۰)

**تاسو د خپل پلار او د خپلې مور عزت کوئ د پاره د دې چې ستا عمر په وطن کښې چې مالک خدای تاسو ته درکوي زیاتوي.**

(خروج ۲۰: ۱۲)

د یو ایماندار بچي د پاره به په دې خبره باندې پوهیدل ډیر ګران وي چې هغه د خپل غیر ایمانداره مور او پلار سره څۀ سلوک وکړي. کیدی شي چې د مور پلار دې هم دا فکر کوي چې زوی یا لور مې عیسائي شوه نو دا خو زمونږ د پاره څومره د شرم خبره ده او په دې وجه هغوئ په خپل بچي باندې ډیر ظلم کوي. کۀ هر څۀ هم وشي خو د بچو د پاره پکار دي چې په هر صورت کښې د خپل

مور پلار فکر وکړي. ورته هم پکار دي چې هر ممکن مدد د هغوئ وکړي.

## ۱- ماشومان دې په کور کښې خپلې ذمه وارئ تر سره کړي.

د یو وفاداره ماشوم په حیثیت خپل مور پلار ته دا خودنه وکړه چې تۀ د هغوئ عزت کوې او ورسره مینه کوې. کۀ چیرې هغوئ درنه دا طمع ساتي چې ته د تعلیم د خرچو په پوره کولو کښې د کشرانو وروڼو یا د خویندو مدد وکړې نو دا خامخا وکړه، ښۀ په خوشحالئ سره. په انجیل شریف کښې (اول خط د تیموتیوس په نوم **۵: ۸**) فرمائي:

**کۀ څوک د خپلوانو او خاص د خپلې کورنئ خیال نۀ ساتي نو هغه د خپل ایمان نه منکر او د بې ایمانئ نه هم بد دی.**

## ۲- ماشومان دې د مور پلار خیال وساتي.

تر کومې چې درنه کیدی شوه نو د خپل مور او د پلار د خواهشاتو خیال ساته، د داسې موقعو نه او غالباً چې تۀ به هغه ځای ته تلل خوښوې کوم ځای چې ستا د مور او د پلار د پاره د خفګان سبب ګرزي خو تر کومې چې کیدی شوه نو تاسو په جمع کښې خامخا شریک شئ. ورته داسې څرګنده کړه چې تۀ به د هغوئ په خاندان کښې ډیره دلچسپي اخلې. د دې خبرې د

معلومولو د پاره چې تهٔ په کومو خبرو کښې شریک کیدی شې او په کومو خبرو کښې نهٔ نو د دې د پاره د ډیرې زیاتې دعا او د حکمت ضرورت دی. په دې هکله پاک روح به ستا مدد کوي.

## ۳- ماشومان دې د مور پلار خیال او پالنه وکړي.

خپل مور پلار ته دا یقین ورکړئ چې تاسو به په خپل پوره طاقت سره د هغوئ خیال او پالنه کوئ. ډیر پلارونه او میندې د خپل مستقبل په هکله زیات فکر مند وي. کیدی شي چې هغوئ دا فکر کوي چې زمونږ زوی اوس عیسائي شوی دی زمونږ به څهٔ کیږي، او په دې آخري عمر کښې به څوک زمونږ خیال ساتي، او زمونږ د کفن دفن به څوک انتظام کوي؟

مقدس کتاب د بوډاګانو په عزت باندې ډیره زیاته زورنه ورکوي. اوس تاسو یو ربښتونی ایماندار یې نو د مخکښې په نسبت به اوس خدای پاک تاسو د خپل مور او پلار د خدمت په هکله زیات مدد کوي د پاره د دې چې تاسو د هغوئ سره زیاته مینه وساتئ. هغوئ ته په دې خبره باندې پوخ یقین ورکړئ چې تاسو به د هغوئ هر یو ضرورت پوره کوئ.

خیر خو ورسره د لوظ کولو په وخت ورته د دې خبرې په هکله هم زیاته خودنه وکړئ چې د خدای پاک حکم منل ستاسو فرض دی. او کهٔ چیرې هغوئ ستاسو د وادهٔ بندوبست د یوې داسې

جینئ سره کوي کومه چې ایمانداره نهٔ وي نو د هغوئ د دې خواهش نه به انکار وکړئ. او کهٔ چیرې هغوئ ستاسو ماشومانو ته د غیرو ایماندارو په رواجونو کښې د شریک کیدلو تربیت ورکوي نو د داسې کولو نه هغوئ منع کړئ ځکه چې خدای پاک مونږ ته د انجیل شریف په هکله دا خودنه کوي:

**مونږ به د بنیادمو نه د خدای حکم منو.**

(اعمال د رسولانو ۵: ۲۹)

## ۲- ماشومان دې د بد رد په بدل صبر او مینه وکړي.

کهٔ چیرې ستا مور او پلار د عیسائیت په وجه تا سره تعلقات ختم کړي نو تهٔ د هغوئ سره هیڅ کله هم خپل تعلقات مهٔ ختموه. او کهٔ هغوئ درنه تر دې پورې خفه وي چې تا ووهي یا درته ډیر بد رد هم ووائي خو بیا هم تهٔ د هغوئ سره مینه کوه او د هغوئ د پاره دعا کوه. د یو ځلې واقعه ده چې یو هلک په مالک عیسی مسیح باندې ایمان راوړو نو هغه هلک ئې د کور نه وویستلو. هغه تر شلو کالو پورې پوره په پابندئ سره خپلې مور ته خط لیکلو خو هغې ورته هیڅ جواب هم نهٔ ورکولو. لنډه دا چې هغې د خپل زوی دې وفادارئ ته وکتل نو هغې هم په عیسی مسیح باندې ایمان راوړو او خپل زوی ئې راوبللو. تهٔ هم د خدای پاک نه دا دعا وغواړې چې تا له هم دا توفیق در کړي چې تهٔ هم د هغوئ سره خپله

مینه قایمه وساتې. په یو مخ په پرله پسې دعا کوه چې خدای ستا مور او پلار ته خپله نیغه لاره وښائي او په دې هکله هغه ستا مدد وکړي. کۀ چیرې ستا مور او پلار د عیسائیت په وجه تا د خپل کور نه وباسي نو تۀ د خدای پاک دا لوظ یاد ساته. زبور شریف ۲۸: ۱۰ دا فرمائي:

**چې کله زما پلار او زما مور ما پرېږدي نو رب به ما ساتي.**

## سوالونه

۱- هغه کومې طریقې دي چې د هغې په وسیله یو ایماندار خاوند خپله ښځه د مالک خوا ته د راوستلو کوشش کولی شي ؟

________________________________________________

________________________________________________

۲- د خدای پاک په نظر کښې د خاندان مشر څوک دی؟ او د هغه ذمه وارئ څه دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۳- آیا تاسو په کور کښې هره ورځ خانداني عبادت کيږي؟ تاسو د هغه عبادت په وخت څۀ کوئ؟ او تاسو دغه وخت څنګه نور هم د دلچسپئ سبب جوړولی شئ؟

---

---

۴- یوه ایمانداره ښځه په کومو طریقو سره خپل خاوند د مالک خوا ته راوستلی شي ؟

---

---

۵- ماشوم ته د سزا ورکولو مقصد څۀ دی ؟

---

---

۶- د وادۀ په هکله قانون څۀ دی ؟ یو ایماندار له د چا سره وادۀ کول پکار دي؟ اولاد ته د خپل مور او پلار د مالک د پاره د ګټلو د پاره کومې طریقې اختیارول پکار دي؟ په یو ایماندار باندې د خپل مور پلار څۀ ذمه وارئ ور په غاړه دي؟

---

---

________________________________________________

________________________________________________

**۷- مونږ د مختلقو خلقو په هکله بیان وکړو. د دې خلقو په هکله د یو ایماندار د رویي په باره کښې څلور لفظونه ډیر اهم دي. هغه څلور دا دي:**

**اول: حکم منل** **دویم فرمانبرداري**

**دریم : عزت** **څلورم:** __________

**۸- د لاندې خالي ځای مکمل کړئ:**

**یو ایماندار له د خپلې ښځې په هکله** ___________________ **رویه پکار ده.**

**بچو له د خپل مور پلار په هکله** _____________________ **رویه پکار ده.**

**د ایمانداري ښځې د خپل خاوند په هکله** _______________ **رویه پکار ده.**

**ځوانانو ته د خپل بوډا مور پلار په هکله** _______________ **رویه پکار ده.**

۹- د خپل خاندان د کسانو نومونه ولیکئ او په دې سبق کښې چې کومې طریقې بیان شوي دي د هغې مطالعه وکړئ او بیا د هر یو نوم مخکښې هغه طریقې ولیکئ چې د کومو په مدد سره به تاسو هغه د عیسی مسیح د پاره ګټلی شئ.

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

# شپږم باب

# ستاسو وخت

کۀ دولت مند وي کۀ غريب، کۀ عالم وي کۀ جاهل، خو يو څيز داسې دی چې هغه خدای پاک ټولو ته يو شان ورکړی دی او هغه دی وخت. د هر يو کس حالت کۀ هغه هر څنګه وي خو بيا هم د دې په باوجود وخت هم هغه شان وي. لکه په ورځ کښې څليريشت ګنټې وي او په هفته کښې يو سل اتۀ شپيتۀ ګېنټې وي، نۀ د دې نه کمې وي او نۀ ترېنه زياتې. دا څليريشت ګېنټې د خدای پاک د طرف نه يوه ډيره لويه قيمتي تحفه ده. په دې خبره باندې د زړۀ د اخلاصه د غور کولو ضرورت دی ځکه چې کۀ دا څليريشت ګنټې کۀ تيرې شي نو بيا واپس نۀ راځي او نۀ دا بيا په لاس راځي او نۀ ئې حاصلولی شو. مونږ د دې څليريشتو ګېنټو استعمال صرف يو ځل کولی شو.

پس دا به د يو نوي ايماندار د پاره د عقلمندئ يو قدم پورته کول وي کۀ هغوئ د دې وخت نه فايده پورته کړي.

## ستاسو کار

په شروع شروع کښې خدای پاک دا دنيا ډيره ښکلې پيدا کړې وه او هم د خدای پاک په وينا باندې لمر، سپوږمۍ، ستوري،

مارغان، کبان، اونې، بوټې، لنډا دا چې هر یو څیز ئې پیدا کړی ؤ. او بیا ئې په آخره کښې په مخلوقاتو کښې د ټولو نه غوره څیز یعنې بنیادم پیدا کړلو. او بیا دستې ئې هغه ته کار هم ورکړلو.

**او خدای هغوي ته برکت ورکړو او وئې وئیل چې زیات شئ او زمکه ډکه او لاندې کړئ، او د سمندر په کبانو او د هوا په مارغونو او په ټولو ځناورو کوم چې په زمکه ګرځي اختیار وساتئ.**

**(پیدایښت ۱: ۲۸)**

خدای پاک بنیادمو ته یو ذمه واري ورکړو یعنې هغه پیدا کړی شوې دنیا ئې وسپارله چې بنیادم د هغې خیال او کرونده وکړي. خدای پاک په دې زمکه کښې تخم او نور لکه تیل شول او داسې نور څیزونه وساتل خو په دې ټولو کښې د بنیادم کار دا ؤ چې هغه په زمکه کښې کرونده وکړي او د خدای پاک ورکړی شوي نعمتونه هم د زمکې نه وباسي.

د پیدایښت په دویم باب کښې خدای پاک یو باغ ولګولو او په پنځلسم آیت کښې خدای حضرت آدم ته هغه باغ ورکړو د پاره د دې چې هغه د هغې باغ ساتنه او پالنه وکړي.

**او رب خدای انسان واخیستو، په باغ عدن کښې ئې واچولو چې د هغې خدمت او ساتنه وکړي.**

**(پیدایښت ۲: ۱۵)**

چې خدای پاک دا دنیا پیدا کړله نو هغهٔ بنیادم ته کار ورکړو چې ئې وکړي. خدای پاک هر یو داسې کار قبلوي کوم چې په ایمانداریٔ سره شوی وي. حضرت آدم ته ئې د کروندې کرلو د پاره هم ووې (پیدایښت ۲: **۱۵**) چې دا کار په لاسو کیږي. حضرت آدم ته ئې دا هم وویل چې د ټولو ځناورو نومونه کیږدي. (پیدایښت **۲**: **۲۰**) دا کار دماغي ؤ. لنډه دا چې هر قسمه کار عزتمند دی، یو کار هم د یو بل نه غوره یا اوچت نهٔ دی.

خدای پاک بنیادم ته کار ورکړو او د هغې نه ئې دا خبره ښکاره کړه چې کار ښهٔ دی په بل ځای کښې خدای پاک دا حکم راکړی وو:

**تر شپږو ورځو پورې تاسو محنت کوئ**

**او خپل ټول کارونه کوئ.**

دا حکم د ټولو خلقو د پاره دی. هیڅوک هم دا نهٔ شي ویلی چې زهٔ دولت مند یم او ځکه زهٔ کار نهٔ شم کولی یا چې زهٔ پخپله

کار کوم نو دا زما د پاره د شرم سبب دی. چې څوک داسې وائي نو هغه د خدای پاک شریعت ماتوي.

مونږ اکثر د خلقو نه دا خبرې آورو او ګورو هم چې د دا قسمه خبرو انجام څۀ وي ځکه چې دا دنیا د خلقو نه ډکه ده او په دنیا کښې ځینې خلق بربنډ دي او وږي دي. خو بیا هم خدای پاک هر کس ته د خوراک رسولو ډیر وسایل پېدا کړي دي. کۀ چیرې هر یو کس کۀ په دې دنیا کښې د خپلې برخې کار وکړي نو یو به هم وږې نۀ پیدا کیږي. خدای پاک په دې پوهیږي چې بنیادم ته د صحت مند اوسیدلو د پاره د کار کولو ضرورت دی. هغه خلق کوم چې کار نۀ کوي خو ټوله ورځ خوراک څښاک کوي نو هغوئ ناجوړه کیږي. خدای پاک سستي نۀ خوښوي په مقدس کتاب کښې ئې لیکلي دي:

**چا ته چې محنت کول منظور نۀ وي**

**نو هغه په دې ونۀ خوري.**

(دویم خط د تسالونیکیانو په نوم ۳: ۱۰)

پولوس رسول د تسالونیکیانو ایماندارو ته لیکلی ؤ او هغه ته دا حکم لیکي چې :

**په پټه خله دې کار کوي او خپله ډوډئ دې پخپله ګټي.**

(دویم خط د تسالونیکیانو په نوم ۳: ۱۳)

مقدس کتاب یو عملي کتاب دی. په دې کښې یو هم داسې خیال نۀ شي موندلی چې د کومو تعلق زمونږ د هرې ورځې د ژوندون سره نۀ وي. بلکې په دې کښې داسې اصول ښودلی شوي دي چې د هغې په مطابق یو ایماندار خپل ژوندون تیرولي شي. د کولوسیانو په نوم خط کښې پولوس رسول د خاوند او د بچو په هکله تعلیم ورکوي او دغه شان بیا هغه د کولوسیانو ۳: ۲۲ نه شروع کوي او د نوکرانو د ذمه وارو په هکله بیان کوي. راځئ چې وګورو چې هغه څۀ وائي:

**ای غلامانو! تاسو د خپلو جسماني مالکانو تابعدار اوسئ، دا صرف په ظاهري طور د هغوی د خوشحالولو د پاره نۀ بلکې د زړۀ د اخلاصه او د خدای د ویرې نه.**

(خط د کولوسیانو په نوم ۳: ۲۲)

اوس خو د دنیا په هر وطن کښې غلامان نشته. خو پولوس رسول چې کله دا خط لیکلو نو هغه وخت د رومیانو په حکومت کښې د غلامانو رواج ؤ او یو غلام به خپل ملکیت ګڼلی شو. کۀ یو کس به یو سړی په بیعه واخستلو نو هغه به د هغۀ مالک جوړ

شو او دا یوه ډیره ښۀ خبره وه خو بیا هم هغه دا وائي چې "کۀ چیرې تاسو غلامان يئ نو د خپل مالک تابعداري کوئ."

کۀ زمونږ په وطن کښې غلامان اوس نشته خو بیا هم داسې خبرې شته چې بلکل د دې سره سمون خوري لکه په دې زمانه کښې مثال ئې داسې دی لکه د مالک او د نوکر. نو په دې سبب دلته کښې هم د دې اصولو تر سره کول په مونږ لاژم کیږي. کۀ چیرې تاسو د چا په کور کښې نوکر يئ او د هغۀ نه پیسې اخلئ نو مقدس کتاب فرمائي چې په ایمانداري سره کار کوئ او د خپل مالک سره د ایماندارئ غوندې سلوک کوئ او خپل کار په ښې طریقې سره کوئ او په تاسو چې د کومو کارونو کول فرض دي نو هغه تر سره کوئ.

ځینی خلق داسې دي چې وخت غلا کوي. دا خبره یاده ساتئ چې په دې تجارتي دنیا کښې وخت ډیر قیمتي دی. کۀ چیرې تاسو هم د خپل مالک نه د وخت غلا کوئ نو بیا تاسو بې ایماني کوئ او دغه شان داسې کول د پیسو د غلا په شان برابر دي. چې د مالک توقع دا ده چې تاسو په هفته کښې څلویښت ګنټې کار وکړئ نو څلویښت ګنټې کار وکړئ.

دا خبره د ځان سره یاده وساتئ چې عیسایان یو څیز هم د یو دوکاندار نه یا د یو دفتر نه بې د اجازت نه نۀ شي اخیستلی ځکه چې کۀ چیرې څوک د یو دوکاندار نه چیني یا چای یا څۀ بل څیز

بې د اجازت نه اخلي نو دا غلا ده. ستاسو دا وړه غونډې غلا دومره سخته ده لکه چې د دوکاندار د پیسو غلا کول. او د غلا نه دا خبره څرګندیږي چې تاسو یو بې ایمانه او د اعتبار قابل نهٔ یئ. کهٔ د دنیا خلق هر څهٔ وائي خو د عیسایانو شان د دا قسمه کارونو نه ډیر اوچت پکار هم دی.

یو ایماندار له داسې کار کول پکار دي لکه چې ئې د مالک د پاره کوي او هم هغهٔ ته تنخواه ورکوي، او داسې لکه چې د هغهٔ مالک هر وخت په دفتر کښې، په هسپتال کښې، په سکول کښې، په کار خانه کښې یا کهٔ هغه هر چیرته هم کار کوي خو هغه ورسره وي او په حقیقت کښې داسې هم ده. په انجیل شریف کښې راځي:

**تاسو هر څهٔ چې کوئ د زړهٔ په مینه ئې کوئ لکه چې دا تاسو د مالکٔ د پاره کوئ نهٔ چې د بني آدمو د پاره ځکه چې تاسو خبر یئ چې د مالکٔ له طرفه به د دې په بدل کښې تاسو میراث مومئ. تاسو د مالکٔ خدمت کوئ.**

(خط د کولوسیانو په نوم ۳: ۲۳، ۲۴)

په دې اوسنئ زمانه کښې ډیر خلق د خپلو مالکونو د پاره کار کوي خو هغوئ په ایماندارئ سره او محنت سره کار نهٔ کوي. د افسوس خبره خو دا چې هغوئ د محنت کولو کوشش هم نهٔ کوي،

سستي کوي اؤ د کار نه د پټېدلو د پاره بيلې بهانې کوي، ناوخته راځي او په خوراک او په چايو باندې وخت ضايع کوي. کيدی شي چې دا خبره رښتيا وي خو بيا هم خدای پاک زمونږ نه دا اميدساتي چې يو ايماندار له پکار دي چې پوره په محنت او ايمانداریٔ سره کار وکړي. اصلي ايماندار په حقيقت کښې د مالک د پاره کار کوي.

**ای مالکانو! د خپلو غلامانو سره عدل او انصاف کویٔ ځکه چې تاسو په دې پوه يئ چې په آسمان کښې ستاسو هم يو مالک شته.**

(خط د کولوسيانو په نوم ٤: ١)

خدای پاک نه يوازې ملازمانو يا د کم حيثيت خلقو ته حکم ورکوي بلکې د اوچتې مرتبې خاوندانو ته هم حکم ورکوي چې د خپلو ماتحتو سره دې داسې سلوک کویٔ لکه څنګه چې په عيسايانو لاژم دي. مالک چې کومه رويه د خپلو ملازمانو سره ساتي نو ورسره دې دا خبره هم ياده ساتي چې يوه ورځ به هغه هم د خپل حساب کتاب جواب مالک ته ورکوي.

ايماندارو له پکار دي چې د خپلې ايمانداریٔ په دياتنداریٔ سره مظاهره وکړي. د متلونو په سيپاره په ١١ : ١ آيت کښې مونږ لولو:

## مالک د دوکه باز نه نفرت کوي

## خو هر صادق نه ئې خوشحالیږي.

که دوکانداران دي او کۀ تاجران هغوئ له پکار دي چې هر چا ته خپل حق پوره پوره ورکړي.

عیسایانو له پکار دي چې په خپل بل ادا کولو کښې پوره د ایماندارئ نه کار واخلي. د متلونو په سیپاره ۳: ۲۷، ۲۸ کښې لیکلي دي:

ځوک چې د نیکئ حقدار دی

په کښې سستي مۀ کوه!

دا ورته مۀ وایه چې اوس لاړ شه بیا راشه.

دا هم کیدی شي چې بل اخیستونکی راشي او ستاسو زړۀ نه وي نو دا ورته ووایئ چې صبا راشه. په بله ورځ هغه بیا راځي او بیا هم تاسو ورته وایئ چې صبا راشه. او بیا په بله ورځ هغه سحر وختي راځي د پاره د دې چې تاسو بهر لاړ نۀ شئ.

خدای پاک د دا قسمه رویئ نه نفرت کوي. اصلي ایمانداري په عمل کښې هره ورځ ښکاره کیږي.

یو عیسائي مالک له د خپلو ملازمانو په هکله داسې قدم پورته کول پکار دي چې د انصاف نه ډک وي. د خدای پاک په وړاندې نه څوک لوی دی او نه یو لاندې. نو مالک له د خپلو نوکرانو سره هم هغه شان سلوک پکار دی کوم چې هغه د ځان د پاره غواړي.

د نورو سره تل داسې کوئ

**لکه څنګه سلوک چې تاسو د ځان د پاره غواړئ.**

(متی ۷: ۱۲)

**ای مالکانو! تاسو هم د هغوئ سره دغه شان سلوک کوئ. هغوئ ته زورنې مهٔ ورکوئ. خبردار، تاسو دواړه په آسمان کښې یو مالک لرئ او هغه د هیچا طرفدار نهٔ دی.**

(خط د افسیانو په نوم ٦: ۹)

کیدی شي چې خدای پاک د سرکار په کور کښې تاسو ته یوه ستره عهده درکړي. کهٔ د حاکم په زړهٔ کښې د خدای پاک ویره وي نو په پوره ملک باندې د هغې ښهٔ اثر پریوزي. په انجیل شریف کښې داسې مثالونه شته چې ځینې خلق د سرکار په کور کښې په سترو عهدو باندې وو او په خدای پاک ئې هم ایمان ساتلو. متي ۸: ۵- ۱۳ پورې آیاتونه او اعمال د رسولانو لسم باب ولولئ.

په هر یو ایماندار باندې چې د سرکار په کور کښې په سترو عهدو دي. د خپلو حکمرانو په هکله ذمه واریځ شته دی. په دې هکله باندې د صفا تعلیم د پاره د رومیانو په نوم خط ۱۳ : ۱- ۷ پورې آیاتونه ولولئ.

په هر یو ایماندار باندې د سرکار په کور کښې په سترو عهدو دي. د خپلو حکمرانو په هکله ذمه واریځ شته دی. په دې هکله باندې د صفا تعلیم د پاره د رومیانو په خط ۱۳: ۱- ۷ پورې آیاتونه ولولئ. په مختصر طور باندې په حاکمانو او د سترو عهدو لرونکو کښې د یو ایماندار ذمه واري دا ده چې هغویځ د ملک د قانون پابندوي، ټیکس ورکړي او د حکومت د پاره دعا وکړي.

**نو بیا زهٔ د ټولو نه اول دا نصیحت کوم چې غوښتنه، دعاګانې، شفاعت او شکرونه دې د ټولو خلقو د پاره کول شي، د بادشاهانو او د ټولو لویه مرتبو خاوندانو د پاره چې مونږ پوره په دینداریځ او سنجیدګیځ سره په قلاره ژوند تیرول غواړو.**

**(اول خط د تیموتیوس په نوم ۲: ۱- ۲)**

کیدی شي چې په تاسو کښې ځینې کسان دا سوچ کوي چې اوس عیسائي شوې یم نو ځکه زهٔ خپل کاروبار جاري ساتلې نهٔ شم. خدای پاک چې څنګه یو کار عیسایانو له مناسب دی نو هم

هغه شان کار به درله درکړي. بې شکه چې تاسو خو رشوت نۀ اخلئ او خدای پاک هم د رشوت په هکله ډیر سخت حکم ورکوي او فرمايي:

تۀ رشوت وانۀ خلې

ځکه چې رشوت بینا سترګې ړندې کوي

او د صادقانو خبرې تمبوي.

(خروج ۲۳: ۸)

مجرمان رشوت خوري د پاره د دې چې د عدالت لارې ورانې کړي.

(متلونه ۱۷: ۲۳)

کۀ چیرې ستاسو کاروبار داسې وي چې رشوت په کښې اخیستلی شي نو بیا ستاسو دا کاروبار داسې دی چې دا غلط دی. د حضرت یشعیاه نبي په صحیفه ۳۳: ۱۵ کښې دا خودنه شوې ده چې مونږ په خپل کاروبار کښې څنګه بې قصوره پاتې کیدی شو. خپل اختیار په غریبانانو باندې د ظلم د پاره مۀ استعمالوئ او مۀ رشوت اخلئ او مۀ د هغو خلقو سره ملګرتیا کوئ کوم چې د قتل او د بدو خبرو منصوبې جوړوي.

دا خبره بلکل یقیني ده چې ستاسو د ایمانداریٔ نه چې کله ټول خلق خبر شي نو بیا ستاسو شهرت قایم پاتې کړی شي او ستاسو د کاروبار بریښنا به پورته شي. کۀ تاسو پوهېږئ چې تاسو خپل کاروبار هغه شان نۀ شئ چلولې لکه څنګه چې په عیسایانو باندې فرض دي نو تاسو په دې هکله خدای پاک ته خواست وکړئ چې هغه ستاسو د خپلې مرضۍ په مطابق په نوي کار کښې رهنمایئ وکړي ځکه چې داسې کاروبار د کوم په سبب چې د خدای پاک نه محرومه پاتې کیږئ دا غوره دي چې تاسو هغه کاروبار پرېږدې. په انجیل شریف کښې خدای پاک دا خودنه کوي او فرمائي

**کۀ یو بنیادم د خپل ځان په بدل کښې ټوله دنیا وګټي نو څۀ ئې وګټل؟**

(مرقوس ۸: ۳۶)

# ستاسو روحاني خدمت

ایماندار له پکار دي چې خپل ژوندون په داسې انداز کښې تیر کړي چې د تبلیغ نه خالي نۀ وي. عیسائي ایماندار ته خدای پاک خاصې ذمه واریٔ هم ور په غاړه کړي دي لکه هغه دې د خپل کور مشر وي او د خپل کور روحاني او دغه شان نورې ذمه واریٔ

دې پورته کړي او ورله پکار دي چې د خپل خاندان هر يو ضرورت پوره کړي. په دې هکله تاسو دا آيت ولولئ

**کۀ څوک د خپلوانو او خاص د خپلې کورنۍ خيال نۀ ساتي نو هغه د خپل ايمان نه منکر او د بې ايمانۍ نه هم بد دی.**

**(اول خط د تيموتيوس په نوم ۵: ۸)**

دغه شان کۀ يو ايماندار په وفادارۍ سره خپلې ذمه وارۍ تر سره کوي نو هغه د مسيح په هکله ډيره ښۀ ګواهي ورکولی شي او د ګواهۍ ور کولو موقعې به هم په لاس ورشي.

د خپل روزګار نه پس هغه د خلقو په کورونو کښې د انجيل شريف په هکله تعليم ورکولی شي يا د مقدس کتاب د مدرسې د طالب علمانو مدد هم کولی شي.

خدای پاک ښځو ته هم ځينې ذمه وارۍ ور په غاړه کړي کومې چې هغوئ له پوره کول پکار دي. هغوئ له نۀ دې پکار چې د ګواهۍ ورکولو په غرض د هغه ذمه وارو نه ځان بچ کړي خو هغه فرايض څۀ دي؟

هغې له د خپل کور انتظام ډير په خيال سره کول پکار دي. هغې له په خپل کور کښې يو داسې ماحول پيدا کول پکار دي چيرته چې اطمينان او سکون وي او صفايۍ، خوشحالي او مينه

وي. په دا قسمه کور د ټولو نه غوره ګواهي ده کومه چې هغه د یو غیر ایماندار په وړاندې ورکولی شي.

هغې له پکار دي چې د خپلو بچو ښهٔ تربیت وکړي هغې له د خپل خاوند سره په شریکه د مالک په طریقو د هغوئ نصیحت او تربیت کول پکار دي. (خط د افسیانو په نوم ۶ : ۴). حالانکې دا د ښځې او خاوند دواړو ذمه واري ده خو بیا هم د ماشومانو سره زیاته مور په کور کښې وي نو په سبب د دې زیاته ذمه واري د مور په اوږو باندې راځي. هغې له پکار دي چې په خپل کور کښې ماشومانو ته کارونه ورکړي.

ماشومانو ته د عیسایانو د اصولو تربیت ورکول پکار دي. دا خو یوه ډیره د افسوس خبره ده چې ستړې ستومانه مور په کور کښې جارو هم وهي او جامې وینځي، ډوډئ هم پخوي او بیا اوبهٔ هم راچلوي او ماشومان هسې اخوا دیخوا کیږي او د مور مدد نهٔ کوي. پکار دي چې ماشومانو له په کور کښې څهٔ نه څهٔ کار چې هغه ئې کولی شي ورکړي. په کور کښې هر یو کس ته څهٔ ذمه وارئ ورکول پکار دي او خپل کار په ښې طریقې سره تر سره کړي. خبره خو دا ده چې په خپل کار کښې سستي ونهٔ کړي او زر او په ښې طریقې سره ئې تر سره کړي. چې په کور کښې ټول په شریکه کار کوي نو کار زر ختمیږي او بیا ټول آرام کولی شي. چې داسې وشي نو مور پلار په دې هکله د خپلې خوښې کارونه کولی شي.

ځيني مور او پلار داسې دي چې هغوئ ټوله ورځ په ماشومانو باندې کار کوي. دا صحيح طريقه نۀ ده ځکه چې ماشومانو له د لوبو کولو د پاره وخت ورکول پکار دي. ځيني مور او پلار وائي چې زمونږ بچې دې صرف سبق وائي د کور کار به مونږ پخپله کوو. خو دا صحيح هم نۀ ده ځکه چې ماشومانو ته په کور کښې خپلې ذمه وارئ ور ښودل پکار دي.

## ستاسو وزګار وخت

ستا ټول وخت په خوراک څښاک يا په کار کولو يا په خوب کښې يا د خدای پاک په خدمت کولو کښې نۀ تيريږي. د يو ايماندار د پاره هغه وخت څنګه تيرول پکار دي کوم چې بچ کيږي؟ د عيسائيت ژوندون د خوشحالئ ژوندون دی. حضرت داؤد نبي فرمائي:

**ستا په حضور کامله خوشحالي ده.**

(زبور شريف ۱۶: ۱۱)

مالک عيسی مسيح فرمائي.

**او زۀ دې له راغلی يم چې خلق ژوندون ومومي او ډير يئ ومومي.**

(يوحنا ۱۰: ۱۰)

په کومو کارونو کښې چې تاسو مصروف يئ کۀ چيرې د هغې کول ګناه نۀ وي يا ستاسو د بدن د پاره نقصاني نۀ وي نو خدای پاک د هغې نه خوشحاله دی. ډير داسې کارونه شته کوم چې ښۀ دي او کولی هم شي لکه سندرې ويل، ساز غږول، لوستل، ليکل، لوبې کول، د دوستانو سره ملاوېدل. مېوې او ګلاب لګول، سيل کول يا د سيل د پاره تلل. د خدای پاک د دې کائناتو مشاهده او داسې نور ډير کارونه.

خدای پاک:

**د مزو د پاره مونږ له ټول څيزونه ډير زيات راکوي.**

(او خط د تيموتيوس ٦: ١٧)

کيدی شي چې تاسو دا سوچ کوئ چې اوس تاسو ايماندار يئ نو آيا تاسو سنيما ته تلی شئ يا نۀ؟ مقدس کتاب دا نۀ وائي چې په سنيما کښې فلم مۀ ګوره. ځينې فلمونه داسې دي کوم چې ډير ښۀ دي چې د هغې نه درته د دنيا په هکله پوره معلومات حاصليږي. خو داسې فلمونه هم شته کوم چې تاسو د ګناه د پاره لمسوي او اخلاقي هم نۀ وي. ځينې خلق د فلم نه د قتل کولو طريقې زده کوي. مخکښې د دې نه چې تاسو خپلې پېسې په فلم باندې خرچ کړئ د پولوس رسول دا خبرې يادې وساتئ. هغه فرمائي:

**نو اوس ای وروڼو! څومره خبرې چې رښتیا دي او څومره خبرې چې د شرافت دي او څومره خبرې چې واجبي دي او څومره خبرې چې پاکې دي او څومره خبرې چې مینه ناکې دي او څومره خبرې چې ښایسته دي غرض دا چې کومې د نیکئ او د ستاینې خبرې دي په هغو غور کوئ.**

(خط د فیلیپیانو په نوم ٤: ٨)

مقدس کتاب د ژوندون د تیرولو د پاره مونږ ته دومره اوږدۀ فرایض نۀ ښائي چې ږنې دا وکړه او دا مۀ کوه. هلته لاړ شه او دلته لاړ نۀ شي، دا کوه او دا مۀ کوه. د دې فرضو د ښودلو یوه وجه ده، هغه دا چې حالات ټول یو شان نۀ وي. د فلمونو نه یو ښۀ مثال جوړیږي. ځینې فلمونه ډیر ښۀ او اخلاقي دي خو ځینې ډیر خراب دي. اصل خبره دا ده چې په ټولو حالاتو کښې د خدای پاک کلام ستاسو د ژوندون رهنمائي کوي یاد ساتئ چې کۀ مقدس کتاب یوې خبرې ته ګناه وائي یا یو څیز ستاسو د بدن د پاره نقصاني وي نو د هغې کول ناجایزه دي. خو هغه خبرې د کومو په هکله چې مقدس کتاب خاموشه وي نو د هغې په هکله دا لاندینې اصول به ستاسو د پاره غوره وي او تاسو د دې په مطابق د خپل ځان نه دا لاندیني سوالونه وکړئ:

## الف : آیا د دې کار کولو سره به د خدای پاک شان څرګند شي؟

نو بیا چې تاسو څۀ خورئ یا څښئ یا کوئ،
هر څۀ د خدای د جلال د پاره کوئ.

(اول خط د کورنتیانو په نوم ۱۰: ۳۱)

## ب: آیا د کار د مالک د پاره کیدی شي؟

تاسو هر څۀ چې کوئ د زړۀ په مینه ئې کوئ
لکه چې دا تاسو د مالک د پاره کوئ نۀ چې د بني آدمو د پاره.

(خط د کولوسیانو په نوم ۳: ۲۳)

## پ : آیا تاسو د دې د پاره د خدای پاک شکر کوئ؟

هر څۀ چې تاسو کوئ کۀ تاسو خبرې کوئ یا څۀ کار هغه ټول د مالک عیسی په نوم ئې کوئ او د هغۀ په وسیله د خدای پاک شکر کوئ.

(خط د کولوسیانو په نوم ۳: ۱۷)

ت: آیا دا کار چې زهٔ کوم دې سره د غلط قسمه خلقو هم تعلق شته؟

څوک چې په مسیح ایمان نهٔ لري د هغوئ سره په جغ کښې مهٔ ځئ.

(دویم خط د کورنتیانو په نوم ٦: ١٤)

ح: آیا تاسو د هغه کارونو د انجام نه هم خبر یئ؟

سړی چې څهٔ کري هم هغه به ریبي.

(خط د ګلتیانو په نوم ٦: ٧)

ج: کوم کار چې تهٔ کوې هغه به د نورو ایماندارو د روحاني ترقئ د پاره د تباهئ سبب خو نهٔ جوړیږي؟

خو پام کوئ، داسې نهٔ وي چې ستاسو آزادي په ایمان کښې.د کمزورو د پاره د ټیندک باعث نهٔ شي

(اول خط د کورنتیانو په نوم ٨: ٩)

خ: هر کله چې مسیح دې دنیا ته دوباره راشي نو آیا تاسو به هغه وخت هغه کار کول غواړئ؟

تاسو هم تیار اوسئ چې ابن آدم به په داسې وخت راځي چې ستاسو به په وهم او گمان کښې هم نۀ وي.

(متي ۲٤: ٤٤)

# سوالونه

۱- د خدای پاک د کار په هکله دې نظریه څۀ ده؟

---

---

۲- یو ایماندار له کار څنګه کول پکار دي ؟

---

---

۳- یو ایماندار له د خپلو ماتحتو سره څنګه سلوک کول پکار دي؟

---

---

۴- یو ایماندار له رشوت ولې نۀ دي اخیستل پکار؟

---

---

۵- د سرکار په هکله د ایماندارو ذمه وارئ څۀ دي؟

---

---

۶- د خاوند د خپل خاندان د پاره ذمه وارئ څۀ دي؟

---

---

۷- د ښځې د خپل خاندان د پاره ذمه وارئ څۀ دي؟

---

---

۸- سړی چې خپل کار هم کوي او ورسره د مسیح په هکله ګواهي هم ور کوي دا څنګه کېدی شي؟

---

---

۹- یوه ښځه چې خپل کار هم کوي نو د کار سره هغه د مسیح په هکله څنګه ګواهي ورکولی شي؟

---

---

۱۰- هغه کوم قسمه سوالونه دي کوم چې یو ایماندار د خپل ځان کولی شي او دا خبره معلومولی شي چې د هغۀ فلانکې کار د خدای پاک خوښ دی یا نۀ؟

---

---

# اووم باب
# خپل نعمتونه

## د خدای پاک د پاره وقف کول

### ستاسو پیسې

هر څۀ چې هم له تاسو سره دي هغه د خدای پاک د طرف نه بخښنه ده. ستاسو ژوندون، صحت، وخت، دولت، جائیداد، دا ټول د مالک د طرف نه دي. په حقیقت کښې دا ټول هم د خدای پاک دي. خدای پاک فرمائي:

سپین زر زما دي او سرۀ زر زما دي.

(حجي ۲: ۸)

د ځنګل هر یو ځناور او د زرګونو غرونو څاروي هم زما دي.

کۀ چیرې زۀ وږې وم ما تاسو ته نۀ ویل

ځکه چې دنیا او هم د هغې ډکوالی هم زما دی.

(زبور شریف ۵۰: ۱۰، ۱۲)

ډېر خلق داسې دي کوم چې دا خبره بلکل هیروي چې هر څۀ چې د هغوئ سره دي هغه اول هم د خدای پاک دي. خپل ټول وخت په دولت ګټلو، په نوي څیزونو اخیستلو کښې، په مکانونو جوړولو او په خایسته خایسته جامو اچولو کښې تیروي. په جائزې طریقې سره پیسې ګټل څۀ ګناه نۀ ده او نۀ د دې څیزونو اخیستل ګناه ده. کۀ چیرې وس دې وي نو صحیح ده خو بیا هم د ځلیرشت ګېڼتېو نه زیات تر لاسه کولو کوشش مۀ کوه او په دې پسې فکر مند کیږه مۀ.

کۀ د یو سړي سره ډېر زیات مال هم وي

خو دولت د هغۀ ژوند نۀ شي زیاتولی.

(لوقا ۱۲: ۱۵)

ځکه چې د زرو دوستي د هر قسم بدئ یو بیخ دی د هغې په خواهش ځینی د ایمان نه ګمراه شول او خپل زړونه یئ په قسم قسم غمونو غلیل کړل.

(اول خط د تیموتیوس په نوم ٦: ۱۰)

د پیسو په هکله په یوه بله خبره غور کول هم ضروري دي. ځینی خلق قرض اخیستل بد نۀ ګڼي. داسې څرګندیږي چې هر یو

کس د خپل مالک قرض داری دي یا خو د دکاندارانو سره کاته خلاصوي او قرض سودا ترینه وړي. هر یو کس داسې کوي. نو آیا په دې سبب داسې کول صحیح دي؟ د لږې شیبې د پاره په دې خبره باندې غور وکړئ. کۀ فکر وکړئ نو عقل به درته جواب درکړی چې قرض اخیستل پاکل توب دی. کۀ چیرې یو کس په دې میاشت کښې بې د قرضو اخیستلو نه ګذاره نۀ شي کولی نو په بله میاشت کښې به د قرض په باوجود څنګه ګذاره وکړی شي؟ مقدس کتاب مونږ ته دا ښائي:

**په خپلو کښې د محبت نه بغیر په بل هیڅ څیز کښې هم د چا پور په ځان مۀ ساتئ.**

(رومیان ۱۳: ۸)

خدای پاک هیڅ کله هم دا نۀ غواړي چې مونږ دې قرضداري یا د دوکاندار غلامان جوړ شو. کیدی شي چې په دې وخت کښې تاسو ته د زیاتې قرضې د ادا کولو ضرورت وي. د هغې د پاره تاسو څۀ کولی شئ؟ دا اندازه د ځان سره ولګوئ چې تاسو څومره پیسې ورکولی شئ. کیدی شي چې د نوکرئ نه علاوه تاسو نوره هم څۀ مزدوري وکړئ د پاره د دې چې دغه قرض واپس کړئ. ځینې خپل داسې عادتونه به پریږدئ چې د کومو په سبب ستاسو خرچه فضول کیږي لکه سګرټ، نسوار، یا داسې نور.

د خدای پاک نه خواست وکړئ چې هغه درته د قرض د ادا کولو چل وښائي او وسره دا هم خواست وکړئ چې خدای پاک درته داسې قوت درکړي چې په دوباره قرض د چا نه وانهٔ خلئ. دا خو درته معلومه ده چې تاسو هره میاشت یا په کار کښې یو ځل د ماشومانو د پاره کتابونه، د سکول جامې، فیسونه او دغه شان په نورو ضروري څیزونو باندې به خرچه کوئ. نو د دې د پاره داسې کوئ چې هره یوه میاشت لږې لږې شان پیسې د دې د پاره بچ کوئ د پاره د دې چې په موقع باندې قرضه وانهٔ خلئ. دا کوشش کوئ چې د دغې زیاتې خرچې د پاره کومه چې په تاسو ناڅاپي راځي لږې لږې پیسې خامخا بچ کړئ. داسې پیسې سمبال کیږدئ چې ورکې نهٔ شي. په دې اوسنئ زمانه کښې خلق پیسې په بینک کښې جمع کوي.

د خپلو پیسو بجت ډیر په خیال سره وکړئ. مونږ ستاسو د رهنمایئ د پاره یوه نقشه جوړوو خو بیا هم هر کس دې د خپلو حالاتو په مطابق خپل بجت وکړي. اول چې د ځان سره دې سوچ وکړئ چې ستاسو به په جامو، په خوراک او په تعلیم څومره خرچه راځي. د هغې نه پس په پاتې پیسو باندې خپله ګذاره وکړئ او کهٔ بجت کړی شوی رقم په بیلو بیلو لفافو کښې واچوئ نو دا به د ټولو نه ښهٔ وي.

## بجت

د خدای پاک د پاره شکرانه _______________

کرایه _________________

د خوراک د پاره _________________

د کور خرچې _________________

د سکول فیسونه _________________

د جامو د پاره _________________

## ټوله خرچه ____________________

کۀ چیرې په ښۀ خیال د دې پورتنۍ نقشې په مطابق خپل بجت جوړ کړئ نو یقین لرم چې ستاسو ټولې مسئلې به حل شي. کۀ بیا هم ستاسو خرچه نۀ پوره کیږي نو د خدای پاک نه دعا وغواړئ د پاره د دې چې هغه ستاسو د مالک په زړۀ کښې د تنخواه زیاتولو خیال واچوي یا د خدای پاک نه د ښۀ کار په ملاوېدو کښې د مدد د پاره خواست وکړئ.

خدای پاک د دې ټولو خبرو په هکله فکر مند وي. هغه په دې خبره نۀ خوشحالیږي چې د هغۀ بچي دې وږې وي یا چې لکه د

فقیرانو په شان خیر وغواړي. خدای پاک د مالي مسئلو په هکله علاج ښودلی دی.

هغه فرمائي:

**تاسو د هر څهٔ نه اول د خدای پاک**

**د بادشاهئ او د هغهٔ د ربښتیوالی لټون کوئ**

**نو هر څهٔ به تاسو ته په خپله حاصل شي.**

(متی ٦: ٣٣)

په خپل ژوندون کښې خدای پاک ته اوله رتبه ورکړئ. هغهٔ ستاسو د ضرورتونو د پوره کولو لوظ کړی دی. خو د دې دا مطلب هیڅ کله هم نهٔ دی چې تاسو چې څومره وس رسی زیات څیزونه تر لاسه کړئ. ځکه چې مقدس کتاب فرمائي:

**او څهٔ چې درسره دي په هغې صبر کوئ.**

(خط د عبرانیانو په نوم ١٣: ٥)

**دینداري د قناعت سره ډیره د ګټې ذریعه ده.**

(اول خط د تیموتیوس ٦: ٦)

## شکرانې او نذرانې

خدای پاک غریب نهٔ دی او نهٔ ورته زمونږ د پیسو ضرورت شته. خو بیا هم خدای پاک خپلو منونکو ته دا عزت ورکړی دی چې هغوئ په خپلو پیسو کښې د خدای پاک کار کښې حصه دار جوړیدی شي. اوس به مونږ د دې موضوع په هکله د مقدس کتاب په تعلیم باندې غور وکړو.

## الف : شکرانې او نذارنې دې څوک ورکړي؟

د دې سوال جواب خو ډیر ساده دی ځکه چې کوم سړی چې نذارنې وړاندې کوي نو هم خدای پاک ته ئې ورکوي. دا د عبادت یوه طریقه ده. هر هغه کس کوم چې د مالک عیسی مسیح سره مینه ساتي هغهٔ له پکار دي چې د مالک برخه وباسي.

**هر سړی ته چې څنګه برکت خدای ورکړی وي د خپل وس په مطابق دې وکړي.**

(استثنا ۱٦ : ۱۷ )

**د هفتې په وړومبئ ورځ په تاسو کښې دې هر څوک د خپلې ګټې په مطابق د خپل ځان سره څهٔ جمع کړي.**

(اول خط د کورنتیانو په نوم ۱٦ : ۲ ).

کیدی شي چې د چا په زړۀ کښې راشي چې هغه خو ډیر زیات غریب دی او په دې سبب هغۀ له ورکول ضروري نۀ دي. مالک المسیح یو مثال ورکړو. په مرقوس ۱۲ : ۱۴- ۴۴ پورې آیاتونو کښې مالک المسیح چندې ورکولو والو ته کتل. هغۀ د یوې کونډې ښځې صفت وکړو. هغې صرف یو څو دمړۍ ورکړې خو بیا هم د هغې سره چې څۀ هم دغه ټول وو.

## ب : مونږ له څومره ورکول پکار دي؟

په زړۀ لوظ نامه کښې یهودیانو ته شریعت ورکړې شوی ؤ چې په کښې ورته فرمایلی شوي وو چې هغوئ دې د خپلی ګټې لسمه برخه خدای پاک ته ورکړي.

**د زمکې د پیداوار ټوله شکرانه، کۀ هغه د زمکې د تخم وي یا د ونو د مېوې د مالک دي.**

(اخبار ۲۸: ۳۰)

د حضرت موسیٰ په وخت کښې به د خدای خلقو د هر یو څیز شکرانه مالک خدای ته ورکوله. اوس فرض کړه کۀ یو سړی په مالک عیسی مسیح باندې ایمان راوړي او هغه ئې قبول کړی وي او د خدای په جماعت کښې شامل شو نو اوس نو آیا هغه به مالک عیسی مسیح ته لسمې برخې نه کم ورکړي؟ نه هیڅ کله هم نه!

ځکه چې هغهٔ ته دا معلومه ده چې خدای پاک دومره څهٔ هغهٔ ته ورکړي دي يعنې خلاصون، خوشحالي او اطمينان او داسې نور. نو په دې سبب هغه نوی ايماندار کۀ هر څومره هم ورکولی شي خو خامخا به خدای پاک ته ورکول غواړي. نو د دې په سبب په انجيل شريف کښې د شکرانې ور کولو هيڅ حکم نشته.

دا مو يقين دے چې خدای پاک تاسو ته مختلف برکتونه درکړي دي. په دې سبب به چې تاسو څومره زيات ورکولی شئ ورکوئ. تاسو به خدای پاک ته د فرضو په طور يا د شريعت په سبب نۀ ورکوئ خو د خدای پاک د هغې مينې په سبب به ورکوئ کومه چې هغه لۀ تاسو سره ساتي.

تاسو ويړيا ومونդل او ويړيا ئې ورکوئ.

(متي ۱۰: ۸)

او هر چا چې څومره په زړۀ کښې مقرر کړي دي،

هومره به ور کوي

او نۀ په مجبورئ او نۀ د فرض په طور ځکه چې خدای په

خوشحالئ ورکوونکي سره مينه لري.

(دويم خط د کورنتيانو په نوم ۹: ۸)

## پ: شکرانې کله ور کول پکار دي؟

د اعمال د رسولانو ۲۰ : ۷ د مطالعې نه دا خبره ښکاره کیږي چې ایماندار به د هفتې په وړومبۍ ورځ د عبادت د پاره جمع کیدل، او د اول خط د کورنیتانو په نوم ۱۶ : ۲ نه دا خبره ملاویږي چې د هفتې په وړومبۍ ورځ یعنې د اتوار په ورځ د خدای په حضور دې شکرانې وړاندې کړی شي. خو د دې دا مطلب نه دی چې بڼې د هفتې نه علاوه په بله ورځ نۀ شئ ورکولی بلکې د دې نه دا خبره ښکاره کیږي چې تاسو له په یو مخ څنده ورکول پکار دي.

د خپل ځان سره د دعا په حالت کښې دا فیصله وکړئ چې تاسو به خدای پاک ته څومره ورکوئ. کیدی شي چې داسې ویل به غوره وي چې تاسو به د خپلو ضرورتونو د پاره څومره کیږدئ. خو دا خبره یاده ساتئ چې تاسو سره هر څۀ چې دي هغه د خدای پاک دي او په دې هکله مو چې د څۀ فیصله هم وکړه هغه به پوره په پابندۍ او په وفادارۍ سره تر سره کوئ.

## ت: شکرانې دې چا ته ور کړی شي؟

شکرانې مالک خدای ته ورکول پکار دي. د نبیانو په صحیفو کښې ملاکي نبي په خلقو باندې دا الزام لګوي چې هغوئ

په شکرانو کښې د خدای پاک سره ټکي کوي. (ملاکي ۳: ۸ ولولئ.)

د انجيل شريف نه دا خبره واضيحه ده چې خدای پاک پيسې د مقامي جماعت په ذريعه ورکولی شي. اول خط د کورنتيانو په نوم ۱۲: ۱- ۲ پورې د آياتونو نه دا خبره څرګنديږي چې پولوس رسول جماعتونو ته دا خودنه وکړه چې هغوي هره يوه هفته په جماعتونو کښې چنده جمع کوي.

## ج: خدای پاک ته ورکړی شوې پيسې څنګه استعمالول پکار دي؟

په بيلو بيلو ځايونو کښې ضرورتونه مختلف وي. نو دا ايماندارانو له پکار دي چې خپلې شکرانې ورکړي چې هغه ضرورتونه پوره شي.

هغه کس کوم چې د رهنما په طور د زړۀ د اخلاصه په حقيقت کښې خدمت کوي هغه به صرف د پيسو تر لاسه کولو د پاره خدمت نۀ کوي. خو سوال دا پيدا کيږي چې هغه رهنما به د خپل کور خرچه د کومې پيدا کوي؟ د دې جواب دا دی چې کۀ چيرې هغه رهنما په کورونو ګرځي چې د انجيل شريف تبليغ خلقو ته وکړي او د ناجوړه خلقو تپوس وکړي او د هغوئ د پاره دعا ګانې وکړي نو د دې په سبب کۀ هغه په دې خدمت کښې مشغول وي نو د خپل کور

د خرچې ګټهلو د پاره به د هغۀ سره وخت د کومه راځي؟ په انجیل شریف کښې راځي:

**مزدور د خپلې مزدورۍ حقدار وي.**

(لوقا ۱۰: ۷)

پس د رهنما د خرچې د پوره کولو د پاره هم د هغې پیسو نه ضرورتونه پوره کول پکار دي کوم چې د جماعت یو غړی ئې خدای پاک ته ورکوي. د رهنما نه علاوه خدای پاک زیرې آورونکي او استاذان هم د خدمت د پاره رابللي دي. دا خلق ځای په ځای د خلاصون زیری ورکوي. دوئ خلق په ایمان کښې مضبوط کوي. خو هغوئ ته هم د خوراک څښاک ضرورت وي. هغوئ ته هم د کورنۍ او د سفر د پاره د پیسو ضرورت وي.

په دې اوسنۍ زمانه کښې په لکونو خلق موندلی شي. د رهنماؤ او زیري آورونکو او د استاذانو د پاره دا ګرانه ده چې هغوئ هر یو کس ته ورشي او ورسره ملاؤ شي. خو د دې په باوجود هم د خدای پاک حکم دا دی چې هر یو کس ته د انجیل شریف زیری واورولې شي. په دې اوسني دور کښې خو د وعظ کولو ډیرې ذریعې دي لکه د خط او د کتابچو په ذریعه، د پروګرامونو او د ریډیو او د ټیلي ویژن په ذریعه او د فلمونو په ذریعه. د دې وسیلو په ذریعه بې شمیره خلقو ته د انجیل شریف پیغام رسولی شي. خو

د دې استعمالو د پاره هم د پېسو ضرورت وي. چې کومې پېسې مالک خدای ته ورکولی شي هغه خلقو ته د انجیل شریف د پیغام په رسولو کښې استعمالول پکار دي.

د دې نه علاوه د مقدس کتاب تعلیم دا هم دی چې د هغو ایماندارو مدد دې وکړی شي کوم چې غریبان دي. په انجیل شریف کښې د دې ډېر مثالونه شته چې څنګه هغو اولنو عیسایانو د غریبانانو مدد وکړلو. د دې په باره کښې تاسو اعمال د رسولانو ۱۱: ۲۹ او دویم خط د کورنتیانو ۸: ۱- ۴ پورې آیاتونه ولولئ. یو ایماندار له په هغه برکتونو کښې کوم چې مالک خدای هغهٔ ته ورکړي دي نور هم شریک کړي او په دې عمل سره دې د خپلې مینې ثبوت ورکړي. په انجیل شریف کښې دا راځي:

**کهٔ څوک مالدار وي او خپل ورور حاجتمند وینې او بیا هم زړهٔ سواندې پرې نهٔ کوي نو هغه څنګه د خدای مینه په خپل زړهٔ کښې لري؟**

**(اول خط د یوحنا ۳: ۱۷)**

**کهٔ څوک ورور یا خور د جامو او د خوراک حاجتمند وي او بیا هم تاسو ورته دا وایئ چې په خیر لاړ شه، تود او موړ اوسه خو چې کوم څیزونه هغهٔ ته په کار وي هغه ور نهٔ کړئ نو فایده څهٔ؟**

(خط د یعقوب ۲: ۱۵، ۱۶)

## نور نعمتونه

ګرانو ایماندارانو! خدای پاک ستاسو د پاره ډیر څۀ کړي دي. آیا ستاسو په زړۀ کښې هغۀ ته د ورکولو څۀ خواهش نۀ پیدا کیږي؟ هغۀ ته صرف پیسې ورکول کافي نۀ دي. نور هم ډېر څیزونه دي کوم چې تاسو هغۀ ته ورکولی شئ. د دې خبرې د څرګندولو د پاره هغۀ خپلو مریدانو ته یوه قیصه بیان کړله. تاسو متي **۲۵**: **۱۴**- **۳۰** پورې آیاتونه ښۀ په غور سره ولولئ.

آیا تاسو په دې پوهیږئ چې د مالک عیسی مسیح د دې قیصې نه څۀ مطلب وو؟ په دې قیصه کښې مالک عیسی مسیح ښکاري. هغه لۀ ډیرې مودې نه آسمان ته تلی دی خو زر راتلونکی دی. هغه به خپل ټول خلق کوم چې د هغۀ کلام مني ځان ته راوغواړي، او په هغوئ کښې هم هر یو کس کومو چې په هغۀ باندې ایمان راوړی دی هغۀ ته به د دې خبرې جواب ورکوي چې زما په غیر موجودګئ کښې تاسو په دې زمکه باندې څۀ څۀ وکړل؟

خدای پاک په مونږ کښې هر یو کس له اهمې خوبیانې ورکړې دي کومې چې مونږ د هغۀ په خدمت کښې استعمالولی شو. لکه کیدی شي چې تاسو له د ساز غږول ښۀ درځي یا په ډیر ښۀ آواز کښې د خدای پاک حمد و ثنا کولی شئ یا دا هم کیدی

شي چې تاسو یو تعلیم یافته ځوان یئ او تاسو خپل قابلیت د خدای پاک د پاره استعمالولی شئ، خو دا هم کیدی شي چې په دنیاوي لحاظ تاسو څۀ داسې قابلیت نۀ لرئ خو بیا تاسو د نورو سره دوستي او مینه کولی شئ او دا هم یو خاص قابلیت دی.

خدای پاک چې کوم قابلیتونه مونږ ته راکړي دي هغه غواړي چې مونږ د دې استعمال وکړو. یوه ورځ به مونږ هغۀ ته دا خودنه کوو چې مونږ د دې قابلیتونو استعمال څنګه وکړو. ښه او وفاداره خادمانو ته به د دې اجر ملاؤ شی. مونږ ته خو دا پته نۀ لرِی چې دا اجر به څۀ وي خو بیا هم مالک عیسی مسیح دا لوظ کړی دی چې هغه به زمونږ د وړوکي نه وړوکي خدمت هم بې ځایه نۀ بوزي. هغه سست خادمان کوم چې د مالک عیسی مسیح د پاره خپل وخت او قابلیت پکار نۀ راولي سزا به مومي.

راځئ چې مونږ په دې هکله غور وکړو چې مونږ عیسایان څنګه جوړیږو؟ آیا تش په مالک عیسی مسیح باندي د ایمان راوړلو په سبب بس دومره او د دې نه سوا نور څۀ نه؟ تش په دې باندې مونږ د خلاصون حقداره نۀ یو. دا ضروري ده چې مونږ دغه مکمل خلاصون وګڼو او قبول ئې کړو. خو کله چې مونږ عیسایان شو نو ځینې خبرې داسې دي کومې چې مونږ له پکار دي خو بیا هم مونږ دغه کارونه د عیسائي جوړیدو دپاره نۀ کووُ. مونږ هغه له دې د پاره کوو ځکه چې مونږ عیسایان یو. مونږ هغه ښې خبرې له

دې د پاره کوو ځکه چې مالک عیسی مسیح په مونږ کښې استوګنه کوي او مونږ غواړو چې هغه خوشحاله کړو. مونږ خپلې پیسې مالک ته ورکول غواړو. مونږ خپل وخت او قابلیت هم د هغهٔ په خدمت کښې تیرول غواړو.

مونږ تاسو ته د اولنو عیسایانو د جماعتونو په هکله خودنه کړې ده. په هغوئ کښې ځیني ډیر غریبانان وو خو بیا هم هغوئ د مالک دپاره د خپل وس په مطابق ورکړلې. پولوس رسول د هغوئ په هکله دا خودنه کوي:

او باوجود د دې چې ډیر غریبان وو

هغوئ د زړهٔ د اخلاصه ډیره چنده ور کړله.

(دویم خط د کورنتیانو په نوم ۸: ۲)

خو پولوس رسول د هغوئ په هکله د دې نه زیاتې غوره خبرې ښائي. هغه وائي:

هغوئ د خپل وس په مطابق نه،

بلکې د وس نه زیات پخپله خوښه ور کوله.

او هم دا ده هغه اصل تحفه کومه چې مالک له تاسو نه هم غواړي: ستاسو پیسې. ستاسو وخت، ستاسو د قابلیت په نسبت مالک تا غواړي.

د دې د پاره ای زما وروڼو! زهٔ د خدای نعمتونه تاسو ته دریادوم او درته خواست کوم چې خپل ځانونه هغهٔ ته د داسې ژوندئ قربانئ د پاره وړاندې کړئ چې هغهٔ ته قبوله او مناسب وي او ستاسو عبادت دې د زړهٔ او پوهې دواړو له رویه معقول وي.

(خط د رومیانو په نوم ۱۲: ۱)

آیا تاسو چیرې مالک ته دا وویل چې

ای مالکه، زهٔ ستا یم

چې څنګه خدمت زما اخیستل غواړې واخله!

کهٔ چیرې نهٔ دي وئیلې نو اوس ئې ووایئ. له دې د پاره د ټولو غوره وخت هم اوس دی.

# سوالونه

۱- آیا دولت مند کیدل گناه ده؟ او کۀ دولت سره زیاته مینه کول گناه ده؟

________________________________________________

________________________________________________

۲- د قرضو په هکله زمونږ رویه څنګه پکار ده؟

________________________________________________

________________________________________________

۳- مالک له شکرانې څوک ور کړي؟

________________________________________________

________________________________________________

۴- مالک ته شکرانې کله ور کول پکار دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۵- مالک له څومره ورکول پکار دی ؟

________________________________________________

________________________________________________

۶- شکرانې چا ته ورکول پکار دي؟

___________________________________________

___________________________________________

**۷- مالک له د ورکړو شوو پیسو استعمال څنګه پکار دی؟**

___________________________________________

___________________________________________

**۸- د پیسو نه علاوه یو ایماندار مالک ته نور څۀ ورکولی شي؟**

___________________________________________

___________________________________________

**۹- مالک د ایماندارو نه د ټولو نه زیات څۀ غواړي؟** (رومیان **۱۲: ۱** ولیکئ)

___________________________________________

___________________________________________

**۱۰- خپل آمدن ولیکئ او د خپل ځان د پاره او د خپلې کورنئ د پاره بجت جوړ کړئ او دا فیصله وکړئ چې تاسو به مالک ته څومره ورکوئ؟**

___________________________________________

___________________________________________